# واده

## د ګڼ ژوند د خوږلني د ډېروالي لارښود

ځېړنه:

**اجرالدين اقبال**

# واده

## د ګډ ژوند د خوړلني د ډېروالي لارښود

ځېړنه:

**اجرالدين اقبال**

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نامه: واده
د ګډ ژوند د خوړلني د ډېروالي لارښود
څېړنه: اجرالدين اقبال
د چاپ کال او وار:
تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنګي او خپرندويه ټولنه www.andyal.com

# لړلیک


د کورودانۍ د ټاکنې کچه ........................................................ ۱۷

واده، سم کوروالی او د اولاد پر زوکړه اغېزمن لاملونه ................................ ۱۸

واده او ګټې یې .............................................................. ۲۵

یو پر بل د مېړه او ښځې حقوق او دندې......................................... ۱۱۸

د مېرمن او مېړه ګډ حقوق او دندې ........................................... ۱۱۹

د مېړه او مېرمنې ځانګړې دندې................................................ ۱۲۵

د ښځې مهر او فلسفه یې ..................................................... ۱۳۲

د مهر فلسفه................................................................. ۱۳۷

نفقه او فلسفه یې ............................................................ ۱۴۲

په اسلام کې د ښځې میراث ..................................................... ۱۴۹

اسلام او ګڼ ښځې ............................................................. ۱۵٤

د ګڼ ښځۍ شرایط .............................................................. ۱٦۰

په اسلام کې طلاق ............................................................. ۱٦۲

د طلاق د تشریع فلسفه ........................................................ ۱۷۰

د حجاب فلسفه................................................................ ۱۷۸

## واده په اسلام کې

### د واده په هکله روايتونه:

امام صادق رحمة الله عليه وايي: د ژوند پراختيا په واده کې ده.
روايت دی: پر الله تعالی ايمان نه لري، هغه چې د بېوزلۍ له وېرې واده نه کوي.
حديث: د واده والا دوه رکعته، د نه واده والا تر اويا رکعتونو غوره دي[1].

### د واده ګټې

۱_ مينه او هوساينه:
قرآن وايي: وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ[2] = او د هغه له نښو داده، چې تاسې ته يې همدا ستاسې له (جنسه) مېرمنې پيداکړې، چې ورسره ارام ومومئ او ستاسې ترمنځ يې مينه او مهرباني پيداکړه. هو، په دې (نعمت) کې انديالانو ته نښې دي.))

---

[1] (نورالثقلين تفسير)
[2] (روم/ ۲۱)

د بشر یوه اړتیا انس او ارامتیا ده او یوازېتوب د انسان لپاره ستونزمن دی؛ نو یو چا ته اړتیا لري، چې امین او غمخوار یې وي، چې ورسره انس وکړي او خپله مینه په اخلاص ترې ځار کړي او واده هغه څه دی، چې تر ټولو ښه کړای شي دا اړتیا پوره کړي او قرآن هم د واده په دې دومره ګټو کې یوازې همدې اړخ ته اشاره کړې؛ نو ښيي چې تر ټولو مهم اړخ دی[1].

---

[1] ژباړن: په عقلي او عصبي رنځونو کې د MDD Major depression disorders په نامه یو رنځ دی، چې په پښتو کې ورته "خپګان" وايي او ددې رنځ سترې نښې دادي، چې د انسان هېڅه ان ژوند ته هم ډډه نه لګي، که زدکړیال وي؛ نو د سبق د زده کړې کچه یې راټیټېږي، تل خپه وي او له چا، ان له نږدې خپلوانو سره، د خبرو حوصله نه لري، تل ژړل غواړي او په ځان کې هېښنده یوازېتوب احساسوي، ځان د ژوند وړ نه ګڼي او تل د مړینې په فکر کې وي او په دې رنځورانو کې د پرېکنده ځان وژنې کچه خورا لوړه وي او ډېری داسې نورې نښې، چې انسان له پښنو غورځوي، چې دلته مهمه خبره داده، چې د عقلي عصبي په تخصصي کتابونو کې یې لیکلي، چې ددې رنځور او همداسې د همدې رنځ له لامله، د ځان وژنې کچه په مجردو وګړیو کې خوار لوړه ده او همداسې نن چې په دنیا کې د طب ټولې برخې په دې لټه کې دي، چې د HIV او یا د AIDS د رنځ مخه ونیسي او یا درمل او یا واکسین ورته پیدا کړي؛ خو تراوسه یې بری ندی موندلی او د یادونې خبره خو داده، چې اوسمهال ان د نړۍ په ډېری پرمختللیو هېوادونو کې هم د ایډز رنځ درمل ناشونی او د ایډز پر رنځ اخته انسانان، ان د یو کوشني زکام د ټینګې هم نه دی او دلیل یې دادی، چې د HIV وایرس، د انسان د وسلوال ځواک لوی درستیز؛

یعنې CD٤ کچه راټیټوي، چې له بدنه د دفاع وس اخلي او همداسې د نړۍ پر مختلي هېوادونه او هم WHO/ د روغتیا نړیوال سازمان د ایډز رنځ په هکله خورا اندېښمن دي او که له دې لاعلاجه رنځ د ځان ژغورولو لپاره کوم کتاب او مقاله هم که ګورې او لولې؛ نو په سر کې یې ورته لیکلي وي، چې په جدي توګه ځان له نامشروعه جنسي اړیکو وساتئ؛ نو WHO او د خپل هېواد عامې روغتیا وزارت ته مې وړاندیز دی، چې د ایډز رنځ د لېږد د مخنیوي علمي لار ((و لا تقربوا الزنا)) (اسراء /٣٢) ده او بیا پخپله WHO، د اسلام د دین دا شعار چې ((پاکوالی نیم ایمان دی)) پخپله ژبه داسې ورکوي: Prevention is better then treatment؛ نو ولې په خپل شعار عمل نه کوي او د ایډز له رنځ په بنسټیزه توګه ((و لا تقربوا الزنا)) مخنیوی نه کوي. په نړۍ که هر کال د ایډز نړیواله ورځ نماځل کېږي او تبلیغاتو ته یې خورا بودجه هم لګول کېږي، چې تر اوسه دې تبلیغاتو هېڅ اغېز نه دی کړی؛ ځکه دا هر څه یوازې تبلیغاتي او پروژه ای اړخ لري، چې اړوند چارواکي خپل جېبونه پرې ډکوي؛ ګنې که واقعاً یې غوښتل، چې ددې نړیوال صحي ناورین پر وړاندې اغېزمن ګامونه پورته شي؛ نو WHO دې د اسلام صحي قوانینو ته پر ګونډو شي او باید له دې احکامو روغتیایي منشور جوړ کړي؛ ګنې هڅې شعارونه دې نه ورکوي او په لویدیځ کې پخپله هم خورا ډاکټران او ان د WHO چارواکي پوهېږي، چې د ایډز د کابو کوونې آریزه خبره په کوم ځای کې ده؛ خو هسې د اسلام پر وړاندې بېځایه تعصب راخستي او په ځغرده نه اعلانوي، چې د روغتیا لپاره تر ټولو غوره مخنیونکي قوانین، اسلامي قوانین دي؛ له WHO به تېر شو؛ ځکه خپل مو نه دي؛ خو د هېواد عامې روغتیا ته حیران یم، چې له ایډز د مخنیوي په پار، د لویدیزیانو د تبلیغاتو پیښې کوي او په خواشینۍ چې نوموړې وزارت په خپلو تبلیغاتو کې یو ځل هم له قرآني آیته او نبوي حدیثه ګټنه و نه کړه؛ ولې؟ په دې

## ۲- له گناه ژغورنه:

---

خو ټول پوهېږي، چې په صحي او هره کړلار جوړولو کې تر ټولو مهم آر، د هماغې ټولنې؛ ټولنپوهنه ده او دوی باید پوه شي، چې د افغانستان ټولنه یوه دیني ټولنه ده او که چارواکي غواړي دې ملت ته هره کړلار جوړه کړي؛ نو تر ټولو غوره کړلار ورته دیني کړلار ده او د عامې روغتیا وزارت دې د ناروغیو په مخنیوي کې له قرآني آیتونو او نبوي حدیثونو گټنه وکړي او ددې چار لپاره پکار دي، چې زموږ د هېواد هر وزارت؛ په تېره د عامې روغتیا وزارت، د دیني عالمانو سلاکاران ولري، چې په دې چارو کې یې لاسنیوی وکړي.
را به شو د عقلي عصبي ناروغیو برخې ته؛ قرآن مجردي ژوند نه خوښوي او تاسې پخپله په پورتني آیت کې ولوستل، چې قرآن د واده د انس او ارامتیا اړخ ته اشاره وکړه او زه دې ووایم، چې په همدې مجردو کسانو کې، چې د انس لپاره څوک نه لري او ورپسې د خپگان ښکار کېږي، تر ټولو ډېر د مخدره توکیو استعمال ته مخه کوي، چې ورپسې خپله کیسه لري، چې تاسې ټول پرې تر ما ښه خبر یاست؛ نو بیا هم د یو وگړي په صفت زما وړاندیز دادی، چې په ټولنه کې د اعتیاد=روږد د مخنیوي لپاره پر بنسټیزه ((اسلامي کړنلار)) کار وشي او هغه داچې په هېواد کې دې د مجردو وگړیو کچه راټیټه شي او د ځوانانو له ودونو دې په دولتي او لوړه نړیواله کچه ملاتړ وشي او په دیني ښوونو دې پر مخدره توکیو له روږدېدو مخنیوی وکړي؛ نه په لویدیزو کړلارو؛ ځکه په لویدیز ټولنه کې پخپله دومره اخلاقي فسادونه او پر مخدره توکیو روږد وگړي او ځان وژنې دي، چې ورته د هواري لار نه لري او دلیل یې هم دادی، چې د الهي قوانینو پر ځای یې خپل جوړ کړي قوانین چلوي.

رسول الله: واده نیم دین ساتي[1].
نبوي حدیث: څوک چې غواړي د قیامت پر ورځ الله تعالی په داسې حال ملاقات کړي، چې پاک وي؛ نو واده دې وکړي[2].
۳_ د بدن او روح روغتیا:
ساینس پوهان وایي: په واده ځان ارضا کول، له ډېرو روحي رنځوریو مخنیوی کوي.
٤_ د نسل پاینه:
د انسان د نسل پاینې آریزه لار واده دی او په اسلام کې د اولاد روزنه د مور و پلار دنده ده، چې د قیامت پر ورځ یې پوښتنه هم کیږي.
۵_ خپلواکي:
تر واده مخکې هلک او انجلۍ دواړه د نورو لاس ته ناست وي؛ خو چې واده وکړي؛ نو ان ډېر لټان هم په خپله د خپل لګښت په فکر کې شي.
٦_د ټولنې امنیت:

[1] (کافي ۳۲۸/۵)
[2] (النوادر راوندي، ۱۲ مخ)

په ټولنه کې هر راز جرمونه هغه کسان کوي، چې د کورنۍ له نعمته بې برخې وي.
واده د يوې ورځې کار نه دی؛ د ټول عمر کار دی؛ نو په واده کولو کې ډېر پام پکار دی:
امام صادق رحمة الله عليه وايي: ښځه لکه غاړکۍ، چې په غاړه کې يې اچوې؛ نو پام دې وسه.
*د واده په کولو کې له احساساتو کار مه اخلئ، په سړه سينه او په دې اړه د تجربې له خاوندانو سره تر سلا مشورې روسته واده وکړئ اود ډېرو کورني اړپېچونه جرړه يو د بل او کورنيو نه پېژندل او په يو ځل کتو ميينېدل دي.

## د ښه مېړه يا ښځې ځانګړنې

### دين او ايمان:

الف: قرآن وايي: ((وَلاَ تَنكِحُواْ الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ وَلاَ تُنكِحُواْ الْمُشِرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُواْ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُوْلَـئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللّهُ يَدْعُوَ إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ[1] = مشرکانې تر مسلمانېدو مه واده کوئ (که څه له مینځوو سره له واده کولو پرته مو لاس نه رسېږي؛ ځکه) مؤمنه وینځه تر (ازادې) مشرکې غوره ده، که څه هم (ښکلا، شتمني او مقام یې) ستاسې خوښ وي او مومنې ښځې مشرکانو ته تر مسلمانېدو پورې مه ورکوئ (؛ خو که اړ شوئ مؤمنو مریانو ته یې نکاح کړئ؛ ځکه) مسلمان مری تر ازاد مشرکه ښه دی. که څه هم (مال، ښکلا او شتمني یې) ستاسې خوښ وي، هغوی تاسې اور ته بولي او الله تعالی په خپل فرمان تاسې د جنت او بښنې لوري ته رابولي او الله تعالی خلکو ته خپل حکمونه په ډاګه څر ګندوي، ښايي نصیحت ومني.))

ب: امام صادق وايي: که څوک له یوې انجلۍ سره د ښکلا او شتمنۍ له لامله واده وکړي؛ نو یوازې هماغه به ورکړل شي؛ خو که څوک د الله تعالی لپاره واده وکړي؛ نو مال او جمال به هم ورکړل شي[2].

**ښه اخلاق:**

[1] (بقره: ۲۲۱)

[2] (کافي ۳۳۳/۵)

له امام رضا یو سړي مشوره وغوښته، چې له یوې داسې انجلۍ سره د واده هوډ لرم، چې ښکلې ده؛ خو ښه خوی نه لري. امام ورته وويل: واده ورسره مه کوه[1].

ښه اخلاق د ژوند خوږلنی او د کورنۍ د پرمختګ لامل دی.

**کورنۍ او اصالت:**

نبوي حديث: خلکو! پر ډېران له راټوکېدليو ګلانو ځان وساتئ. خلکو وپوښت: مراد مو څه دی؟ و يې ويل: ښکلې ښځې، چې اخلاق نه لري[2].

**زده کړه:**

پوهه د انسان لپاره کمال او د ښځې لپاره ځانګړنه ده. له لوستي انسان سره ژر تفاهم ته رسېدای شو او د راتلونکي ژوند لپاره کړلار جوړولای شو؛ البته هره لوستې د تدبير خاونده نه وي.

**روغتيا:**

روغتيا ستر الهي نعمت دی، چې د ښځې لپاره ځانګړنه ده.

روايت دی: له هغوی سره واده مه کوئ، چې ساري رنځورۍ لري.

---

[1] كافي ٥/٥٦٣

[2] (كافي ٣٣٢/٥)

**عمر يې سره انډول وي:**

د انسان حالات د عمر په بېلابېلو برخو کې توپير لري او جنسي تمايلات هم په هر عمر کې يو شان نه وي؛ نو د ښځې او مېړه ترمنځ د عمر ډېر اختلاف د ډېرو ستونزو سرچينه ده.

**حق مهر:**

١ـ سړی د خپلې ربښتينولۍ زبادولو لپاره، خپلې ښځې مهر ته ورکوي؛ نوځکه ورته صادق وايي او مهر په ژوند، تر طلاق روسته او مهر د مېړه تر مړينې روسته د ښځې ملاتړ دی.

٢ـ په اسلام کې د مهر کچه نه ده ټاکل شوې؛ خو درون مهر يې رټلی او وايي، چې درون مهر کينه اودښمني راوړي[١].

٣ـ سړي ته پکار دي، چې ژر تر ژره خپلې مېرمن ته مهر ورکړي.

٤ـ ښځه د مهر خاونده ده او څه يې چې خوښه وي، پرې کړای شي.

٥ـ روايتونه هغه سړي ته غل او زناکار وايي، چې د مهر نه ورکولو نيت ولري[٢].

**جهيز:**

---

[١] (مکارم الاخلاق: ٢٣٧ مخ)

[٢] (وسايل ١٥ /٢١)

۱_ مېږه نه شرعي او نه قانوني حق لري، چې جهيز وغواړي؛ كه څه دود دی، چې جهېز د ناوې له اړخه راوړل کېږي.
۲_جهيز د ځوانانو د هوساينې لپاره دی؛ نه وياړنې او ځان ښوونې ته.

## د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د لور؛ حضرت فاطمة الزهرا جهېز

يو كميس، يو پړونی، يو ځانپاك، دوه توشكونه، د كجورو له پاڼو د خوب كټ، څلوربالښتونه، يو پوزی، يوه لاسي مېچنه، يوه مسي كاسه، يو د څرمنې ژی، د كالو پرېمنځولو تشت، د شيدو يوه كاسه، د اوبو څښـلو يو لوښی، يوه پرده، يوه لوټه، يوه كوزه، يو فرشي پوټكی، دوه د خټو كوزې او يوه عبا.

## د فاطمې بي بي د واده او وليمې مراسم:

اسلام سپارښتنه كوي، د واده مراسم دې د خلكو په شتون كې په خوشحالۍ تر سره شي. پېغمبر اكرم صلی الله علیه و آله وسلم د بي بي فاطمې واده په جومات كې د مهاجرو او انصارو په شتون كې ترسره كړ او حكم يې وكړ، چې پر راغليو كسانو كجورې

وویشئ. د بي بي فاطمې د واده پر مهال رسول الله مبارک خپلو مېرمنو ته وویل: فاطمه سینګار کړئ، ښه عطر پرې واچوئ او کوټه یې جوړه کړئ، چې د مېړه کور ته یې ولېږو[1].
او همداراز د مهاجرو او انصارو ښځو ته یې وویل: فاطمه د خپل مېړه کور ته په خوشحالۍ ورسوئ؛ خو پام مو وي، داسې څه و نه ویاست چې الله پاک پرې خپه شي.

**پېغامونه:**

۱ـ کورنۍ او اسلامي ټولنه دنده لري، بې واده وګړیو ته واده وکړي. (**وَأَنكِحُوا**)

۲ـ په اسلام کې واده سپېڅلی او ټینګار پرې شوی دی. (**وَأَنكِحُوا**)

۳- لازمه نه ده، چې مرکه له یوه ځانګړي لوري وي، د واده هر لوری، مخکې کېدای شي. (**وَأَنكِحُوا**)

۴ـ یوازې نامحرم ته نه کتل بسیا نه دي؛ بلکې ځوانان دې واده هم وکړي. «يَغُضُّوا، يَغْضُضْنَ، أَنْكِحُوا»

---

[1] (بحار ۴۳/ ۱۳۱)

۵_ کونډو ښځو ته مړونه وکړئ. «وَ أَنْکِحُوا الأَیامی» په ((ایامی)) کې کونډې هم رانغاړلېږي.
٦_ بېوزلي دې د واده نه کولو لامل نشي. (إِنْ یَکُونُوا فُقَراءَ ... )
۷- د صالح وګړیو واده کولو ته د ټولنې اقدام، یوه هڅونه ده، چې کوڅه ډې ځوانان هم ځانونه د صالحانو په لیکه کې کړي ((وَ الصّالِحِینَ) (په دې دلیل چې له صلاحیته مراد، اخلاقي او ښوونځیز صلاحیت وي).
۸- د صلاحیت درلودل د واده شرط دی. (وَ الصّالِحِینَ)؛ یعنې دواړه اړخونه دې د ګډ ژوند د سمبالولو صلاحیت ولري.
۹-د جنسي اړتیاوو په مړولو کې، د انسانانو ترمنځ کوم توپیر نشته (ښځه، نارینه، مریی او مینزه).
۱۰_ که بېوزله یاست؛ نو پر الله تعالی توکل او واده وکړئ. «یُغْنِهِمُ اللّهُ»
۱۱- فقر او بېوزلي خو ناوې او زلمي ته څه نیمګړتیا نه ده. ((إِنْ یَکُونُوا فُقَراءَ ..))
۱۲- الله د ناوې او زلمي د ژوند د تامین ژمنه کړې ده او واده د ژوند د پراختیا لامل دی «یُغْنِهِمُ اللّهُ»

۱۳- د الهي ژمنو پوره کول، د الله د ناپایه لورنې یوه سرچینه ده. «فَضْلِهِ - واسِعٌ»
۱۴- الله تعالی، د خپلې پوهې او حکمت له مخې، خپل بندګان له ودې او پراختیا برخمنوي. «واسِعٌ عَلِیمٌ».

## د کورودانې د ټاکنې کچه

✹له ښځوسره، چې واده کېږي؛ نو له دې څلورو څیزونو، یو یکې لامل وي:
( ۱) شتمني یې ( ۲) کورنۍ یې (۳) ښکلا یې ( ٤) دینوالي یې.
ته د هغې د دینولۍ له لامله ورسره واده وکړه [1].
✹یو تن پیغمبرا کرم(ص) ته راغی او د خپل واده په هکله یې ورسره سلامشوره وکړه. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ورته وویل: واده وکړه؛ خو له متدینې ښځې سره [2].

[1] ( المعجم ۲|۱٦٦)
[2] (وسایل ١٤|۳۰)

# واده، سم کوروالی او د اولاد پر زوکړه اغېزمن لاملونه

✸خلکو! الله تعالی تاسې له (۲٤) څيزونو منع کړي ياست: (چې يو يې) مېړه دې له خپلې مېرمن سره د مياشتيني عادت پرمهال کوروالی نه کوي؛ ځکه که ښځه دوه ځانې شي؛ نو ماشوم به په جذام يا پيس اخته وي، چې يوازې ځان به پړ گڼئ [۱].

✸له نږدې خپلوانو سره واده مه کوئ؛ ځکه اولاد به مو کمزوری وي [۲].

✸د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم دا نه خوښېده، چې سړی تر محتلمېدو روسته(او تر غسل مخکې) له خپلې مېرمن سره کوروالی وکړي؛ ځکه شونې ده، چې اولاد يې لېونی وي؛ نو يوازې ځان به پړ گڼي [۳].

✸ماشوم ته د مور شيدې غوره خواړه دي [٤].

---

[۱] ( بحار ۱۰۰ |۲۸۳)

[۲] (المحجة البيضاء : ۳| ۹٤)

[۳] (وسايل : ۱٤ |۹۹)

[٤] (وسايل : ۱٥|۱۸۸ )

✹بهي وخورئ او يو بل ته يې ډالۍ ورکړئ؛ ځکه سترګې رڼوي او په زړونوکې مينه پيدا کوي او پر دوه ځانو ښځو بهي وخورئ، چې ماشوم ښکلی کوي او په بل حديث کې راغلي چې: ماشوم نېک خويه کوي [1].

✹نه ښايي څوک د هرې مياشتې پر لومړۍ شپه، نيمايي شپه او روستی شپه له خپلې مېرمن سره کوروالی وکړي؛ ځکه دا خطر شته چې دهغې شپې اولاد ناقص العقل وي [2].

✹غرمنی چې دې وخوړه او په خېټه موړ وې؛ نو له مېرمن سره دې کوروالی مه کوه؛ ځکه که اولاد دې وشي؛ نو لوڅ لغړ به وي. له خپلې مېرمن سره دې د لوی اختر پر شپه کوروالی مه کوه؛ ځکه که اولاد دې ترې وشي؛ نو څلور ګوتی يا شپږګوتی به وي. انسان ته نه ښايي د کوروالي پرمهال د خپلې مېرمنې عورت ته وګوري؛ ځکه شونې ده د ماشوم د ړوندوالي لامل شي [3].

✹څوک دې د کور والي پرمهال خبرې نه کوي؛ ځکه شونې ده، چې اولاد يې ګونګ اوکوڼ شي [4].

---

[1] (بحار: ۱۷٦\٦٣)
[2] ( وسايل ١٤ \ ۹۰ )
[3] (وسايل ١٤ \۸۵)
[4] ( وسايل ١٤ \۸۷ )

✸له مېرمن سره دې په ولاړه کوروالی مه کوه؛ ځکه دا د څارویو چار دی او که اولاد دې وشي؛ نو شونې ده، چې په توشک به متیازې کوي[1].

✸که اولاد دې وزیږېد؛ نو په ښي غوږکې ورته "اذان" او په کيڼ کې ورته "اقامه"ووايه، چې دشيطان له زيانه خوندي وي[2]

✸ماشوم مو د تي ورکولو لپاره کم عقلې او هغې ښځې ته مه ورکوئ چې د سترګو رنځوري لري؛ ځکه شيدې سرايت کوي[3].

✸په کوروالي کې د خپلې مېرمنې شرمځای ته کتل مکروه دي؛ ځکه د اولاد د ړندېدو لاملېږي. په کوروالي کې خبرې کول مکروه دي؛ ځکه د اولاد د ګونګېدو لاملېږي او همداراز تر اسمان لاندې (ازاده فضا) کوروالی هم مکروه دی [4].

✸د تازه او وچو انځرو خوړل په انسان کې د کوروالي وس زياتوي [5].

---

[1] ( بحار : ۱۰۰ \۲۸۱)

[2] (تحف العقوال : ۱۳ مخ )

[3] (وسایل : ۱۵ \۱۸۸ )

[4] ( وسایل ۲۰ \۱۲۲)

[5] (مستدرک الوسایل ۱۶\٤۰٤)

✸د سر د وېښتانو ږومنځول "وبا" له منځه وړي، روزي زياتوي او د ډېر کوروالي لاملېږي [1].

✸ښه بوی زړه غښتلی کوي او د ډېر کوروالي لاملېږي[2].

✸له خپلې مېرمنې سره د مياشتې پر لومړۍ، په پينځلسمه او د مياشتې پر روستۍ شپه کوروالی مه کوه او که څوک داسې وکړي؛ نو شونې ده اولاد يې لېونی شي[3].

✸علي! خپله ناوې دې، چې کور ته راوسته او څنګ ته دې کېناسته؛ نو پښې يې راوباسه او پښې يې ومينځه او دا اوبه يې د کور له وره بهر تو يې کړه؛ که داسې وکړې؛ نو الله تعالی به ستا له کوره د بېوزلۍ اويا زره لاملو نه لرې کړي، هغه اويا زره څيزونه به ستا کورته رانباسي، چې د برکت لاملېږي او اويا پرښتې رالېږي، چې د ناوې پر سر دې والوځي، تردې چې د کور هر کونج ته دې برکت ورسي او ناوې دې، څو په دې کور کې وي، له لېونتوب او جذامه خوندي وي او په لومړۍ اونۍ کې دې ناوې د لبنياتو، سرکې، دڼيا او تروو مڼو له خوړو منع کړه. حضرت علي

---

[1] ( ثواب الاعمال : ۲۲مخ )

[2] (قرب الاسناد : ۷۸مخ )

[3] ( الکافي ٥\٤٩۹)

(ک) رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ددې منع په اړه وپوښت؟ رسول اکرم ورته وویل: ځکه دا څلور څیزونه زیلانځ (رحم) شنډ اوسړوي او کومه ښځه، چې بچي رانه وړي، هغه پوزی ترې غوره دی، چې د کوټې په یوه کونج کې پروت وي. علي (ک) وپوښتل: ولې دې له سرکې خوړو منع کړم؟ ورته یې وویل: ځکه د سرکې په خوراک حیض پوره نه پاکیږي او دنیا په بدن کې حیض رالمسوي او زیږون سختوي او تروه منه حیض له منځه وړي او د رنځور ی لاملیږي. علي! له مېرمن سره دې د میاشتې په سر، منځ او پای کې کوروالی مه کوه؛ ځکه د ښځې او اولاد په لیونتوب اوجذامېدو کې چټکتیا راولي. علي! له مېرمن سره دې تر ماسپښین روسته کوروالی مه کوه؛ ځکه پیدا کېدونکی اولاد یې بېړنی (تلوار گرندی) کیږي او د شیطان بېړنی انسان خوښیږي. علي! له مېرمن سره دې د کوروالي پر وخت خبرې مه کوه؛ ځکه که اولاد دې وشي؛ نوگونگیږي او هېڅوک دې د کوروالي پر وخت د خپلې مېرمن شرمځي ته نه گوري او باید خپلې سترگې ښکته واچوي؛ ځکه شرمځي ته کتنه د اولاد د ړوندوالي لامل گرځي. علي! هېڅ وخت د بلې ښځې په شهوت له خپلې مېرمن سره کوروالی مه کوه؛ ځکه که اولاد رامنځ ته شي؛

نو احتمال لري چې نرښځی یا احمقه ښځه شي. علي! که څوک له خپلې مېرمنې سره د جنابت پر حال په بستره کې پروت وي؛ نو قرآن دې نه لولي؛ ځکه له دې وېرېږم، چې له اسمانه پرې اور راښکته شي او و یې سوځوي (شیخ صدوق په دې اړه وایي: احتمال لري دسجدې آیتونولوستل وي؛ نه د نورو). علي! له مېرمن سره په داسې حال کې کوروالی کوه، چې ستا او یا د هغې پر تن جامې وي او دواړه تر پردې لاندې لوڅ لغړ مه وسئ؛ ځکه ډېر شهوت ترمنځ مو د دښمنۍ لاملېږي او طلاق ته مو راکاږي. علي! له مېرمن سره دې په ولاړه کوروالی مه کوه؛ ځکه دا د"خره"کار دی اوکه اولاد دې وشي؛ نو تر مرګه به بېوزلی وي. علي! له مېرمن سره دې د اذان او اقامې ترمنځ کوروالی مه کوه؛ ځکه که اولاد دې وشي د وینو د تویولو حرص به ورسره وي. علي! مېرمن دې چې دوه ځانې او امیندواره شوه؛ نو بې اودسه ورسره کورالی مه کوه؛ ځکه اولاد به دې تنګ نظری او کنجوس وي. علي! له مېرمن سره دې د"شعبان" په نیمایي کې کوروالی مه کوه؛ ځکه اولاد به دې بدبین، بدرنګ اوپرمخ به یې رڼې وي. علي! له مېرمن سره دې د"شعبان" په دوو روستیو ورځوکې کوروالی مه کوه؛ ځکه اولاد به دې باجګیر او د ظالمانو ملاتړ به

وي او څوک به يې له لاسه يې هلاک شي. علي! له مېرمن سره دې پر بام کوروالی مه کوه؛ ځکه اولاد به دې منافق، رياکار او بدعتي وي. علي له مېرمنې سره دې دسفر پر شپه کوروالی مه کوه؛ ځکه که اولاد په دې خپله شتمني په ناسمه لار کې لګوي بيا رسول اکرم دا آيت ولوست: ((په رښتيا اسراف کوونکي دشيطان ورونه دي. ))علي! کله چې د درې شواروزو لپاره پر سفر ځې؛ نو له مېرمن سره دې کوروالی مه کوه؛ ځکه اولاد به دې ستا پر ضد د هر ظالم مرستندوی وي. علي! له مېرمن سره دې د دوشنبې پر ورځ کوروالی کوه؛ ځکه اولاد به دې د الله تعالی د کتاب حافظ شي او د الله تعالی په مقدارتو به راضي کېږي. علي! که له مېرمن سره دې دسه شنې پر ورځ کوروالی وکړ؛ نو اولاد به دې د ((لا اله – الا الله اومحمد رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم)) تر شهادت روسته، الله تعالی شهادت روزي کړي، په مشرکانو به يې ونه ځوروي او الله تعالی به هغه خوږبويه، خوږ ژبی، زړه سواند اوسخي کړي، غيبت به نه کوي، دروغ به نه وايي او تورونه به نه تپي. علي! که له مېرمن سره دې د پنج شنبې پر شپه کوروالی وکړ او اولاد دې وشي؛ نو "واکمن" يا "عالم"کېږي او که د پنجشنبې پر ماسپښين ورسره کوروالی

وکړې او اولاد دې وشي؛ نو تر زړښت پورې ورته شیطان نه نږدې کیږي او پالندوی کیږي او الله تعالی به یې د دین او دنیا سلامتي ور پر برخه کړي. علي! که له میرمن سره دې د جمعې پر شپه کوروالی وکړ اولاد به دې مشهور او عالم کیږي او که پر همدې شپه تر ماسخوتن روسته کوروالی وکړې اولا به د دې که الله تعالی وغواړي؛ نابغه شي. علي! له میرمن سره دې د شپې په لومړیو کې کوروالی مه کوه اولاد به دې شونې ده، چې کوډګر شي او دنیا پر آخرت غوره وګڼي. علي! دا وصیت مې یاد لره؛ لکه څنګه چې جبرئیل راته ویلي و او یاد کړی مې دی [1].

## واده او ګټې یې

کورنۍ، یوه کوشنۍ ټولنه ده، چې د ښځې او نارینه له یو ځای کېدو پیلیږي او د اولاد په زوکړې پراختیا او ټینګښت مومي. واده انسان ته یو طبیعي اړتیا ده، چې په نکاح تړلو رسمیت مومي.

---

[1] (الامالي للصدوق : ٥٦٦مخ، ٩٤ مجلس )

اسلام د کورنۍ جوړښت ته ډېر اهمیت ورکوي او سپېڅلی چار یې ګڼي او په احادیثو کې ډېره غوره مانۍ (بنا) ښوول شوې ده:
امام محمد باقر رحمة الله علیه له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي:
«د الله تعالی په نزد تر واده غوره مانۍ نشته[1]»
امام صادق رحمة الله علیه له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي:
« الله تعالی ته هغه کور خورا ګران دی، چې په واده اباد شي، همدغسې د الله تعالی هغه کور ډېر بدایسي چې په طلاق ړنګ شي[2]»
واده، د اسلام له ارزښتمنو دودونو څنې دی، چې رسول الله او امامانو یې پر کولو ټینګار کړی دی.
حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «واده وکړئ؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: د چا مې چې له سنتو لاروي خوښېږي؛ نو سنت مې، واده دی[3]»

---

[1] وسایل ۲۰/ ۱۵مخ.
[2] وسایل ۲۰/ ۱٦مخ.
[3] وسایل ۲۰/ ۱۷مخ.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «واده مې سنت دی او چاچې مخ ترې وګرځاوه، له امته مې نه دی[1]»

اسلام، واده یو حیواني عمل نه بولي او خپل لارویان رهبانیت او د واده پرېښوولو ته نه رابولي؛ بلکې اپوټه، د ځان تزکیه، تهذیب، پاکوالي، د ګناه پرېښوولو او د الله تعالی پر لوري ورنژدې کېدو ته یې یوه وزله بولي.

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: « د واده والا دوه رکعته لمونځ، د هغه ناواده والا تر عبادته غوره دی، چې په شپو لمانځه ته پاڅي او په ورځو روژه وي[2]»

امام صادق رحمة الله علیه له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي: «بدترین مړي هغوی دي، چې بې واده ومري[3]»

واده ډېرې ګټې لري، چې ځینې یې دادي:

**۱- د مینې وزله**

انسان په دې له اړدوړه ډک ژوند کې، مېشتېدو، ارامۍ او مینې ته اړتیا لري. داسې یو تن ته اړین دی، چې خواله ساتی، خیر خواه،

---

[1] بحار الانوار ۱۰۳/ ۲۲۰مخ.

[2] وسایل ۲۰/ ۱۹مخ.

[3] وسایل ۲۰/ ۱۹مخ.

زړه سواندی او ملاتړی یې وي، چې مینه ورسره پیداکړي او له مینې، مرستو او نړه ملاتړ یې برخمن شي. داسې یو چا ته اړمن دی، چې د ژوندشریک یې وي. په روغتیا او رنځورۍ، عزت او ذلت، خوشحالۍ او خپگان، نېشتمنۍ او شتمنۍ، سوکالۍ او تنگلاسۍ او په گردو حالاتو کې، ورته باوفا، مهربان او زړه سواند وسي.

ددې اړتیا په پوره کولو کې مېړه/مېرمن غوره تن او کورنۍ مناسب ځای دی.

الله تعالی وایي:

روم(۳۰ – ۲۱آیت:

**۲- پاکلمنۍ او له گناه خونديينې ته یوه وزله**

انسان طبعا جنسي عمل او د جنسي غريزې مړولو ته اړتیا لري، که له مشروع لارې مړه نشي، کابو کول یې ډېر ستونزمن دي او انسان بې لارۍ او گناه ته ورکاږي؛ نوځکه واده د جنسي غريزې د مړولو او له بې لارۍ د خونديني یوه غوره وزله ده.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «د چاچې خوښېږي، له الله تعالی سره سوچه پاک لیده کاته وکړي؛ نو باید واده وکړي[1]»

امام صادق له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي: «څوک چې واده وکړي، نیمایي دین یې ساتلی دی[2]»

موسی بن جعفر یې له پلرونو، له رسول الله روایتوي: «څوک چې د ځوانۍ په پیل کې واده وکړي، شیطان یې چغه وهي: اه اه! دې ځوان د خپل دین دوه برخې رانه ساتلې دي؛ نو باید په پاتې برخه کې تقوا رعایت کړي»[3]

### ۳- د بدن او اروا د روغتیا وزله:

کوروالی او د غریزې مړول یو طبیعي اړتیا ده، چې د جسم او اعصابو د سلامتۍ لامل دی او څېنه یې اعصاب خرابوي او له منځلارۍ یې وباسي. ډېری اروایي رنځورۍ (لکه خپګان، نهیلي، پرېشانۍ، ډار، بدوینۍ، پوچې انګېرنې، ناډاډمنۍ، غوسې) د

---

[1] وسایل / ۱۸مخ.

[2] وسایل ۱۷مخ.

[3] بحار الانوار ۱۰۳/ ۲۲۱مخ.

جنسي غريزې له څېنې راولاړېدای شي؛ نوځکه پر موقع واده او په مشروع لار د جنسي غريزې مړول، د بدن او اعصابو د روغتيا يو لامل ګڼلای شو.

رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم ويلي: «زلميان او پېغلې يو له بل سره واده کړئ، چې الله تعالى يې اخلاق ښه کړي او په رزق کې يې پراخي راولي او مړانه يې ورزياته کړي.[1]»

**۴- د ټولنيز چاپېريال له سلامتۍ سره مرسته:**

که وګړي په زلميتوب کې واده وکړي؛ نو په کورني ژوند پورې ورتړل کېږي او له چټي ګرځېدو او اخلاقي مفاسدو خوندي پاتېږي. په پايله کې د زنا، لواط، استمنا(موټک)، اعتياد، وژنې، جنايت او غلا په شمېر کې کمی راځي.

په موقع واده د چاپېريال په امنيت او سلامتۍ کې پرېمانه اغېز لري، له همدې لامله اسلام اولياوو او مربيانو ته سپارښتنه کوي، چې ناواده و ته د واده وزله چمتو کړي.

قرآن کريم وايي: نور (۲۴- ۳۲آيت):

---

[1] بحار الانوار: ۱۰۳/ ۲۲۲مخ.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «اولاد پر پلار درې حقونه لري: ښه نوم پرې کېدي، لیک لوست ورزده کړي او چې د ځوانۍ منګ ته ورسېد، د واده وزله یې ورچمتو کړي[1]»

### ۵- د ځوځات زوکړه او ډېرول:

اسلام د اولاد زوکړې او ډېرولو ته یې پاملرنه لري او د واده له مهمو موخو یې ګڼي. امام محمد باقر له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي: څه مانع لري چې مومن واده وکړي، ښایي الله تعالی داسې اولاد ورکړي، چې ځمکه د «لا اله- الاالله» په ویلو درنه کړي[2]»

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: واده وکړئ، چې ډېر شئ؛ ځکه په قیامت کې پر نورو امتونو درباندې ویاړم، ان په زیان شوي جنین[3]»

### ٦- خوند اخستنه:

د واده یو له مهمو ګټو، له مشروع لارې خوند اخستنه او د جنسي غریزې مړول دي. جنسي خوندونه، د دنیا له ښو خوندونو څنې

[1] مکارم الاخلاق، ۱/ ۲۵۳ مخ.

[2] وسایل ۲۰/ ۱۴ مخ.

[3] بحار الانوار ۱۰۳/ ۲۲۰ مخ.

دي او د اسلام له لید لوري، نه یوازې مذموم او رټل شوي نه دي؛ بلکې یو مشروع چار دی. که په الهي نیت او قربت وشي، ثواب هم لري او ځینې وخت واجبیږي.

واده یو سپېڅلی تړون دی، چې په څو څیزونو پلی کیږي.

(۱) د ښځې او نارینه خوښه.

(۲) د پلار یا نیکه اجازه (که نجلۍ باکره وي)

(۳) د مهر ټاکنه (که جایداد وي که نغدې پیسې یا هر مال، لږ وي که ډېر)

(۴) که په عربي پوهیږي؛ نو ښځه او نارینه یا د دوی وکیل به د نکاح صیغه وایي.

تر نکاح تړلو روسته، ښځې او مېړه وګړیز ژوند پر کورني ژوند اوړوي او نوي مسوولیتونه پیدا کوي.

# نیکمرغه کورنی

د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام

حضرت آیت الله العظمی سیدعلی خامنه ای الحسیني

په ویناوو کې

بسم الله الرحمن الرحيم

نیکمرغه کورنۍ

د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام

حضرت آیت الله العظمی سیدعلی خامنه ای الحسیني

په ویناوو کې

مخخوړ:

د کتاب نامه: نېکمرغه کورنۍ

د اسلامي انقلاب مشرتابه مقام؛ حضرت آیت الله العظمی سیدعلی خامنه ای الحسیني، په ویناوو کې

راټولونکی او اوډون: کمیته موضوعی

خپروونکی: موسسه جهادي

چاپ وار او کال: لومړی/ ۱۴۰۰

www.khamenei.ir

دغه نکاح چې د تاسې مسلمانو هلکانو او نجونو ترمنځ تړم، ان شاء الله، چې الله تعالی مبارکه کړي او تاسې ته دې الله د مړوښې ژوند او واده پر دندو د عمل کولو توفیق درکړي.

هلکان او نجونې چې یو له بل سره نکاح کوي، په خوشحالۍ د کلونو کلونو لپاره ژوند وکړي او ددې ودونو پایله دې ښې، روغې، مؤمنې او متدینې کورنۍ شي.

شاه زلمیانو، ناوو او کورنیو ته یو د نصیحت لپاره یو څو جملې وایم، روسته ترې ان شاء الله د نکاح خطبه وایم.

د نکاح دغه خطبه چې وایو، په حقیقت کې، په همدې څو کلمو، دوه پردي سره دومره وتړي، چې له ټولې نړۍ یو بل ته ډېر محرم، نږدې او لوراند شي.

دویم؛ په دې نکاح، په ټولنې کې یوه نوې حجره/ژوندینکه او خونه جوړوو، چې پخپله دا ټولنه د کورنیو له خونو جوړه ده.

البته د واده خورا مهمه ګټه، کورنۍ جوړول دي او نورې چارې فرعي، په دويمه درجه او ددې چار په ملاتړ دي؛ لکه د نسل توليد، د بشري غريزو مړول؛ دا ګرسره په دويمه درجه کې دي، کورنۍ جوړول يې په لومړۍ درجه کې دي.

د اسلام سپېڅلي شرع، واده د نارينه وو او ښځينه وو لپاره لازم چار ګڼلی؛ ځکه د بشر ژوند د کورنۍ په جوړولو راټينګ دی او د کورنۍ جوړول هم په واده پورې تړلی چار دی. نو په ټولو ولسونو، اديانو او مذاهبونو کې واده شته او دا چار يوازې په اسلام پورې ځانګړی نه دی او ټول ودونه يې هم د خپل ملت لپاره سم دي؛ نو که څوک مسلمان نه دی او مسلمان شي، د بېلګې په توګه، يو ښځه او مېړه مسلمان شي؛ نو هغه واده يې چې کړی، سم دی. اسلام د نورو اديانو تړونونه، ودونه او نښلونونه معتبر ګڼلي دي او هغوی يې ښځه او مېړه او اولادونه يې ورته حلاليان ګڼلي. نه وايي، راشئ له سره نکاح وتړئ؛ يعنې اسلام په ټولو اديانو او مذاهبو کې شوي ودونو ته درناوی کوي؛ ځکه د واده

آر، د یوې ښځې او سړي ترمنځ د ګډ ژوند لپاره شرافتمندانه تړون، په ټولو ادیانو کې یو معتبر او محترم چاردی.

د واده مراسم، دیني مراسم دي؛ مسیحیان یې په کلیسا کې کوي؛ یهودیان یې پخپلو کنیسو کې، که څه مسلمانان یې په جوماتونو کې نه کوي؛ خو که و یې کولای شي؛ نو په سپېڅلیو ځایونو او په سپېڅلیو ورځو کې یې د دیني مشرانو په سوبتیا کې کوي؛ نو پردې بنسټ، چار، کټ مټ دیني چار دی. واده یو قدسي اړخ لري؛ خو په اسلام کې په یو لړ شرایطو او احکامو ترسره کیږي، چې واده پرې پیاوړی، معتبر او ارزښتمن کړي. ښه، نو ددې مانا څه ده؟ مانا یې داده، په مازې چې موږ دې پړاو ته ورننوتو؛ نو له خپل متعال خدای او دیني ژمنو سره، له سره ژمنه کوو. د کورنۍ پیل دې، الله تعالی ته له پاملرنې سره وي؛ نوځکه د مسلمانانو د واده شپې لپاره، ځانګړي عبادي چارې، مستحبي لمونځونه او دعاووې دي.

غافل زړونو گومان کوي، چې د ناوېتوب او شاه زلميتوب پړاو، يوازې شهوت مړولو ته دی؛ يوازې د يوه نفساني شهوت د مړولو پړاو دی؛ خو حقيقت داسې نه دی. د نفساني خواهشاتو مړول، يوه طبيعي اړتيا پوره کول دي -په کار هم ده، هېڅ پروا نه کوي او ډېره ښه ده-؛ خو ان د طبيعي غوښتنونو پوره کول دې هم د الله په ياد، الله ته پاملرنې او د الله په لار کې وي. خواړه هم چې خورئ، لومړی ((بسم الله الرحمن الرحيم))وايئ، چې خواړه خوړل مو پای ته ورسېدل؛ نو ((الحمدلله)) وايئ او د الله شکر کوئ؛ نو آيا د خوړو هم بل طبيعي چار شته؟

د کورنۍ جوړول دې له الله تعالی سره بيا ژمنه کول وي؛ يعنې هغه تړون چې هر انسان يې له الله تعالی سره لري، هغه دې راياد کړي او لومړی ځای يې په واده کولو کې دی؛ نو پردې بنسټ خورا اسانه ده، چې يو څوک په همدې اقدام او کړنې، چې د طبيعت او اړتيا غوښتنه يې هم ده، ثواب هم وگټي؛ ځکه واده

سنت دی او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د سنتو او د آنحضرت د حکم د پلي کولو په پار یې کوي.

په اسلام کې د واده مسله خورا مهمه ده. که څه شرعاً په واجباتو کې نه دی راغلی؛ خو دومره هڅونه ورته شوې، چې انسان پوهېږي، چې الله تعالی پرې څومره ټینګار لري او د اهمیت علت یې هم دادی، چې واده یوه طبیعي اړتیا ده او اسلام، د انسان طبیعي اړتیاوو ته اهمیت ورکوي او باید ددغو طبیعي اړتیاوو د پوره کېدو روغه لار وټاکي او هغه واده دی.

هم سړی او هم ښځه یوه جنسي اړتیا لري، چې بې بندوباره او ایله کېدای نشي، اجازه نه ورکوي، چې پوله او برید و نه لري، یو پوله او برید غواړي او پوله او برید یې واده دی؛ نوځکه وایي : ((من تزوج احرز نصف دینه))؛ چاچې واده وکړ، نیم دین خوندي کړی. هغه نیم دین یې چې خوندي کړی، کوم یو دی؟ یو څه هماغه څیزونه دي، چې د انسان د جنسي غوښتنې له اړخ، انسان ګواښي. جنسي غوښتنې، له ډېرو دین اخلي، ډېری په

ستونزو کې ښکېلوي، بې لاروي يې او د مخنيوي لار يې همدغه ده، چې جنسي غريزه سړه شي، مړه شي او و نه ځپل شي؛ خو څنګه؟ په قاعده او قانون؛ يعنې واده. ګورئ، چې واده څومره مهم چار دی.

يوازې انسانانو ته هم ځانګړی نه دی؛ ځکه د دوو موجوداتو تړون، د ژوند غځېدا وزله ده، دا مانا په نباتاتو او په يوه بڼه کې ژارويو کې هم شته؛ لکه څنګه چې په انسان کې ده؛ خو داچې انسان د الله له لوري په عقل او اراده وياړلی دی؛ نو د هغه د واده تړون لپاره يې يو شمېر قوانين او تشريفات ټاکلي، چې دا قوانين او تشريفات د دوو موجوداتو د تړون پېښې، د دوو زړونو د نښلون او د انسانانو په ټولنيز چاپېريال کې د يوې نوې هڅې رامنځ ته کېدو ته د اهميت ورکولو لپاره دی. دغه قوانين او تشريفات يوازې په اسلام کې نه؛ بلکې ټول اديان او ولسونه، د واده لپاره، قوانين او تشريفات لري؛ البته هڅه کړې، دغه قوانين او تشريفات خورا اسان او ساده کړي.

واده ته د اسلام پاملرنه، خورا کلکه پاملرنه ده. په اسلام کې، انسانان، نجونې او هلکان هم د واده آر ته هڅېدلي، هم د نوي هلې سمبالنې ته چې د واده پایله ده او هم د مړوښې ژوند غځېدا ته؛ اسلام هر پر دريیو واړو موضوعاتو ټینګار کوي.

د واده د آر په اړه روایت شوی، چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم، یو ځوان ولید، چې د هغه ځوان ظاهر یې خوښ شو، ور غبر یې کړ او و یې پوښت: بوختیا لرې؟ و یې ویل: نه، بېکاره یم. و یې پوښت: واده دې کړی؟ ځواب یې ورکړ: واده مې هم نه دی کړی. آنحضرت مخ ترې واړو، و یې ویل: ((سقط من عینی))؛ دا ځوان مې له سترګو وغورځېد، چې هم بوختیا نه لري او بېکاره دی او هم واده نه کوي. ګورئ چې واده څومره اهمیت لري، چې سرغړونه ترې، د بوختیا نه درلودو او بې کاره په شان رټل شوی دی؛ نو واده د اسلام له نظره مهم دی.

[نو پردې بنسټ] اهمیت لري، چې د واده په اړه د اسلام نظراتو ته پاملرنه وکړو. په اسلام کې د واده په اړه، لومړی څیز دادی،

چې ځوانان دې واده ته وهڅول شي. څومره ښه ده، چې ځوانان په ټيټ عمر کې واده وکړي؛ يعنې هغه مهال چې اړتيا ورته لري؛ نه داچې ټينګار وکړو، چې ژر تر ژره. نه، هماغه مهال چې يې اړتيا ومونده، واده دې وکړي، که هلک وي که نجلۍ. مه پرېږدئ، چې ډېر عمر يې بې واده تېر شي.

پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم، ټينګار درلود، چې ځوانان -هلک وي که نجلۍ- دې ژر واده وکړي؛ البته په خپله خوښه او اراده. نه داچې نور ورته هوډ وکړي او بايد دا چار په خپله ټولنه کې دود کړو. بايد ځوانان په مناسب عمر، تر هغه چې له ځوانۍ غورځېدلي نه دي، تر هغه چې ګرم او لېواله دي، واده وکړي. دا خبره د ډېرى وګړيو د پوهېدنې پرخلاف ده، چې ګومان کوي، د ځوانۍ ودونه، خام ودونه دي او پاتېدوني نه دي. کټ مټ اپوټه. داسې نه ده. که سم وشي؛ نو خورا پاتېدونی او ښه واده به وي او په داسې کورنۍ کې به ښځه او مېړه، يو د بل ډېر خواخوږي وي.

دا هم ناسمه ده، چې ځينې د لويديځ په څېر، په پوخمنګۍ کې واده کوي او دا چار يې د بشر د فطرت او مصلحت پرخلاف دی او جرړه يې په دې کې ده، چې هغوی بې بندوبارۍ او شهوتپالنې ته مخه کړې ده.

د ځينو وارداتي فرهنګونو او تمدنونو دود، هغه څه و، چې اروپاييانو دلته راووړ، چې ځوانان دې د زده کړو تر پايه او ترڅو يې دنده نه وي موندلې، واده نه کوي. او بوختيا دې هم اداري بوختيا وي او د هغوی له نظره، دا خو بيخي مانا نه لري، چې نجونې دې له بلوغ سره سم واده وکړي. دا د اروپاييانو دود او خورا ناوړه دود دی؛ ځکه هغوی چې واده ځنډاوه، ددې لپاره يې نه ځنډاوه، چې ګروهن ول، ځوانان په ځوانۍ کې جنسي اړتيا نه لری. نه، به پشپړه توګه پوهېدل چې جنسي اړتيا شته؛ خو ګروهن ول، چې ځوانان دې خپله جنسي اړتيا، په ازاده توګه مړه کړي؛ يعنې هماغه څه چې زموږ له نظره، فساد، فسق، ګناه او د ټولنې د ړنګېدو لامل دی.

د همدې لپاره هم ول، چې د اروپايي او د اروپا پېښې کوونکې ښځه او مېړه، اړيکه، ټينګه اړيکه نه وه. پخوانيو کورنيو ته وګورئ. پنځوس، شپېته او اويا کلونو کې يوځای ژوند کاوه او چې بوډا يا بوډۍ به مړه شوه؛ نو هغه بل به يې تر کلونو وير نه ناست او ورپسې غمجن و.

مينه د واده بنسټ ډېره ده، يو د بل خواخوږي دي، له کوره بهر جنسي اړيکو ته ورمات نه شول؛ خو اروپايي ښځه او مېړه داسې نه ده او کورنۍ هلته يوه بې بنسټه ودانۍ ده. کورنۍ ټيکاو نه لري، ژر شيندل کېدونې کورنۍ ده، طلاق پکې ډېر دی، هلته چې طلاق نشته، عملاً طلاق وي؛ ښځې او مېړه خپله ځواني تېره کړې – نه وايم ټول يې؛ خو ډېر يې داسې ول او دي- بې له دې چې يو بل ته اړتيا ولري، بې لېواله واده کوي. په کورنۍ کې هم را ايسار نه شول او مازې يوې پېښې يو له بل سره يوځای کړي. هلته هسې يوه خونه يا اپارتمان دی، فيزيکي تشيال دی؛ خو کوم مانيز چار، تړښت او روحي تړون نشته؛ نوځکه هلته کورنۍ نشته.

بوډا او بوډۍ چې عمر يې تېر شوی – چې زړښت يې هم ببړنی زړښت دی، يو شېبېته کلن پکې پوخ بوډا دی-؛ نو دوی نور له ژونده خوند نه اخلي؛ زموږ شپېته کلن بوډاگان خپلې لمسيان، کړوسيان او ځينې يې کوديان شمېري، چې د کهول شمېر يې دېرشو پينځه دېرشو ته رسي؛ خو هغوی داسې نه دي؛ ځکه له پيله يې کورنۍ د مينې او يو بل ته د اړتيا پر بنسټ نه وه؛ البته نه وايم، سل په سلو کې دغسې دي يا سل په سلو کې زموږ کورنۍ ښې او په زړه پورې دي. نه، غالبه بڼه يې وايم. دلته غالبا دغسې ده او هلته غالبا هغسې ده او هماغه يې ايران او اسلامي ټولنو ته هم رانايستل. اسلام دا نه مني. بايد نجلۍ او هلک، د اړتيا په هماغه پيل ورځو کې واده وکړي او کورنۍ جوړه کړي. څه ته په تمه کېږي؟؛ نوځکه وايي: ((ان شرالناس العزاب))؛ ناوړه خلک، عزب ځوانان دي. که هلک وي که نجلۍ؛ يعنې هغه چې ښځې ته اړتيا لري يا هغه چې مېړه ته اړتيا لري؛ خو واده يې نه ده کړی. دا عزب دي؛ دوی خورا ناوړه وګړي دي.

[بله خبره داچې] واده یو ستر الهي نعمت دی او داچې هر نعمت، شکر لري او ددې نعمت شکر هم دادی، چې د واده تړون کلک وساتئ او پرېنږدئ، عوارض، خپگانونه، بېځایه نیوکې، ډېرې تا ویلې ما ویلې او بې خرته لگښتونه دا تړون او د کورنیو هغې هڅې شپشپاندې کړي، چې موږ یې نکاح تړون تړو. د نکاح په دې کلمو چې وایو یې – چې یو اعتباري چار دی- ستاسې ترمنځ یو اعتباري تړون رامنځ ته کیږي، باید د هرې نجلۍ او هلک هڅه دا وي، چې دا تړون کلک وساتي.

د ټولو موخه داده، چې دا پړاو، چې د ژوند خورا ستر پړاو دی، د دواړو لوریو په خوښۍ، روغتیا او نېکمرغۍ ترسره شي. باید تاسې پخپله مرسته وکړئ، چې داسې ترسره شي؛ نو پردې بنسټ، هغه څه چې کورنۍ بنسټ شپشپاندوي، باید ستاسې له نظره ممنوع وشمېرل شي. ځینې بې ځایه گیلې او بې ځایه تمې او قیدونه لاملیږي، چې د کورنۍ د مینې او خواخوږۍ چاپېریال رنگ شي. دغه مینه او خواخوږي په پیسو، حکمونو او دې ورته

چارو لاس ته نه راځي. هسې نه په ګيلو، خپګانونو، ډېرغوا ړيو او ډېرو تمو، په بې مينۍ او کله د نورو په لاس وهنه، دغه هڼه ځپځپاندې شي. مهمه داده، چې هم هلک او هم نجلۍ هڅه وکړي، چې د زوجيت دغه تړون کلک وساتل شي.

دا تړون څنګه ساتلی شئ؟ البته عاقل، ځيرک، د احساس او وجدان خاوندان او رښتين وګړي يې لار پيدا کوي. دا چار، پر يو بل په ډاد او مينه ترلاسه کېږي. ښځه دې پر مېړه ورتپنه نه کوي او زور دې ورسره نه غږوي؛ مېړه دې هم پر خپله ښځه زور نه غږوي او ډېرغوا ړي دې نه کوي؛ د دوو ملګرو او د دوو شريکبانو په څېر دې يو له بل سره خواخوږي وي، چې دغه هڼه خوندي پاتې شي. که هغسې عمل وشي، چې شرعي دنده ده؛ نو ان شاء الله دا تړون لاپسې نور هم سپېڅلی او بختور شي او دا چار پخپله په تاسې پورې اړه لري.

يو څېز چې واده برکتي کوي، دادی چې ښځه او مېړه وننګېري، چې د ژوند په دې نوي پړاو کې، يو د بل پر وړاندې يو شمېر

پازوالۍ او دندې لري، چې باید ترسره یې کړي؛ په دې احساس، د خپل ژوندې نوي پړاو ته ورننوځئ؛ ځکه په کورنۍ ژوند کې، ښځه او مېړه، یو د بل بشپړوونکي دي. یو یې هم، بې له هغه بله بشپړ نه دی. داسې گومان هم مه کوئ، چې یو اصل او بل فرع دی؛ د ساري په ډول: هلک اصل او نجلۍ فرع ده یا د ځینو د سلیقو له مخې، نجلۍ اصل او هلک فرع دی، نه؛ یو یې هم اصل نه دی، چې بل یې فرع شي، یو هم د بل فرع نه دی. یو د بل ترځنگ او یوځای، ددې دواړو ټولگه اصل او آر دی. نه یوازې په جنسي او شهواني چارو کې؛ بلکې په روحي، اخلاقي، دیني او د بشر د نسل غځېدا ته یو بل ته اړتیا لري. ښځه د مېړه د هوساینې تومنه ده او مېړه د ښځې د هوساینې تومنه ده. داسې نه ده، چې پر بل منت کیږدي. نه، یو یې هم پر بل منت نه لري، دوی د دروازې دوه اړخونه دي، چې که یوه یې نه وي، نیمگړې دي. جوړه؛ یعنې هغه ټولگه چې یو برخه یې، بې له هغه بلې برخې نیمگړې ده. دا د جوړې مانا ده. په دې روحیه نوي ژوند ته ورننوځئ.

وګورئ، چې دا آیت د ښځې او مېړه -په کورنۍ کې- په اړه څه وايي:

((وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا=او له نښو یې دا ده، چې همدا ستاسې له (جنسه) یې مېرمنې درپیدا کړې))[1]؛ یعنې د الهي ځواک یوه نښه داده، چې تاسې انسانانو ته یې، همدا ستاسې له نوعې، جوړه ټاکلې؛ تاسې سړیو ته یې ښځې او تاسې ښځو ته یې سړي. همنوعي مو دي. ((مِّنْ أَنفُسِكُمْ))؛ جلا نوعې نه دی، په دوو جلاوو پوړونو کې نه دي، ټول یو حقیقت دی، یو جوهر او یو ذات دی. البته په ځینې ځانګړنو کې، یو له بل سره توپیرونه لري؛ څکه دندې یې جلا دي. بیا وايي: ((لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا))؛ یعنې د بشر په طبیعت کې جوړه توب او دوه جنسي، د ژوندې د سترې موخې لپاره دي او هغه موخه، هوساینه او ارامش دی، چې تاسې د خپل مخالف جنس ترڅنګ، په کور کې دننه -مېړه د ښځې

[1] . د روم سورت، د ۲۱ آیت یوه برخه؛ ((او له نښو یې دا ده، چې همدا ستاسې له (جنسه) یې مېرمنې درپیدا کړې، چې ورسره ارام ومومئ او ستاسې ترمنځ یې مینه او خواخوږي پیدا کړه.))

ترخنگ او ښځه د مېړه ترخنګ- هوساينه وومي. سړي ته هم کور ته راتګ، د کور امن چاپېريال، ميناکه، رښتينې او لورانده ښځه د هوساينې وزله ده. د ښځې لپاره د مېړه درلودل، چې مينه ورسره وکړي او د يوې کلکې کلا په څېر ورته وي -ځکه د سړي بدن تر ښځې پياوړی دی- يوه نېکمرغي ده او کورنۍ دغه چارې، دواړو ته چمتو کوي او ورته د هوساينې او نېکمرغۍ تومنه ده. سړی د هوساينې لپاره، په کورنۍ چاپېريال کې ښځې ته اړمن دی؛ ښځه هم د هوساينې لپاره، په کورنۍ چاپېريال کې مېړه ته اړتيا لري، ((لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا= چې ورسره ارام ومومئ)) دواړه هوساينې او ارامش ته يو بل ته اړتيا لري.

خورا مهم څيز چې بشر اړتيا ورته لري، هوساينه ده. د انسان نېکمرغي په دې کې ده، چې له روحي اندېښنو او ګډوډيو خوندي وي او روحي هوساينه ولري او دغه چار، کورنۍ انسان ته ورکوي؛ هم ښځې ته، هم مېړه ته. راتلونکې غونډله يې خورا په زړه پورې او ښکلې ده. وايي: ((وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً=

او ستاسې ترمنځ يې مينه او خواخوږي پيدا کړه.)) د ښځې او مېړه سمه اړيکه دغسې وي: مودت او رحمت، د ملګرتيا اړيکه، د لورنې اړيکه، يو له بل سره مينه وکړي، يو پر بل لوراند ووسي. له تاوتريخوالي سره مينه، منلوړ نه ده؛ بې مينې لورنه هم منلوړ نه ده. په کورنې چاپېريال کې د ښځې او مېړه الهي طبيعت داسې دی، چې د ښځې او مېړه خپلمنځي اړيکه رامنځ ته کوي، چې دغه اړيکه د مينې او لورنې اړيکه ده: ((مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً)) همدغه مينه ده، چې کورنۍ يې سره تړلې دي.

ددې تړون قدر وکړئ او يو الهي نعمت يې وشمېرئ او و يې ساتئ. هرڅه چې لرئ، د الله تعالی دي: ((**وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّهِ**))[1]؛ خو دې نعمت ته پاملرنه يا بل هر نعمت ته پاملرنه، خورا اهميت لري؛ ډېری نعمتونو ته د انسان پام نه وي. ځينې چې کله واده کوي، نه پوهېږي، چې څه پېښ شوي؛ ته وا، د بل مجلس ته تللي دي. جشن او مېلمستيا، د يوې ژر تېرې خوښۍ او تازه

[1] . د نحل سورت، ۵۳ آيت يوه برخه؛ ((او هر نعمت چې لرئ، د الله له لوري دی))

هوا حکم لري. ځینې خپل واده یوه مېلمستیا ګڼي؛ خو داسې نه ده؛ واده کول، پازوالۍ رامنځ ته کوي. البته ددې پازوالیو ترڅنګ، د انسان په ژوند کې یو شمېر نعمتونه او برکتونه هم راځي، چې پازوالۍ یې خوږوي.

ځینې واده کوي او ښه مېړه یا ښځه هم مومي. ښه او خوږ ژوند هم تېروي؛ خو نه پوهېږي، چې دا چار یې په ژوند کې څومره ستر نعمت او مهمه او ټاکونکې پېښه ده. چې پوه پرې نه شول؛ نو شکر یې هم نه پرځای کوي او له هغه الهي رحمته بې برخېږي، چې د انسان د شکر پایله ده؛ نو د انسان دې پام وي، چې دا، څومره ستر نعمت دی.

ددې نعمت شکر څنګه دی؟ کله انسان یوازې په ژبه وایي: یا الله شکر او زړه یې ان له دې شکره خبر هم نه وي! دا شکر کول، یوازې د خولې خبرې دي او کوم ارزښت نه لري. که انسان دغسې دعا وکړي؛ نو خولې او شونډو به یې مخکې ولاړه نشي او الهي عرش او الهي منل کېدو ته لار پیدا نه کړي. کله انسان

حقیقتاً زړګنی شکر کوي او حقیقتاً د الله تعالی منندوی دی. دا چار خورا ارزښتمن دی؛ خو چې کله د الله تعالی منندوی شو؛ نو ددې شکر پر بنسټ کړنې، یون او دریځ هم لازمېږي. ډېر ښه، اوس الله تعالی، دغه نعمت تاسې ته درکړی؛ نو تاسې ته څه کول پکار دي؟ ډېره تمه یې له موږ نه ده کړې، اوس چې مو دغه نعمت درکړی، د بېلګې په توګه، ورشئ او پلانی درون او ستونزمن کار وکړئ، نه. ددې نعمت او بل هر نعمت پر وړاندې چې له موږ کومه تمه لري، داده، چې له دې نعمت سره ښه چلن وکړو؛ دا خو څه ډېره او بې ځایه تمه نه ده. اوس مو چې دا نعمت درکړی؛ نو غوره چلن ورسره کوئ. دا ښه او غوره چلن، په اسلام کې هماغه د کورنۍ اخلاق او د کورنۍ حکمت ټاکل شوی دی، چې په کورنۍ کې دې څنګه ژوند وشي، چې ښه ژوند شي. البته دا هر څه په کتابونو کې ویل شوي، په خولو راوړل شوي، بیا ځلي شوي، زه یې هم یو څو غونډلې درته وایم.

لومړی سپارښتنه مې داده، چې د کورنۍ جوړولو ښکارنده مهمه او ستره وګڼئ. کور ته پر شأن قایل شئ؛ چې د بې کوره انسان تصور هم نشو کولای. هر انسان کورنۍ او کورني چاپېریال ته اړتیا لري. کورنۍ د کورني چاپېریال اروا ده، چې باید اهمیت ورکړ شي، باید په دې چار کې اندنه وشي. دا پړاو د انسان په غاړه کې یو شمېر شرایط، دندې او دودونه ور اچوي او انسان یو پازوالۍ او برخمنۍ مومي؛ دا ګرسره یو د بل ترڅنګ دي. ددې پېر یوه ستره ځانګړنه داده، چې یوه نوې ټولنیزه هڅه رامنځ ته کیږي. که څه واده، ښځې او سړي ته ډېرې ګټې او برکتونه لري، د ماشوم زیږېدنه، غریزې برخمنۍ او نور ډېر څیزونه؛ خو ددې ټولو چورلیځ کورنۍ هڅه ده؛ دا یو آر دی.

نو پردې بنسټ، ستاسې د ټولو هڅه دې دا وي، چې په ټولو شرایطو کې دغه هڅه وساتئ؛ دا د ټولنې په تل بدلېدونکیو حجراتو کې د یوې نوې حجرې د ورننوتو په څېر دي. زموږ حجرې تل بدلون مومي او پرځای یې نوې حجرې راځي، چې

دا بدن ژوند پاتې شي او دویم داچې وده وکړي او مخې ته ولاړ شي؛ نو پردې بنسټ، هڅه وکړئ، دا روغه، ښېرازه او کارنده حجره د بدن ټولګې ته عزت، ویاړ او پرمختګ تومنه شي. هره کورنۍ، د ټولنې د بدن یوه حجره ده، چې کله روغه وه، چې کله دوی سمې کړنې درلودې؛ نو د ټولنې بدن؛ یعنې د ټولنې بدن به روغ وي. نه داچې که حجره روغه وه، روغتیا نورو ته هم لېږدېږي؛ یا که ناروغه وه؛ نو ناروغي به نورو ته ولېږدېږي؛ بلکې په دې مانا ده، چې که روغه شوه؛ یعنې بدن روغ دی. بدن خو بې له حجرو نور څه نه لري. هر جهاز/ غونډال د حجرو/ ژوندینکو یوه ټولګه ده. که موږ حجرات روغې کړای شوې؛ نو هغه جهاز به مو روغ وي. دا مسله دومره اهمیت لري.

که غواړئ چې دغسې وي؛ نو پر هغو ادابو او دیني بریدونو پابند وسئ، چې دین د کورنۍ لپاره ټاکلي دي. هر هغه څه ښه دي او الهي خوښي پکې ده، چې ددې ترون او نوې کورنۍ هڅې د ساتنې لامل شي او هغه چارې کړلې او رټلې دي، چې الله مه

کړه، ددې نوي تړون او هڅې د څپڅپاندۍ او له منځه تلو لامل شي او له دغسې چارو دې په کلکه ډډه وشي. واده، د ژوند د نورو بهیرونو په څېره کومه پېښه نه ده؛ دا یو پړاو دی، څو لاري ده. ځینې چې دې لار ته ورننوځي، خپلې مخې ته بېلابېل مسیرونه ویني، د خپلو حالاتو له مخې، د ښځې یا مېړه د حالاتو له مخې یا د کورني موقعیت په پار، پر سیده لار تللای نشي؛ خو ځینې پرې تللای شي. که تاسې غواړئ، پر سیده لار ولاړ شئ؛ نو شرعي موازین رعایت کړئ او کورني اخلاق، چې په سپېڅلې شرع کې ټاکل شوي، مهم وشمېرئ. لومړی یې همدغه دی، چې ددې نوې رامنځ ته شوې هڅې په قدر پوه شئ. کورنۍ د انسان د هوساینې هڅه ده. یو انسان هم د کورنۍ له درلودو پرته، هوساینه، ارام او دمه نه لري او د انسان ژوند په رښتیني خوند به پوه نشي.

هره کورنۍ، د څو انسانانو د ودې لپاره یو ځای او هڅه ده، چې د کورنیو ټولګې، د انسانانو ټولګیو ته وده ورکوي. که کورنۍ مو

ګډه وډه وي؛ نو ددې پرځای چې ماشومان په کورنۍ کې ستر شي؛ له خپلوانو او دوستانو کره به ستر شي. دا د انسان طبیعت دی او دا موجود، الله تعالی داسې پنځولی، چې له ډېری نورو موجوداتو سره توپیر لري. ځینې موجودات، الله پاک داسې پنځولي، چې اولاد، خپل مورو پلار نهویني او هغه مور و پلار، چې به اصطلاح کې هګۍ واچوله، له منځه ځي. طبیعت یې دغسې دی. ځینې حیوانات داسې دي، چې که مورو پلار ورسره وي که نه وي، غریزه او طبیعت یې ورسره دی او د خپل مورو پلار په څېر کیږي، که و یې ګوري، که یې و نه ګوري؛ خو انسان دغسې دنه دی.

الله تعالی، انسان داسې پنځولی چې زده کوونکی دی، باید ډېر ښېزونه زده کړي. دویم، د مور و پلار د ژوند په چاپېریال کې، که په مینه، محبت، ځېرنې او خواخوږۍ ورزول شو؛ نو روحي پلوه به نیمګړتیا و نلري؛ خو که هماغه کوشنیتوبه، له هغه کوشني چاپېریاله، په یوه بل ستر چاپېریال کې ولوېد؛ نو هغسې چې باید

دا غوټۍ، ګل شي، نه به ګل کیږي. دا د انسان ځانګړنه ده؛ نوځکه الله تعالی د مور و پلار په زړه کې مینه ایښې ده او په همدغه مینه د انسان اولاد وده کوي. مینه د انسان یو طبیعت دی؛ نوځکه هر اولاد هم، له خپل اولاد سره مینه لري. کومه مینه چې تاسې یې له خپلو اولادونو سره لرئ، ستاسې مور و پلار، له تاسې سره درلوده. ستاسې اولادونه به یې، له خپلو اولادونو سره لري او واده دغسې یوه ځانګړنه لري، چې کورنۍ چاپېریال جوړوي.

کورنۍ کلمه طیّبة[1] ده. د کلمه طیّبة ځانګړنه داسې ده، چې په یوه ځای کې وي؛ نو تل له ځانه برکتونه راباسي او خپل شاوخوا ته ګټه رسوي. کلمه طیّبة هماغه خیزونه دي، چې الله تعالی، له سم بنسټ سره بشر ته ورکړي دي.

[1] . د ابراهیم سورت، ۲۴ آیت ته اشاره ده؛ ((**ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرةٍ طَيِّبَةٍ**= چې څرنګه الله "پاکه کلمه" (او سپېڅلې وینا) د (داسې) پاکې (او ښه ذاتي) ونې په څېر بېلګه راوړه))

کورنۍ یوه کوشنۍ ټولنه ده، چې په پیل کې له ښځې او مېړه رامنځ ته کېږي؛ بیا د اولاد په راتګ پراختیا مومي، بیا له اولادونو، اولادونه زیږېږي او د یوې ونې په څېر څانګې او مېوې مومي. الله تعالی ددغسې کوشنیو ټولنو خوښوونکی دی.

بیخي شوني نه دي، چې اسلامي ټولنه، بې له دې چې له روغې، کارنده او ښېرازې کورنۍ ګټنه وکړي، پرمختګ وکړای شي؛ په تېره په فرهنګي چارو کې او البته په غیرې فرهنګي چارو کې هم بې د کورنیو له ګډونه پرمختګ ناشونی دی؛ نو کورنۍ ته اړتیا ده. اوس تاسې خبره بلخوا یونسئ، چې په لویدیځ کې خو کورنۍ نشته او پرمختګ شته. په لویدیځ کې د کورنۍ ړنګېدل به خپلې اغېزې راڅرګندوي، بیړه ورته مه کوئ. نړیوالې او تاریخي پېښې داسې نه دي، چې ژر به یې اغېزې او پایلې څرګندېږي، اغېزې یې سوکه سوکه دي او اوس یې هم اغېزې راڅرګندې شوې دي. په هغو ورځو کې چې لویدیځ دغو پرمختګونه ته ورسېد، لا تر اوسه پکې کورنۍ روغې وې؛ ان د جنسیت مسله، له هماغو

جنسي اخلاقو په رعایت -البته نه په اسلامي بڼه؛ بلکې په خپله ځانګړې بڼه- سره وه. که څوک له لویدیز ښوونو سره اشنا وي؛ نو دا چار به په اروپا او ورپسې په امریکا کې ووینئ. یو د بل پر وړاندې د دوو جنسونو اخلاق رعایتون، حیا، له تورونو ډډه، دا ګرسره چارې، په هغه پېر کې وې. دا بې بندوبارېانې خو سوکه سوکه، روسته رامنځ ته شوې. هغه مهال یو لړ زمینې چمتو شوې او دلته را ورسېدل او د هغوی د ننیو حالاتو پایلې هم خورا ناوړه دي.

داچې وینئ، لویدیزیان په ختیز، اسلامي او آسیایي هېوادونو کې دومره د شهوت په دود پسې راختې، علت یې څه دی؟ یو علت یې همدغه دی، چې کورنۍ ړنګول او له منځه وړل غواړي، چې فرهنګ یې کمزوری او په اسانه پرې سواره شي؛ ځکه ترهغه چې د یوه ملت فرهنګ کمزوری شوی نه وي؛ څوک یې راکابو کولای نشي، په خوله کې ورته کیسری اچولی نشي او ورسورېدای پرې نشي. د فرهنګي هویت له لاسه ورکول دي چې

ملتونه بې دفاع کوي او د پردیو په لاس کې یې بندي کوي او دښمن او ښکېلاګرو ته دا چار په ټولنه کې د کورني بنسټ په ړنګېدو اسانېږي کورنۍ چې ځپځپاندې شوه، ټولنیز اخلاق ټکني کېږي او پخواني، پایښتي او تلپاتې دودونه، چې د ټولنې د نېکمرغۍ تومنه او د ملتونو د اوږدو کلونو تجربه ده، په خورا اسانۍ له منځه ځي.

پوهېږئ، یوه ټولنه د خپلو مشرانو او حکیمانو د حکمتي اندونو پر بنسټ -که الهي انسانان لري، هغوی- یو لړ ارزښتونو ته لاسرسی مومي، دا د یوې ټولنې د ژوند بنسټ شي؛ یو شمېر تقیّدات، یو لړ څیزونه، چې کښلي یې هم نه وي؛ خو عمل پرې کېږي، یو د بل پر وړاندې پتمني/ وفاداري، یو د بل امانتساتي، دغه چارې دي چې خلک عمل پرې کوي؛ نو چې کورنۍ ړنګه شوه؛ نو دغه چارې له یوه کهوله، بل کهول ته نه لېږدول کېږي. اولاد له مور و پلاره څه نه زده کوي. ایمان نه لېږدول کېږي،

نفساني ځانګړنې نه لېږدول کېږي، چې دا یو ستر تاوان دی، چې ټولنه یې د کورنۍ د ړنګېدو په پار کوي.

بې کورنۍ ټولنه، ګډه وډه ټولنه ده، ناډاډمنه ټولنه ده. هغه ټولنه چې کهولونو ته پکې فرهنګي، اندیز او ګروهیز میراثونه نه لېږدول کېږي؛ نو دا به هغه ټولنه وي، چې په اسانۍ پکې روزنه نه کېږي. که یوه ټولنه، کورنۍ و نه لري، یا کورنۍ یې ځپځپاندې وي؛ نو انسانان به یې په خورا غوره رزونتونو کې هم و نه روزل شي.

ښه کورنۍ؛ یعنې: ښځه او مېړه، چې یو پر بل لورېږي، پتمن وي، یو له بل سره مینه وکړي، یو پر بل پام وکړي، یو د بل مصالحو ته درناوی ولري. دا لومړۍ درجه؛ بیا هغه اولاد چې په دې کورنۍ کې رامنځ ته کېږي، په اړه یې مسوولیت او پازوالي وننګېري او له توکیز او مانیز پلوه یې روغ رمټ ستر کړي، له مانیز او توکیز پلوه یې یوځای ته روغ ورسوي، یو لړ ځیزونه ورزده کړي، یو لړ چارو ته یې اړ باسي، له یو لړ چارو یې منع کړي او غوره خویونه ورپیچکاري کړي؛ نو داسې یوه کورنۍ، د یوه هېواد، د واقعي

سمونو بنسټ ده؛ ځکه انسانان په داسې ښو کورنیو کې روزل کېږي، په مینې ستربږي، په مړانه، د عقل په خپلواکۍ، په اند، په مسوولیت، په مینې، د هوډنیونې په مړانه، په خیرخواهۍ- نه بدخواهۍ- په نجابت؛ ښه نو! چې کله د یوې ټولنې خلک داسې ځانګړنې ولري؛ یعنې خیرخواه، نجیب، پاک سوتره، مېړني او اندیالان وي او د ګام پورته کولو ځواک ولري؛ نو دا ټولنه نو بیا د بدمرغۍ مخ نه ویني. که په ټولنې کې کورنۍ رامنځ ته شوه او ښځې او مېړه، یو د بل حقوق رعایت کړل، یو له بل سره په ښو اخلاقو وچلېدل او سازښت یې درلود او په همکارۍ یې ستونزې هوارې او اولاد یې وروزه؛ نو کومه ټولنه چې دغسې کورنۍ ولري، خپله ټولنه اصلاح کولای شي؛ خو که کورنۍ نه وه؛ نو ان ستر سمونپالي هم ټولنه سمولای نشي.

اسلام غواړي، دا هډه/ کورنۍ جوړه او رامنځ ته شي. د ادیانو او په تېره د اسلام هنر دادی، چې د انسان جنسي غریزې او د جوړه توب غریزه، چې بې له جنسي غریزې ده، د کورنۍ جوړولو په

چوپړ کې کړي او داسې يو کار يې کړی، چې کورنۍ هډه، د جنسي غريزې يا د هغې بلې غريزې -چې تر جنسي غريزې يې عموميت ډېر دی- په ملاتړ رامنځ ته او پايښتې کړي. شونې ده، ځينې وګړي، په ځانګړي عمر کې، جنسي غريزه و نه لري؛ خو د جوړه کېدو اړتيا لري او بايد له مخالف جنسه يوه جوړه ولري؛ که ښځه وي که سړی. سَکَن، د هوساينې تومنه ده. اديانو او تر ټولو ډېر اسلام، دا چارې د کورنۍ جوړولو ملاتړ کړې.

که انسانان سرايله ول، چې څنګه يې چې زړه غواړي، خپله جنسي غريزه مړه کړي؛ نو يا به کورنۍ نه جوړېده او يا به يوه سسته، منځتشي، ګواښېدنې او ړنګېدنې وه او هر باد به لړزوله؛ نو د نړۍ په هر ګوټ کې چې څومره جنسي ازادي وي؛ هماغومره يې کورنۍ او کورني تړونونه سست؛ ځکه ښځه او مېړه، د جنسي غريزې د سړولو لپاره، يو بل ته اړتيا نه لري؛ خو چېرې چې دين واکمن دی او جنسي ازادۍ نشته؛ نو دلته هر څه، په کورنۍ کې د مېړه او ښځې لپاره دي او کورنۍ يې خوندي پاتېږي.

که ښځه او مېړه، له کوره بهر، په ټولنه، د زړه کړې په ځای کې، په کاري چاپېریال کې، په ناقانونه ځایونو کې په جنسي غوښتنو، چارو او خوندونو بوخت شي؛ نو ددې کار ستر تاوان دي وي، چې په کورنۍ کې د ښځې او مېړه ترمنځ پیاوړې تړون به وشلېږي او له منځه به ولاړ شي. هغه سړی چې خپله جنستي تنده، له کوره بهر ماتوي یا هغه ښځه چې دا کار کوي؛ نو کورنۍ به ورته په زړه پورې نه وي.

چېرې چې شهوتونه، بې بندوبارۍ او اخلاقي سترګې شلېدنې وي؛ نو ورپسې به یې د کورنیو ړنګېدل هم وي او که دې کار دوام وموند؛ نو هغه څه به ترې جوړ وي، چې په لویدیز هېوادونو کې لیدل کېږي، په تېره په هغو ځایونو کې ډېر تر سترګو کېږي، چې اخلاقي بې بندوبارۍ پکې ډېرې دي، په دغسې ځایونو کې کورنۍ رښتوني مانا نه لري. کاش چې زموږ رسنیو، د لویدیز ټولنو هغه خبرونه خپرول، چې د هغه ځای د کورنیو، ښځمنو، نارینه وو او کوشنیانو د حالاتو په اړه دي، چې زموږ ټولنه متوجه شوې

وای، د کورنۍ پیاوړی بنسټ او زموږ په ټولنه کې کورنیو ته اهمیت ورکول، څومره ستر نعمت دی.

ولې باید، د نړۍ په یوه ستره برخه کې، د ښځمنو او نارینه وو اړیکې د ساتېرۍ او چټیاتو بڼه ومومي، چې د ژوند آریز او جدي چارې تر خپل سیورې لاندې کړي؟ لکه څنګه چې اوس داسې دي. د نړۍ په ډېرو ځایونو کې، د ښځمنو او نارینه له اړیکو، یوه ساتېري او چټیات جوړ شوي، چې هم یې ښځه او هم یې سړی له ټولنیزو، سیاسي، اخلاقي او مانیزو فعالیتونو لرې کړی او لرې کوي. اسلام له دې چار سره مخالف دی. اسلام دغسې چارې نه مني.

په الهي پنځون کې، ښځمنه او نارینه، د پنځون غونډال دوه بشپړوونکې برخې دي، په دې دوو کې، بې له هر یوه یې دا پنځون نیمګړی دی. که انساني ټولنې، په بشري طبیعت کې ددې دوو جنسونو سم ځګی وپېژني او سمه ګټنه ترې وکړي؛ نو بشپړ الهي نظام به پلی شي او نه یوازې هر موجود به هومره موجودي

ګټه ولري، چې باید و یې لري؛ بلکې یوه وړتیا او استعداد به هم تم او ضایع نشي، پر چا به تېری ونشي؛ بلکې بشریت به هم د ښځمنې او نارینه له دې سم متجانستوب او همکارۍ ډېره ګټنه وکړي او مخې ته ولاړ شي. ښځمنه او نارینه، هر یو یې په خپل ځای کې ځانګړې دنده لري.

جهان چو خد و خال و چشم و ابروست

که هر چیزی به جای خویش

نیکوست[1]

په یوه څېره کې ویلای نشو، چې ددې څېرې په بشپړېدو کې د سترګې ونډه مهمه ده که شونډو، خولې، پزې او که د اننګو. هر یو یې چې نه وي، بدرنګي به رامنځ ته شي. د څېرې ښکلا، د ټولو په شتون پورې اړوند او هر یو یې په خپل ځای کې اهمیت لري. د نړۍ ټول څیزونه، په الهي بشپړوونکي نظام دغسې دي او

[1] . ګلشن راز، شیخ محمود شبستري.

ښځمنه او نارینه هم ددغه الهي بشپړوونکي نظام برخې دي. هر یو یې چې په خپل ځای کې نه وي؛ نو د بشریت څېره به نیمګړې، ناوړه، ناکاره او کرکجنه شي. په دوو جنسونو کې یو یې هم حق نه لري، ځان تر بله واجب، اړین او ګټور وګڼي. په دې لید، ټول په یوه کچه کې کېږي او ټول د بشري ژوند په کړۍ کې، واحده ونډه لري او واحده ونډه داده چې د وجود نړۍ د بشپړېدا او د بشري ژوندن نظام ته کار وکړي. دا د ټولو دنده ده، که ښځه ده، که سړی؛ نو دا خبره د ښځې او سړي په پنځون کې، د ښځون شتون ته د الهي حکمت لیدلوری دی.

جنسیت ته د اسلام لید، دویمه درجه لید دی؛ لومړی درجه لید، د انسانیت حیث دی، چې جنسیت پکې بیخي ونډه نه لري. انسان ته خطاب دی. ((یا ایها الذین آمنوا)) او یا ایها الذین اَمَنَّ نه دی؛ یعنې د آمنوا صیغه، نارینه صیغه ده، ښځینه صیغه؛ خو دا بیخي په دې مانا نه ده، چې په دې خطاب کې، نارینه وو ته پر ښځینه وو غوراوی ورکول شوی؛ دا چار په نورو لاملونو پورې اړوند دی،

چې موږ ته روښانه او څرګند نه دي. اوس دې خبرې ته نه ورننوځم، چې موږ ولې په پارسۍ کې ((جمعیت)) ته ((مردم)) وایو او نه وایو ((زنُم))؛ په انګرېزۍ کې ((Human)) ولې ((man)) دی؟ دا ددې نښه نه ده، چې د نارینه فرهنګ لاسبري یې رامنځ ته کړې او په لغت/ویی کې یې لاسوهنه کړې؛ نه، دا چار نو لاملونه لري. بالاخره په کورنۍ کې هم مردنمایي بهرنی چار دی او زن نمایي دننني چار دی. که لږ روښانه وویل شي، سړی د بادام پوټکی او ښځه د بادام ماغزه دي؛ داسې تعبیرونه ورته کارولی شو. سړی، څرګند او ښکاره دی، جوړښت یې دغسې دی؛ الله تعالی د دغه کار لپاره جوړ کړی او پنځولی، ښځه یې د یوه بل کار لپاره؛ نو پردې بنسټ، راښکاره کېدل، راڅرګندېدل او ننداره کېدل، په نارینه کې ډېر دي، د همدغو ځانګړنو په پار، نه د غوراوي په پار؛ خو د انسان د آریزو چارو په اړه -چې په انسان پورې اړوند دي- ښځمنه او نارینه هېڅ توپیر نه لري. ښه، تاسې الله تعالی ته په ورنږدېدنه کې وګورئ، د حضرت زهرا په څېر یوه ښځه، د حضرت زینب په څېر د حضرت مریم

په څېر دي؛ رتبه يې، زموږ او موږ ته د ورته وګڼيو له تصوره هم ورهاخوا ده. د احزاب سورت په مبارک آيت کې، ښځه او سړی هېڅ توپير نه لري. ښايی دا هم له بيخه د همدې لپاره وي، چې د ښځمنو په اړه، جاهلي دودونه وځپي : ((**إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ**))[1]. له اسلام نه تر ذکر پورې، يو واټن دی ، ((**أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا**)) په هر ځای کې ښځمنه، نارينه؛غاړه ايښوونکي او غاړه ايښوونکې، رښتيني او رښتينې، زغمناک او زغمناکې، عاجزي کوونکي او عاجزې کوونکې،

---

[1] . د احزاب سورت، ۳۵ آيت ؛ ((په حقيقت کې مسلمانان او مسلمانانې، مؤمنان او مؤمنانې، غاړه ايښوونکي او غاړه ايښوونکې، رښتيني او رښتينې، زغمناک او زغمناکې، عاجزي کوونکي او عاجزې کوونکې، خيرات ورکوونکي او خيرات ورکوونکې، روژه تيان او روژه تيانې، پاکلمني او پاکلمنې، د الله ډېر يادوونکي او يادوونکې، خدای ورته د ښښنې او ستر اجر چمتو والی نيولی دی .))

خیرات ورکوونکي او خېرات ورکوونکې، روژه تیان او روژه تیانې، پاکلمني او پاکلمنې، د الله ډېر یادوونکي او یادوونکې؛ یو له بل سره هېڅ توپیر نه لري. د آل عمران په سپېڅلي سورت، تر هومره ((ربّنا)) ویلو روسته وايي: ((**فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لاَ أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ**))[1]

البته چې کله وایو، هر یو یې خپله بنسټیزه دنده لري، مانا یې دا نه ده، چې ترمنځ بېخي ګډه ولکه نشته، ګډې ولکې یې ډېرې دي. ان د ښځینه او نارینه د دوو جنسونو ترمنځ ګډې ولکې یې تر ځانګړیو ولکو ډېرې دي، که څه هر یو یې خپله ځانګړې دنده لري او یو یې هم د بل دنده ترسره کولای نشي یا یې سمه او ښه ترسره کولای نشي؛ خو ددې دوو ځانګړیو ولکو ترمنځ، یوه پراخه ولکه ده، چې ګډه ولکه ده او هغه ولکه، د ټولنیز ژوند ولکه، د سیاسي ژوند ولکه، وټیز ژوند ولکه، د بشري رغاونو او

[1] . آل عمران سورت، ۱۹۴ آیت یوه برخه؛ ((نو پالونکي یې غوښتنې ومنلې (او ویې ویل) زه له تاسې د هېچا عمل نه لاهو کوم، نارینه وي که ښځینه، ټول له یوه جنس یاست،))

ټولو هغو هنرونو ولکه ده، چې انسان يې ترسره کولای شي؛ خو بې له هغو ځانګړيو ولکو، چې په هر يوه پورې يې ځانګړې ده. په الهي او اسلامي نظام کې دې، ښځمنو ته په دې سترګه وکتل شي. هر يو يې ځان ته ځانګړی منصب لري، چې نبايد تش يې پرېږدي؛ خو داسې يوه پراخ ولکه هم شته، چې دواړه پکې په ګډون او همغږۍ او د خپلو وړتياوو په کارولو، هغه ځای وپوښي او پرېښږدي، چې دا منځنۍ ولکه هم ضايع شي.

ښځمنې چې نيم بشريت ترې جوړ دی؛ هغه هم هغه نيمايي، چې که د انسان پلټونکې ليدنه وغواړي، ونډه يې له نورو ونډو سره پرتله کړي؛ نو و به ګوري، چې د انسان د تاريخ په بهير او د کمال پر لوري، د بشريت په يون کېددې نيمايي ونډه؛ خورا حساسه، ظريفه، تلپاتې او تر ټولو ګټوره ده.
دا د ښځمنې او نارينه وو مسلې ته الهي ليدلوری دی. د ښځمنې او نارينه په پنځون کې يو ټکی دی، د کړلاريو، تېروتنو او ناسمو کړنلارو لامل شوی او په خواشينۍ چې دا ټکی، په پېړيو پېړيو و او هغه ټکی دادی چې ښځمنه او نارينه، په خپل طبيعي جوړښت يې يو لړ توپيرونه لري. په طبيعي جوړښت کې؛ يعنې په بدني،

توکيز، عاطفي، مانيز او روحي جوړښت کې او دا توپيرونه د ښځمنې او نارينه وو د ځانګړيو دندو په پار او پرځای دي.
سړی د ښځې په سترګو کې د ډاډ او اډانې ځګی دی او په دې چوکاټ کې خپله مينه ورسره انځوروي. دا، يو له بله دوې جلا ونډې دي او دواړه ونډې پکار هم دي؛ ددې دوو ونډو ګډول، د طبيعت پرخلاف چار او د يوې ښې زمينې له منځه وړل دي. مثال يې د هغه ګلبڼ دی، چې يو ماهر کس يې دلته جوړ کړي او بيا مورډ په خپله پکې لاسوهنه وکړو، ګډ وډ يې کړو او لغتې پکې ووهو. سړی، د ښځې په سترګه کې د ډاډ او اډانې ښکارندوی دی او په دې چوکاټ کې خپله مينه ورسره انځوروي او دا دواړه، يو له بله دوه جلا ونډې دي او دواړو ونډو ته اړتيا ده او ښځه چې کله سړي ته ورګوري؛ نو د هماغه مينې او عشق په سترګه يې، د ډاډ او اډانې په ونډه کې ويني، چې د سړي له فکري او بدني ځواکه، د ژوندني چارو پرمختيا ته ګټنه کولای شي؛ د يوه موټر په څېر.
سړی چې کله ښځې ته ور ويني؛ نو د الفت او هوساينې ښکاروندوی يې بولي، چې انسان ته هوساينه ورکولای شي. که سړی، د ژوند په ظاهري چارو کې د اډانې ځای دی؛ نو ښځه هم

په خپل ځای کې، د ژوند مانیزو او روحي چارو ته اډانه او د مینې او الفت یو سمندر دی. ښځه په خپل مینناک چاپېریال- چې په کورنۍ کې یې جوړ کړی- سړی له غمونو، خپگانونو او اندېښنو را ایستای شي. دا د سړي او ښځې ځواکونه او د دوی روحي وړتیاوې دي.

طبیعت هم همدغسې دی، خپل کار کوي، موږ پرې نه پوهېږو، طبیعت ته ځواب نه ورکوو.

کله سړي په بداخلاقۍ او پر خپلو ښځو د ستونزمنو چارو په ورتپلو، په ډېرو تمو درلودو او سپکاوي، د انرژۍ دغه زېرمه له لاسه ورکوي؛ بیا نو دا ښځه، هغه ښځه نه پاتېږي، چې انسان ته له مانیز پلوه هوساینه او هستوګنه ورکړي. کله ښځه هم د مېړه په اړه همدغه تېروتنه کوي. ددې پر ځای چې مېړه ته د یوې استوانې په سترګه، چې اډانه پرې وهلی شي، د هغه له استقامت او برم ګټنه وکړي؛ نو کله د یوه چوپړیال او خندوونکي -ښځې بېلابېلې دي، ځینې چې تېروځي؛ نو هر ډول تېروتنه کولای شي- په سترګه ورګوري. ددې پرځای چې د ځواک او انرژۍ له دې زېرمې ګټنه وکړي، دداسې موجود پر ضد یې اړوي. دا اړپېچونو دا شان رامنځ ته کېږي، رامنځ ته کېدو ته یې مه پرېږدئ. اسلام داسې

وايي، سړی قوّام گڼي او ښځه ريحان؛ نو دا خبره نه د سړي سپکاوی دی او نه د ښځې؛ نه د سړي د حق ناليدي ګڼل دي او نه د ښځې؛ بلکې د دوی طبيعت ته سم کتل دي. اتفاقاً تله يې هم برابره او په توله کې ده؛ يعنې هغه مهال چې لطيف او ښکلی جسم د کورني چاپېريال د مانيزې هوساينې او ښکلا لامل، د تلې يوې خوا ته ږدو او د سمبالنې، کار، ډاډ او اډانې جنس، د تلې په بل اړخ کې ږدو؛ نو د دواړو لوريو تلې سره انډول، په توله کې او برابرې دي؛ يو يې هم پر بل غوراوی نه لري. ځينې ناسم مسلکونه، چې يوازې ښځو ته ځانګړي هم نه دي، سړي هم کله په همغو مسلکونو پسې ورځي او په دې پسې دي، چې ووايي: نه! راځئ ددې تلې توکي [د ښځې او سړي ونډې]، واړوو. اوس که دا کار وکړو؛ نو څه به وشي؟ بې له دې چې تېروتنه کوئ او بې له دې چې يو ښکلی جوړ شوی بڼ، ويجاړوئ؛ نو بې له دې بل کار نه کوئ. ښځه او مېړه، يو د بل پر وړاندې شکمنوئ او هغه مينه او محبت له لاسه ورکوئ، چې د چار آريزه تومنه ده. کله داسې پېښېږي، چې مېړه په کورنۍ کې د ښځې ونډه مومي او ښځه مطلق واکمنه شي، سړي ته حکمونه کوي او سړی هم لاس تړلی ورتسليم وي. د ښځې يو ښه تکيه ځی ښه ايسي. کله

سړی، ځيني چارې پر خپلې ښځې په زور ورتپي؛ فرض کړئ، که د کور سودا پېرل او له مراجعانو سره مخېدل، په ښځه وي. ولې؟ ځکه زه کار لرم، وخت نه لرم او خبره د وخت نه درلودو ده! وايي: بايد دفتر ته ولاړ شم او چارې دې ښځه پر مخ بوځي؛ يعنې د ښځې لپاره بې جاذبه او درنې چارې؛ البته شونې ده، د څو ورځو لپاره يې بوخته کړي؛ خو دا يې دنده او کار نه دی.
تاسې که په اسلامي تعبيراتو کې وگورئ؛ نو د ښځمنې په اړه ړښتوني تعبيرونه کارېدلي ((المراة ريحانة و ليست بقهرمانه))[1] ؛ ښځه گل دی. -ريحان؛ يعنې گل- انسان له گل سره څه کوي؟ له گل سره د چلن څرنگوالی څنگه دی؟ آيا له گل سره غېړې/ کُشتي نيول کېږي؛ نو داسې خو گل رژېږي. که گل د گل په توگه وپېژندل شي او گلانه چلن ورسره وشي؛ نو ښکلا او گټور دی.
((المراة ريحانة و ليست بقهرمانه)). په عربي تعبيرونو کې، قهرمان يعنې کار کوونکی او يو محترم چوپړيال. وايي: په کورنۍ کې دننه، ښځه قهرمانه نه ده؛ ريحانه ده. د کور گل دی. سړيو ته وايي: په تاسې کې غوره هغه دی، چې له خپلو ښځو سره غوره

[1]. بحارالانوار، مجلسي، ۱۰۰ ټوک، ۲۵۳ مخ.

چلن لري. دا د اسلام نظرونه دي او دې ورته خبرې، چې سمې ډېرې دی.

قهرمان؛ یعني د کور چوپړياله... ښځه ستاسې کارګره نه ده، چې د ژوند ټولې چارې مو ور پر اوږه کړئ او بيا يې مواخذه او پړه کړئ.

نه! خبره داسې نه ده؛ دا چلن د ښځې له طبيعت سره سم چلن دی، ښځه خو څه خپل طبيعت نشي هېرولای. له آره، ښځه بيخي دې چارو ته لېواله نه ده؛ نو دواړه په يوه نامناسب ځګي کې شي. نننی فمينستان چې ښځې او سړي او هر ډول خلک پکې دي او د ښځو له حقوقو ملاتړ کوي، بېخي د ښځو له حقوقو خبر نه دي. په اند مې، داچې حق يو انتزاعي چار نه دی، تاسې چې لوستي ياست، په دې مانا ښه پوهېږئ، حق يوه طبيعي سرچينه لري، رښتوني حق هغه دی، چې يوه سرچينه ولري، يوه طبيعي سرچينه ولري. دغو حقونه کومه سرچينه نه لري، چې دوی يې تعريفوي او بنسټ يې ګومانونه او خيالونه دي. هغه حقوق چې د ښځې او سړي لپاره دي، بايد بنسټ يې طبيعت وي؛ د ښځې طبيعت او د سړي طبيعت.

په لنډو د ښځې او سړي توپیرونه دادي: د ښځې په وجودي او طبیعي جوړښت کې د سړي په پرتله له ډېر ظرافته کار اخستل شوی. نه وایو له لږ کلکوالي برخمنه ده؛ ځکه علمي پرمختګونه، ان په ځینو ځایونو کې ښځه تر سړي کلکه او پیاوړې ښیي؛ خو ښځه یو ظرافت لري؛ جسماني اړخونه یې لږ او کوشني او عاطفي ماتېدنه یې ډېره ده. دا د ښځې او سړي ترمنځ طبیعي توپیرونه دي؛ نو پردې بنسټ، که دغه دوه موجوده،چې د یوه ځواک، کلکوالی او بدني تاوتریخوالی ډېر دی؛ یعنې لوړوالی یې ډېر دی؛ هډوکي او غړ یې پلن او لوړ او بدني ځواک یې ډېر دی او هغه بل، فرضاً ځواک یې لږ او عضلات یې لږ ځواکي دي، په یوه بې قانونه چاپېریال کې، چې د عقل او منطق واکمني پکې لږه ده، ژوند وکړي؛ نو د دواړو حالات پکې څرګند دي. پیاوړی به پر کمزوري تېری کوي، استثمار او کړوي به یې او په خپل چوپړ کې به یې کوي. او دا یو جبري چار دی. که عقل او قانون نه وي؛ نو دغسې به کېږي.

البته ښځه، پر سړي د لاسبری لپاره ځانګړي ځواکونه، لارې چارې، کړنلارې او ځانګړنې لري؛ خو که عقل او تدبیر ولري؛ نو دغه چارې به یې په کار راشي. ښځې کولای شي، په خپل تدبیر

او ظرافت، سړی په خپل لاس وچورلوي؛ دا خبره په تجربه کې هم لیدل کیږي او هم یې په فکري او عقلي قیاس هم جوتولای شي. دا یو واقعیت دی؛ خو شته داسې ښځې، چې بې تدبیري کوي؛ نو دا کار کولای نشي؛ خو ښځه چې د تدبیر خاونده وي، خپل سړی، ځان ته رام کوي. دا د هغه چار په څېر دی، چې یو کس، په یوه داړونکي زمري کې افسار واچوي او پرې سپور شي؛ خو دا په دې مانا نه ده، چې هغه کس، له بدني پلوه، تر هغه زمري پیاوړی دی؛ په ښځو کې دغسې یوه وړتیا شته؛ خو په ظرافت؛ کوم ظرافت چې وایو، یوازې په بدني جوړښت کې ظرافت نه دی؛ بلکې په اند، تدبیر او هوډکولو کې ظرافت دی، چې الله تعالی، ښځې ته ورکړی دی؛ خو که تدبیر او قانون نه وي او چاپېریال،عقلاني چاپېریال نه وي او له عقلاني کړنلارو ګټنه ونشي؛ نو په خواشینۍ، چې داسې یوه ویجاړي به رامنځ ته شي، چې له پېله تر اوسه رامنځ ته شوی او هغه له یوه جنسه، د بل جسن ناوړګټنه ده. له جنس نه مو مراد، منطقي جنس نه دی؛ بلکې معمولي او دود تعبیر یې دی. یو جنس یا ټولګی -چې د نارینه ټولګی دی- له بې قانونه او غیرې عقلاني چاپېریاله ناوړګټنه کوي او پر بل جنس یا ټولګي تېری کوي. دا هغه کار

دی، چې د تاریخ په اوږدو کې شوی؛ بلکې په ځینو ځایونو کې اپوټه هم ول. په هغو چاپېریالونو کې چې منطق/ سول، عقل، قانون، حکومت یا کوم ځانګړی دود او روږد واکمن و، کله یې اپوټه هم شوي؛ خو په تېر وخت کې، لاسبری چار، هماغسې و. [د سړي تېری].

که لیکل شویو کتابونو او مقالو ته مراجعه وشي، هرومرو به ووینئ، چې ښځمنو په اړه د تېرو ولسونو او ملتونو کړنلارې، چلنونه لیدلوری ځنګه و؟ یو ښکارندوی یې هم هماغه څیز دی، چې په قرآن کریم کې راغلی دی: ((وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ))[1]؛ څه چې په تاریخ کې تېر شوي، واقعا ژړوونکي دي، چې دا هر څه د عقلاني چاپېریال د نشتون، له عقله د نه ګټنې او د قانون د نشتون پایله ده. په یوه ځنګل کې چې نه قانون شته او نه عقل؛ نو آیا شونې ده یو پیاوړی ځناور د خپلې ډېرخورۍ نه مړېدو د غریزې او له ځانه پر کمزوري ځناور د برید مخه ونیسي؟ نو که چاپېریال، د ځنګل په څېر چاپېریال

[1] . نحل سورت/ ۵۸ آیت؛ ((او چې کله یې یو تن ته د لور (د زیږېدو) زېری وشي؛ نو مخ یې (له ډېر خپګانه) تک تور اوړي او (خپلې ښځې ته) له غوسې ډک وي (چې ولې دې لور راوړه!) .))

شو؛ نو د ښځمنو او نارینه وو چار به هم هماغسې تریخ او ربړلی وي، چې په تاریخ کې تېر شوی او نن هم په نړۍ کې لیدل کېږي.

تېروتنه ده، چې ګومان وشي، چې نن په لویدیځ کې چې د ښځمنو او نارینه وو د تساوي یا حقوقو خبره کوي، دا مسایل پکې نشته. له ښځمنو سره د تاوتریخوالي او له ښځمنو د ناوړګټنې -څه په کاري چاپېریال کې ناوړګټنې او نورې ناوړګټنې، چې انسان یې په ویلو هم شرمېږي- ترهوونکې شمېرې، په لویدیځ کې دي. ما د یوه لویدیځ هېواد، امریکا شمېرنې ولیدې، چې د هغو ښځو شمېرې پکې خورا ډېرې وې، چې مېړونو یې وهلې ډبولې. واقعا هېښنده شوم! په مقاله کې راغلي وو، چې دا د هغو ښځو شمېر دی، چې رسمي شکایت یې کړی او د هغو ښځو شمېر ترې خورا ډېر دی، چې د مېړونو له وېرې یې رسمي شکایت نه دی کړی!

نو پردې بنسټ، وینئ چې د ښځمنې ستونزه او چاره، په هغو لارو چارو، چې لویدیځ را ایستلي او ښځه یې بربنډه کړې، واټونو ته را ایستلې او بې ستره کړې؛ نه اوارېږي.

داسې نه ده، چې گومان وشي، چې که ښځه مو بې ستره کړه یا یې ستر لږ شي او له شرعي قیوداتو لاس پر سر شو؛ نو د ښځمنې ستونزه به هواره شي، ستونزې یې داسې نه هوارېږي؛ بلکې بترېږي.

اسلام بنسټیزې چارې کوي. اسلام هڅه کوي، داسې چاپېریال رامنځ ته کړي، چې هغه جنس چې له بدني پلوه پیاوړی دی- چې البته له بدني پلوه پیاوړتیا، هېڅکله له عقلانیا و علمي پلوه د پیاوړتیا نښه نه ده- پر کمزوري جنس تېری و نه کړي. له امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه یې یوه غونډله رانقل کړې او یوه کوره یې ترې جوړه کړې، چې کله سړی پرې پر سر وهي او کله ښځمنه. حال دا، هغه جمله، په ډېر احتمال سره، د امیرالمؤمنین د هغه وخت د حالاتو د زړه درد، له مخې وه؛ لکه څنگه چې موږ اوس د زړه درد وایو او خوالې کوو. احتمالا آنحضرت هم خپل د زړه درد ویلی وي؛ نو پردې بنسټ، هغه جنس، چې له بدني پلوه پیاوړی دی، څرگنده ده، چې هډوکي یې پلن، لوړ دنگ او غږ یې پلن دی؛ خو آیا عقل او تدبیر یې هم ډېر دی؟ نه ! آیا په دې منځنۍ سیمه کې چې د سیاست، اقتصاد، علم او نورو چارو

سیمه ده، د بل جنسه پیاوړی دی؟ نه؛ ځکه دا چارې په اړوند چارو کې په سوبتیا او تجربې پورې اړه لري.

که زر کلونو نور هم، ښځمنې د ژوندون له بېلابېلو سیمو لرې وساتل شي؛ نو زر کلونو روسته به د نړۍ په کچه ووینئ، چې د نارینه پوهانو، سیاستوالو او کارپوهانو او ټولنیزو منصبونو سمبالوونکیو شمېر به تر ښځمنو ډېر وي. که یو څوک د نارینه وو مخه ونیسي او هغوی دې چارو ته پرېنږدي او دا چارې ښځمنو ته پرېږدي؛ نو د وخت په تېرېدو به ولیدل شي، چې سوکه سوکه، ښځمنې مخ په پیاوړې کېدو او نارینه مخ په کمزورې کېدو دي. البته دا هم سمه نه ده او د تېري یوه بله بڼه ده؛ نو د دواړو جنسونو ستونزهواری – چې د سرغړاندۍ او تېري مخه ونیول شي- په درې لاملونو پورې تړلی دی، چې هماغه مانیز لاملونه دي، چې مخکې مې ورته اشاره وکړه. باید مانیز لاملونه راډگر ته دشي، چې بدني او توکیزو چارو اهمیت راټیټ شي. بدني او توکیز لامل؛ یعنې په یوه جنس کې هماغه ظاهري پیاوړتیا؛ خو چې مانیز لامل مو رامخې ته کړ؛ نو توکیز لامل به کمزوری شي.

قانون، یو له هغو درېیو لاملونو څنې دی. قانون دې د تېري اجازه ور نکړي. د ښځمنو د اند او عقل د کچې لوړوالی، یو له هغو درېیو لاملونو څنې دی او دا کار په زده کړو او بېلابېلو اندیزو، ټولنیزو، وټیزو، مغزي، ادبي او هنري فعالیتونو شونی دی. اوس هم د نړۍ ډېری نالوستې، ښځمنې دي. باید مبارزه ورسره وشي، چې ښځمنه د اند او تدبیر څښتنه شي او د بدني پیاوړي جنس پرې تېری ونکړای شي. که تدبیر، له عقل کار اخستنه، سواد او پوهاوی، په ښځمنه کې وده وکړي؛ نو د توکیز څواک د تېري مخنیوی به وشي. البته، سواد، تل کچه نه ده؛ آریزه خبره له عقل کار اخستنه ده. کله شونې ده، څینې انسانان لوستي هم وي؛ خو له د تدبیر او عقل څښتنان نه وي؛ اپوټه یې هم شوني دي؛ نو آریزه خبره له عقل کار اخستنه ده، چې باید په ښځمنه کې وده وکړي، چې د توکیز څواک د تېري مخه ونیسي او کابو یې کړي. په خپله ښځمنو کې دې دا یو عام دود اند وي، چې له معنوي او اخلاقي پلوه خورا وده وکړي. په هېواد کې مو د طاغوت واکمنۍ پر مهال، د لویدیز ناسمه روزنه لامل شوه، چې ښځمنې سینګار، څلبلونو، بې ځایه ښکلا، تبرج او ځان ښوونې ته ورماتې شي، چې دا هم د نرواکۍ یوه نښه ده. د لویدیزې نرواکۍ یوه نښه

همدغه ده، چې ښځمنه د نارينه لپاره غواړي، چې سړی ترې خوندونه واخلي، دا د ښځې آزادي نه ده! دا په حقيقت کې د نارينه آزادي ده. ان د سترګو د خوند اخستنې لپاره؛ نو ځکه يې ښځمنه د نارينه پر وړاندې بې حجابۍ، سينګار، تبرج او ځانښوونې ته اړ او وهڅوله!

البته دا ځانمني، پخوا هم د هغو ټولنو په نارينه وو کې وه، چې له دينه بې برخې وو، نن هم شته او ستر ښکارندوی يې لويديز نارينه دي؛ نو دا مسله بايد په خپله په ښځمنو کې جدي ونيول شي او اهميت ورکړل شي، چې ښځمنه د معرفت، علم، مطالعې، ځانخبرۍ، ښوونو او معلوماتو پر لوري يون وکړي.

درېيم داچې د ټولنې د اند کچه دې لوړه شي، په هغه ټولنه کې څوک هسې په هسې پر چا تېری نه کوي، چې د ځيرکۍ، عقل،اند او حکمت پوخوالی پکې وي. دا هم درېيم لامل دی.

اسلام د حجاب مسله خورا حکيمانه څېړلې، چې څومره پکې انسان اندنه کوي، ژورتيا يې لاپسې ډېرېږي. البته د اسلام سپېڅلي شرع، د حجاب په حکم کې بريدونه ټاکلي، چې بايد دغه

بریدونه وپېژندل شي، او سرغړونه او مخکې شاته کېدل ترې ونشي. د ایرانیو ښځمنو حجاب، ښه حجاب دی؛ البته دا د حجاب یوازېنی بڼه نه ده، په نړی نور مسلمانان هم شته، د حجاب ډولونه لري، که څه څادري نه لري. که څه زما په اند، غوره حجاب څادري ده. څادر ښه څیز او غوره حجاب دی. هر چا څادري په لومړي ځل را ایستلې، ښه نوون یې کړی دی. آر، د حجاب موضوع ده او باید د حجاب پر مانا پوه شو. حجاب، له نارینه، د ښځمنې ستر نه دی. حجاب د ښځمنې او نارینه د ژوند ځانگړې ولکه ده. البته نارینه یې په یوه بڼه او ښځمنې یې په بله بڼه رعایتوي. هماغه ظرافت، چې مې وویل، ځینې چارې پر ښځمنه هم ورتپي او تحمیلوي. امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه وایي: ((المراة ریحانة))؛ ښځه گل دی. دا هېښنده تعبیر دی او په ځان کې هماغه لطافت او ظرافت لري. د نارینه په اړه داسې تعبیر نشته، چې ووایي : ((المرء ریحان)). ریحان والی او گل کېدل، پر انسان یو لړ چارې تحمیلوي او ناچار ځنې چارې باید رعایت شي.

حجاب په ښځمنو کې د علمي او سیاسي فعالیتونو خنډ نه دی. دلیل یې دادی، چې پخپله له حجاب سره سره، عالمو ښځمنو، زده کړې کړي، سیاسي او ټولنیز فعالیتونه یې درلودل او په ډېری ډګرونو کې سوب وې؛ خو حجاب یې د لار خنډ نه و.

داسې نه ده، چې په هېواد کې هغوی چې سم حجاب نه لري، هماغوی په علمي چاپېریالونو کې پرمختګ کړی وي. هغه مهال چې د واکمن نظام سیاست دا و، چې ښځمنې د بې سترۍ؛ بلکې فحشا پر لوري بوځي، داسې نه وه، چې هغوی چې د بې حجابۍ په بدبویه جرونو کې ورګډ شوي ول، خورا علمي پرمختګونه یې کړي وو؛ بلکې اپوټه یې و؛ نو پردې بنسټ، یوخوا حجاب د لارې خنډ نه دی او دا ځانګړی مسلماني پوښښ او ساتنه یې، د مسلمان مېرمن د یوه مانیز، توکیز او ظاهري پرمختګ پر لار خنډ نه دی؛ بلخوا، د یوې ټولنې د ښځمنو لپاره، د حجاب شتون بې ساري زېري هم لري، چې یو له دې زېریو، د کورنۍ بنسټ خوندي پاتېدل دي، چې بې حجاب، ښه خوندي نه پاتېږي او ځپځپاندېږي. دا نن د لویدیځ نړۍ ستونزه ده.

نباید وویل شي، شته داسې کورنۍ چې ښې او لورانديې کورنۍ او ښه کورنۍ چاپېریال لري؛ خو بې حجابه دي. البته یقیناً داسې کورنۍ شته. نه وایم چې په هر ځای کې داسې ده، چې بې حجابي کورنۍ څپڅپاندوي؛ بلکې وایم، هغه مهال چې په یوه ټولنیز چاپېریال کې، دا آر نه وي؛ نو هغه بل آر، پخپله څپڅپاندی شي او دا هغه چار دی، چې په لویدیځ کې پېښ شوی دی.

او دې چار، په بشري ټولنو کې خپلې ناوړه پایلې او لکۍ درلودې؛ د کورني بنسټ سستېدل، د ښځمنو خواشینوونکې او ژړوونکې سوداګري. د ملګرو ملتونو د یوه رسمي ګزارش له مخې، نن د نړۍ چټکه پر مخ تلونکې سوداګري، د ښځمنو سوداګري او قاچاق دی. په دې اړه یو څو ناوړه هېوادونه دي او له دوی څنې یو یې صهیونستي رژیم دی. د کار او واده په نامه، له لاتینې امریکا، ځینو آسیایي هېوادونو او د اروپا له ځینو بېوزلیو هېوادونو نجونې او مېرمنې راټولوي او داسې مرکزونه ته یې ورسپاري، چې انسان یې له تصور او نامې لړزېږي، چې دا ګرسره چارې په ټولنه کې ښځمنې ځګي ته د ناسم لید او ظالمانه ناانډول پایله ده. د

حرمنیو او او نامشروع اولادونو ښکارنده -چې د نامشروع اولادونو ډېری شمېره، په امریکا کې ده- بې نکاح د ګډ ژوند ښکارنده؛ یعنې په حقیقت کې د کورنۍ هډې خواخوږي او ګرمي او برکتونه له منځه وړل او ړنګول او له دې برکتونو د بشر بې برخې کول، چې دا ګرسره د لومړۍ ستونزې پایله ده. باید ددې لپاره یو لاره چاره وسنجول شي. باید د ښځې ځګی تعریف شي او باید د لویدیځ د سپک منطق پر وړاندې ودرېږو.

یوه ورځ وپوښتل شوم: ښاغلیه! تاسې د پلاني چار په اړه څه دفاع لرئ؟ ورته مې وویل: موږ هېڅ دفاع نه لرو. موږ په دې چار کې برید لرو. کومه دفاع؟ زموږ موضوع د دفاع موضوع نه ده. د ښځمنو په چارو کې، په نورو بېلابېلو چارو کې مو دریځ د برید دریځ دی؛ نړۍ زموږ پوروړې ده. توکیزه نړۍ ده، چې په دې چارو کې پر کږه روانه ده. پر ښځمنو تېری کوي، د ښځمنو سپکاوی کوي، د ښځمنې مقام یې راټیټ کړی، د ازادۍ، بوختیا، پازوالې ورکولو په نامه یې تر ډول ډول روحي، عاطفي او شخصیتي دباوونو لاندې نیولې او په دې اړه هغوی باید ځوابګر وي.

لویدیځ په خورا چالاکۍ، د کورنۍ له مسلې پښې سپکوي. په هماغو ویېنو کې چې دوی یې کوی، د ښځمنې مسله هم شته؛ خو د کورنۍ خبره پکې بیخي نشته. کورنۍ، د لویدیځ کمزوری ټکی دی. د ښځمنې مسله اوځاروي؛ خو د کورنۍ نامه هم نه اخلي؛ سره له دې چې ښځمنه له کورنۍ جلا نه ده؛ نو ددې مسلې په اړه فکر په کار دی.

ما په ملګرو ملتونو کې د کورنۍ په اړه څه له پاسه یوه ګړۍ خبرې وکړې. بیا یې خبر کړم، چې د امریکا تلویزونونو، زما دا خبرې بیاځلي بیاځلي خپرې او شننې یې هم پرې وکړې. یوازې د کورنۍ په اړه د یوه ټکي ویلو په پار؛ یعنې د کورنۍ تضمینوونکی پېغام، د کورنۍ مسله، نن د لویدیځ لپاره د یخو اوبو په څېر یو پیغام دی؛ ځکه د کورنۍ کمښت ننګېري، هلته څومره ډېرې دي، هاغسې ښځمنې، چې د عمر تر پایه یوازې ژوند کوي، داسې سړي، چې د عمر تر پایه یوازې ژوند کوي، غریب، بې څوکه او بې مینې، داسې ځوانان پکې خورا ډېر دي، چې د کورنیو د نشتون له لامله کوڅه ډپ شي. هلته یا کورنۍ نشته او که وي، په نشت حساب دي.

د کورنۍ مسله دومره حساسه ده، همداچې په کوم ځای کې چې د کورنۍ چار او بنسټ په اړه خبره شي؛ نو د هغوی زړونه په درزار شي؛ ځکه بنسټیزه ستونزه یې همدغه ده.

د حجاب یوه ګټه، چې د ښځمنې د نېکمرغۍ لاملېږي داده، چې له ښځمنې ناوړه ګټنه نه کېږي؛ ځکه نن په ککړو چاپېریالونو کې چې د لویدیځ په فرهنګ او د هغوی په انګېرنو اخته دي، د ښځمنو یوه ستونزه، سینګار او ځان ته د نورو د سترګو را اړولو لپاره فیشن دی. دا خبره، حقیقتا یوه مهمه ستونزه ده. له نېکه مرغه، چې زموږ انقلابي ښځمنې ډېرې پرې اخته نه دي. که څه، ننګېرم، چې ځینې هغه پخوانی خلوص نه لري او ښځمنې په لوی لاس دغه لوري ته ورکاږل کېږي؛ خو هغوی اخته شوي دي او دا کانې یې وخت، پیسې او هڅې په سیند لاهو کوي او دغه چارې په شدت سره نه وي؛ نو وخت، پیسې، هڅې او احساسات به یې غوره چارو ته په رسېدو کې ولګول شي. په هر حال، دا اسلامي لیدلوری او کړنلار ده او دا یې درملنه ده.

له جاهلیت ډکه استکباري نړۍ، تېروتې ده، چې ګومان کوي، د ښځمنې اعتبار او ارزښت په دې کې دی، چې ځان د نارینه وو په مخ کې سینګار کړي، چې د نارینه وو سپکې سترګې ور

وګوري، خوند ترې واخلي او ستاینه یې وکړي. په نړۍ کې چې د لویدیځ له لوري، د ښځمنې د ازادۍ په نامه کوم دسترخوان خپور شوی، په دې پار دی، چې ښځه د نارینه وو مخې ته کړي، چې جنسي خوند ترې واخلي او ښځمنې، د نارینه وو د خوند اخستو وزلې شي. دا د ښځمنو ازادي ده؟ هغوی چې د لویدیځ تمدن په جاهل، غافل او بې لارې تمدن کې، ادعا کوي، چې د بشري حقوقو پلویان دي، په حقیقت کې، پر ښځمنو تېري کوونکي او ظالمان دي.

ښځې ته د کورنۍ جوړولو، د آریز عنصر په سترګه وویني. کورنۍ که څه له سړي او ښځې جوړه ده او کورنۍ جوړولو ته دواړه اغېزمن دي؛ خو د کورنۍ هوساینه او هستوګنه د ښځې په وجود او د ښځې په ښځینه طبیعت پورې تړلی چار دی. په دې سترګه ښځې ته ور وګورئ، چې درڅرګنده شي، څنګه کمال مومي او حقوق یې په څه کې دي.

له هغې ورځې چې اروپاییانو، نوي صنایع رامنځ ته کړل- د نولسمې پېړۍ په پیل کې چې لویدیز پانګوالو سترې کارخانې جوړې کړې- او د کار ارزانه، بې تمې او بې درد سره ځواک ته یې اړتیا ومونده؛ نو د ((ښځو آزادۍ)) زمزمه یې را اوچته کړه،

چې ښځه له کوره، کارخانو ته راوباسي او د یوه ارزانه کارکوونکي په توګه ګټنه ترې وکړي، خپل جېبونه ډک کړي او ښځمنه له خپل کرامت او مقام نه راګوزاره کړي. نن څه چې په لویدیځ کې د (( ښځې آزادۍ)) په نامه مطرح دي، د هماغې کیسې لکۍ او غځېدا ده؛ نو هغه ظلم چې په لویدیز فرهنګ کې پر ښځه شوی او له ښځې چې د لویدیځ په ادبیاتو او فرهنګ کې کومه ناسمه پوهېدنه ده، په ټول تاریخ کې بې سارې ده. پخوا هم په هر ځای کې، پر ښځه ظلم شوی؛ خو دا عمومي، هر اړخیز او پراخ ظلم، د لویدیځ د روستي فرهنګ زوکړه ده. ښځمنه د نارینه وو د خوند اخستې وزله معرفي کړه او د ښځمنۍ آزادۍ نامه یې ورکړه؛ خو دا چار له ښځمنو د خوند اخستنې لپاره د سپکو او پرېوتیو نارینه وو ازادي ده، نه د ښځمنو ازادي او دا کار یې نه یوازې د کار او صنعت په ډګر کې وکړ؛ بلکې په هنر او ادبیاتو کې یې هم ظلم پرې وکړ، تاسې یې کیسو، هنر، ادبیاتو او انځورګرۍ ته وګورئ، چې په کومه سترګه یې ښځمنې ته کتلي دي. آیا هغو مثبتو او لوړو ارزښتونو ته پکې پاملرنه شوې، چې په ښځه کې دی؟ آیا هغه لطیف عواطف، مهرباني او میناکه خوی پکې ځرګند شوی چې الله تعالی په ښځه کې ایښی؛ مورنی

خوی، د ماشوم ساتنې روحیه، د اولاد روزنې روحیه که شهواني
اړخونه او د هغوی په تعبیر عشقي اړخونه؟ چې دا ناسم تعبیر دی.
دا شهوت دی، نه عشق. ښځمنه یې لګښتپاله وروزله و روږدې
کړه. بې خرته لګښتپالې او د هغوی لپاره کم غواړې او کم تمې
کاریګره. دا د ښځې شخصیت دی؟باید حجاب او عفاف څنډې
ته کړي، سینګار او نازونه وکړي، چې د نارینه وو خوښې شي؛ نو
دا د ښځمنې درناوی که سپکاوی دی ؟ مست، لېوني، له هرڅه
بې خبره او د صهیونستانو تر اغېز لاندې لویدیځ، دا چارې د
ښځمنې د درناوي په نامه راپورته کړې او ځینو باور هم پرې وکړ.
د ښځمنې ستریا په دې کې نه ده، چې ځان ته د نارینه وو سترګې
او د هوسبازانو هوس رامات کړي؛ دا ښځمنې ته ویاړ نه دی؛ دا
د ښځمنې تجلیل او درنښت نه دی؛ دا د ښځمنې سپکاوی دی.
د ښځمنې ستریا په دې کې ده، چې وکولای شي، هغه حجب،
شرم، حیا او ښځینه عفاف خوندي وساتي، چې الله تعالی یې په
وجود کې امانت ایښی او دا چار له مؤمنانه عزت سره واغږي او
بیا دا چار د خپلې دندې له احساس سره او ورپسې دا لطافت په
خپل ځای کې وکاروي او د ایمان پرېکندتوب هم په خپل ځای
کې وکاروي؛ دا ظریف ترښت، یوازې د ښځمنو ځانګړنه ده دا د

ظریف لطافت او پرېکندتوب ګډوله یوازې په ښځمنو کې ده؛ دا هغه غوراوی دی، چې الله تعالی یوازې ښځمنې ته ورکړی دی. هغه نړۍ چې ښځه له کورنۍ جلا کوي او په دروغجنو ژمنو یې بهر راباسي او د ټولنې زهرجن لید او سپکو حرکتونو پر وړاندې یې بې دفاع پرېږدي او ډګر یې د هغې پر حقوقو یرغل ته پرانستی پرېښود؛ هم ښځه کمزوروي، هم کورنۍ رنګوي او هم راتلونکی کهول په خطر کې اچوي؛ نو هر فرهنګ او تمدن چې دا منطق ولري؛ ناورین رامنځ ته کوي او دا چار نن، په لویدیځ کې پېښ شوی او ورځ تر بلې هم ډېرېږي او و دې ویل شي؛ دا له هغو خطرناکو نېزونو دی، چې ویجاړوونکې اغېزې به یې په اوږدمهال کې راڅرګندې شي او لویدیځ تمدن بنسټونه به رنګ کړي. په لنډمهال کې څه نه سترګو کېږي او دا هغه چارې دي، چې اغېز یې په سل دوو سوو پېړیو کې راڅرګندېږي او په لویدیځ کې ددې اخلاقي ناورین څرکونه مخ په لیدل کېدو دي.

اسلام د ښځمنو رښتونی درناوی کړی دی. که په کورنۍ کې د مور پر ونډې او د مور پر درناوي ټینګار کوي او که په کورنۍ کې د ښځې پر ونډه، د ښځې اغېز، د ښځو پر حقوقو، دندو او محدودیتونو ټینګار کوي؛ نو هېڅکله یې مانا دا نه ده، چې ښځه

په ټولنیزو چارو کې، له ګډون او په مبارزاتو او عمومي فعالیتونو کې له برخې اخستو څخه منع کوي.
ځیني کاره یا ناوړه پوهېدلي دي، یوې مغرضې ډلې هم له دې کوربپوهنې ناوړګټنه وکړه او وایي، چې ښځمنه یا باید یوه مور او یا کورودانه وي او یا باید په ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون وکړي.
خبره داسې نه ده؛ هم باید ښه کورودانه، ښه مور وي او هم په ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون وکړي او حضرت فاطمة الزهرا (سلام الله علیها) ددې ټولګې ښکارندوی وه؛ د بېلابېلو چارو ترمنځ ټولګې ښکارندوی.
په اسلام کې د ښځمنې په درناوي نه پوهېدل او په لویدیځ تمدن کې د ښځمنې د درناوي په نامه له ښځمنې د ناوړ پوهنې القا سره ګډ شوی او یو ناسم ذهني او اندیز بهیر یې رامنځ ته کړی. ښځه په کورنۍ کې درنه او د کورنۍ سمبالنې چورلیځ دی؛ د کورنۍ غړیو د راټولېدو د غونډې شمع ده؛ د انس، هوساینې او هستوګنې تومنه ده. کورنۍ د هر انسان، له اندېښنو او ستونزو د ډک ژوند د ستومانۍ د لرې کولو هډه چې د ښځنې په شتون مانا پیدا کوي.
بیا د کورودانې، مور او لور په توګه د درناوي یو اوږد څېړکی

لري؛ نو پردې بنسټ، باید حقیقتا د اسلام له نظره د ښځمنې د ارزښت او کرامت په اړه، بیا لیکنه، بیاویېنه او بیاکتنه وشي.

د کورنۍ او په کورنۍ کې د ښځې د ځګي په اړه د اسلام نظر خورا روڼ دی. ((المراة سیدة بیتها))[1]؛ د کور مشره، د کور ښځه ده؛ دا د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم خبره ده، چې نارینه وو ته وایي: غوره مو هغه دی، چې له خپلو ښځو سره یې چلن غوره دی. دا د اسلام نظرونه دي او دې ته ورته سپارښتنې خورا ډېرې دي. د مؤمن انسان او له هغه انسانه چې الله خوښ دی او کافر انسان او د الله له درشله د لرې شوي، په اړه یې بېلګې، له ښځمنو راوړي او دا ډېره په زړه پورې ده. ددې لپاره چې الله تعالی د ناوړه انسانانو بېلګې راوړي، وایي: ((ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا اِمْرَأَةَ نُوحٍ وَاِمْرَأَةَ لُوطٍ))، بیا هم د دوو ښځمنو بېلګې راوړي، چې تر ټولو ناوړه انسانان ول. د حضرت نوح او حضرت لوط پرمهال خومره کفار ول، ناوړچاري ول؛ خو قرآن یې بېلګه نه راوړي او د حضرت نوح او حضرت لوط د مېرمنو بېلګې راوړي.

[1]. کنزل الاعمال، متقي هندي، ٦ ټوک، ٢٢ مخ (مؤسسه الرساله بیروت).

قرآن کريم چې، مؤمنانو ته بېلګه ور ښيي؛ نو د نارينه وو بېلګه نه راوړي؛ له ښځمنو بېلګه راوړي: ((وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِّلَّذِينَ آمَنُوا اِمْرَأَةَ فِرْعَوْنَ))[1]؛ دلته متعال الله، دوې ښځمنې، د سترو او مؤمنو انسانانو- نه له سترو ښځمنو- ښيي د دوو بېلګو په توګه؛ يعنې د انسانيت او مانيز تکامل په ډګر کې چې متعال الله دوې غوره بېلګې ښيي؛ نو د پېغمبرانو، سترو انسانانو او ديني او علمي وګړو خبره نه کوي؛ بلکې د دوو ښځمنو خبره کوي، چې يوه يې آسيه د فرعون مېرمن ده. ((إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ[2]))؛ بله ښځمنه، حضرت مريم د حضرت عيسی مور او د حضرت عمران لور ده.((مريم ابنة عمران)). مريم يوه ځوانه ښځمنه ده، د خپلې سيمې د خلکو د ناروا تورونو او ناوړګومانونو پر وړاندې د يوه غره په څېر کلکه درېږي او کلمة الله او هغه روح چې متعال الله په خپل بشپړ ځواک د هغه په پاکه لمن کې ايښی، په لاس کې را اخلي او د يوه ځلنده رڼا زيږي په څېر د وخت تورتم تيارو ته يې بوځي.

[1]. تحريم سورت/ يوولسم آيت.

[2].پورته سرچينه.

دا دوې ښځمنې، پر نړۍ رڼا شيندي. دا ددې څرګندوی ده، چې د محشر په پراخه او ستر ډګر کې، چې له لومړني تر روستي ټول انسانان پکې راټول وي؛ چې کله متعال الله، په ټولو انسانانو کې دوه انسان وټاکي او د بېلګې په توګه يې ښيي؛ نو دوې ښځمنې ټاکي؛ نه دوه نارينه او نه يو نارينه او يوه ښځه. په دې چار کې خوالې دي.

د هغو دوو ښځمنو [حضرت مريم (س) او حضرت آسيه (س) ] موضوع هم په کورنۍ پورې اړوند ده... د حضرت مريم په اړه هم همدغسې ده: ((الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا[1]))؛ خپل ناموس يې وساته، خپل عفت يې وساته. دا ددې ښکارندوی ده، چې د حضرت مريم (سلام الله عليها) د ژوند په چاپېريال کې د ښځمنو د ناموس او عفت لاملونه وو، چې مبارزه يې ورسره کړې وه.

په دې پوه شئ، چې په واقع کې، کورنۍ هم ښځه رامنځ ته کوي، د کورنۍ جوړولو آريز زنې، ښځه ده، نه سړی. شونې ده، بې سړي کورنۍ وي؛ يعنې فرض کړئ، چې په کورنۍ کې يې سړی نه وي، يا مړی شوی وي؛ نو که د کور مېرمن، که د عقل او تدبير

---

[1]. تحريم سورت/ دولسم آيت.

ښځښتنه وي؛ نو کورنۍ ساتي؛ خو که ښځه له یوې کورنۍ واخستل شوه؛ نو سړی کورنۍ ساتلی نشي؛ نو ښځه ده، چې کورنۍ ساتي. اسلام، ښځې ته په کورنۍ کې ځکه دومره ارزښت ورکوي، چې که ښځه کور ته پابنده شوه، لېوالتیا یې وښوده، اولاد روزنې ته یې اهمیت ورکړ، خپل اولاد ته رسونه وکړه، شوده یې ورکړل، په خپله غېږ کې یې ستر کړل، فرهنګي خواړه -قیصې، احکام، قرآني کیسې او عبرتي خبرې- یې چمتو کړل او په هر فرصت کې یې د بدني خوړو په څېر، خپلو ماشومانو ته ور وځکل؛ نو د دې ټولنې کهول به سرلوړی او پوخ وي. دا د ښځې هنر دی، چې له زده کړې، ښوونډۍ، کار کولو او سیاسي فعالیتونو سره په ټکر کې نه دی.

مور په خورا توګه، خپل اولاد روزلی شي، مور چې خپل اولاد روزي؛ نو دا روزنه یې په ښوونځي کې د روزنې په څېر نه ده؛ په کړنو یې ده، په وینا یې ده، په عاطفه ده، په مینه ورکولو ده، په ژوند کولو ده. مینډې، په ژوند کولو، اولادونه روزي او څومره چې ښځه هوښیاره او عقلمنه وي، د اولاد روزنه به یې غوره وي. مورنۍ ونډه له دوه ځانۍ/ حمل پیلېږي او د انسان د ژوند تر پایه دوام مومي. هغه سړی چې ځوان شوی او له ځوانۍ هم تېر شوی،

بیا هم له خپلې مورنۍ مینې او کړنلارو اغېزمن دی. که ښځمنې د خپل معرفت، لیدانې او معالوماتو کچه لوړه کړي؛ نو دا ونډه، له بلې یوې ونډې، بل اغېزمن، فرهنګي او اخلاقي اغېزو سره پرتلنوړ نه دی.

یو وخت د یوې مور د معرفت کچه ټیټه ده؛ البته دا نشي کړای په ستر پېر اغېز وشیندي؛ دا د یوه انسان د معلوماتو د لږوالي ګناه ده؛ دا د مورني اغېز نیمګړتیا نه ده. مور ده، چې په خپل بدن، روح، خلق و خوی، ځانخبرې او ناځانخبرې، فرهنګ، معرفت، تمدن او د یوه ټبر اخلاقي ځانګړنې، خپل اولاد ته لېږدوي. ټول له خپلو میندو اغېزمن دي. هغه چې جنتي کېږي، د جنتي کېدو بنسټ یې مور ایښی دی. ((الجنة تحت اقدام امهات)).

باید داسې یو کار وکړو، چې اولادونه د خپل مو لار ښکل کړي، اسلام په دې چار پسې دی. که څه دا کار په دیني او اخلاقي کورنیو کې شته او لیدل کېږي.

اولادونه دې د مور درناوی وکړي او دا درناوی، د مور او اولاد ترمنځ له هغه عاطفي او خودماني اړخ سره هېڅ په ټکر کې نه دی. دا درناوی باید وي. ښځه باید په کورنۍ کې درنه وي. ان که مور په کوم کور کې هم نه وي. فرض وکړئ یو ښځه ده، یا

لنګېدل نه غواړي یا د لینګوال لپاره یې هر دلیل وي؛ خو کورودانه ده. د کورودانۍ ونډې ته په درنه وګورئ. که غواړو چې مېړه په ټولنه کې ګټور وي، باید په کور کې ښه کورودانه ولري او که داسې نه وي؛ نو نه کېږي.
مسلمان ښځمنه دې د پرمختګ، تکامل او د عمل لاس ته راوړنې لپاره هڅې وکړي، د مانیزې او اخلاقي ځانسازۍ په لار کې، د جهاد او مبارزې په ډګر کې-د هر ډول جهاد او مبارزې ډګر-دې مخکښانې وي، دنیوي کم ارزښته ځلبل ته دې پروایي نه کوي؛ عفت، حیا، پاکلمنتوب، عصمت او طهارت دې یې دومره وي، چې د هر سپک، پردي سترګې، پخپله له ځان وشړي او وتمبوي.
مور تر هر جوړوونکي، غوره جوړوونکې او ارزښتمنه ده. خورا ستر عالمان، ممکن، د بېلګې په توګه یو پېچلې برښنایي اوزار جوړ کړي، ستر توغندي جوړ کړي، د فضا د تسخیر وزلې اختراع کړي؛ خو دا یو هم د هغه ارزښت نه لري، چې یو څوک یو ستر انسان جوړ کړي او دا مور ده او دا د اسلامي بېلګې مېرمن ده.
د ښځې په چارو کې، څه چې په لومړۍ درجه کې ارزښت لري، د کورنۍ مساله ده؛ د کورنۍ د یوه غړي په نامه د ښځې ونډه. زما په اند، ددې ونډې ارزښت، تر ټولو هغو ونډو ډېر دی، چې ښځه

يې ترسره کولای شي. البته ځينې دا خبره، په کلکه ردوي او وايي، چې تاسې غواړئ، ښځه په کور کې بندي کړئ او په ټولنه کې يې د فعاليت مخه ونيسئ؛ نه، موږ داسې نه وايو او اسلام هم داسې نه دي غوښتي.

اسلام چې کله وايي: ((وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ))؛ يعنې مؤمنين او مؤمنانې، د ټولنيز غونډال د ټولګې په ساتنه، پر نېکيو امر او له بديو نه په منع کې سره برخوال او شريکوال دي؛ ښځمنه يې استثناء کړې نه ده، موږ نه شو کړای، ښځمنه استثناء کړو. د اسلامي ټولنې د سمبالنې پازوالي او د اسلامي ټولنې د پرمختګ دنده، د ټولو پر غاړه ده؛ د ښځمنو او نارينه وو پر غاړه ده او هر يو يې د خپل وس هومره.

د اسلامي ټولنې سمبالنه او پرمختګ د ټولو پرغاړې دی؛ د ښځمنو پر غاړه، د نارينه وو پرغاړه؛ هرڅوک تر خپلې وسې پر او پازوال دی. پردې وينه نه ده، چې آيا ښځه له کوره بهر پازوالي او مسووليت پر غاړه اخستی شي که نه – البته چې کولای شي او شک پکې نشته او اسلامي ليد مطلقا دغه ردوي- وينه پردې ده، چې آيا ښځمنه کولای شي، له کوره بهر د مسووليتونو، مطلوبو

او خوږلنیو په پار، په کورنۍ کې خپله ونډه له منځه یوسي؟ مورنۍ ونډه، د کورودانۍ ونډه؟ داسې حق لري که نه؟ موږ پر دغې ونډه ټینگار کوو. زه وایم، تر ټولو مهمه ونډه چې یوه ښځه یې د علم، سواد، معلوماتو، څېړنو او معنویت په هر کچه ترسره کولای شي، مورنۍ ونډه او د کورودانۍ ونډه ده او دا چارې تر ټولو چارو مهمې دي او دا هغه چارې دي، چې بې له ښځې یې بل څوک نشي کولای. که دا ښځه بل مسوولیت هم ولري، و دې یې لري؛ خو د مورنۍ ونډې او کورودانۍ ونډه یې یې باید خپل آریز او ړومبی مسوولیت وگڼي او د بشر د نوغي پاینه، وده او د انسان د دننیو وړتیاوو رازغونېدا په همدې مسوولیت پورې تړاو لري، د ټولنې روحي روغتیا په دغه مسوولیت پورې اړوند دی. د اندېښنو او ستونزو پر وړاندې هوساینه او هستوگنه په دغه مسوولیت پورې اړوند دی؛ دا خبره دې هېره نشي.
دا کوم هنر نه دی، چې ښځمنه د نارینه پېښې وکړي؛ نه، ښځمنه، ښځینه کارونه لري، چې تر هر نارینه کار یې ارزښت ډېر دی. نن په نړۍ کې ځینو مشکوکو لاسونو، یو ارزښت ضد یون پیل کړی، چې په هر ځای کې شته او په خواشینۍ، چې زموږ د هېواد په ځینو برخو کې هم لیدل کیږي او دوی په دې هڅه کې دي، چې

ښځمنه دې اړ باسي، چې سړی شي! ښځینه توب، د ښځمنې سپکاوی او د شان ټیټوالی ګڼي او وایي، چې ولې پلاني کارونه چې نارینه کوي، ښځمنې یې و نه کړي او د ښځمنو کارونه، د شان ټیټوالي دی! دې چار ته داسې لیدنه، ناسمه لیدنه ده. دا نیمګړتیا ګڼي، چې ښځې ته وویل شي، چې ښځه یې او سړی، سړی دی. ښه، آیا داسې نه ده؟ ستاسې زړه غواړي، چې موږ ښځمنې ته نارینه ووایو؛ هغه مهال یو مصنوعي نارینه، د سړي دویمه کاپي شي؛ دا نو د ښځمنې لپاره کوم ویاړ شو؟ د ښځمنې لپاره، ویاد دادی، چې ښځمنه ووسي؛ یوه بشپړه ښځه یوه بشپړه مؤنثه. د لوړو ارزښتګذاریو په مقام چې ووینو، دا ارزښت -یوه بشپړه ښځه توب- تر یوه بشپړ نارینه توبه لږ نه دی او په ځینو ځایونو کې هرومرو لوړ او ډېر هم دی؛ نو موږ دې ولې دغه ارزښت له لاسه ورکړو؟

البته یو لړ ګډ مسوولیتونه هم شته؛ لکه څنګه چې مې وویل، په ټولنه کې سوبتیا، د ټولنې د عمومي دردونو باندې پوهېدل او د ټولنې د عمومي درملنه، په نارینه یا ښځمنې پورې ځانګړي نه دي؛ ښځمنې هم نشي کولای، له دې مسوولیته اوږه خالي کړي.

په صدر اسلام کې، ښځمنو د جګړې په ډګرونو کې د ټپیانو د پالنې ترڅنګ- چې دا کار ډېری د ښځمنو پرغاړه و- ان کله یې له نقاب سره، د هغه مهال په ستونزمنو جګړو کې توره هم وهله! سره له دې، په کور کې یې د خپل اولاد پالنه هم کوله، اسلامي روزنه یې کوله، خپل حجاب یې ساته؛ ځکه دا چارې یو له بل سره په ټکر کې نه دي. ځینې افراط او ځینې تفریط کوي. ځینې وایي، داچې ټولنیز فعالیتونه مې له مېړه پالنې او اولاد پالنې مخه نیسي؛ نو نباید ټولنیز فعالیتونه وکړم. ځینې وایي، داچې مېړه او اولاد د د ټولنیزو فعالیتونو مخه نیسي؛ نو باید مېړه او اولاد پرېږدم. دواړه ناسمې خبرې دي، یو هم باید، د بل په پار، له لاسه ور نه کړل شي.

ځینې مو پوښتي: تاسې موافق یاست، چې ښځه کار وکړي؟ ورته وایو: البته موږ د ښځو له بېکارۍ سره موافق نه یو؛ ښځه باید کار وکړي؛ البته کار دوه ډوله دی: یو د کور دننه کار او بل له کور بهر کار. دواړه کارونه دي؛ که څوک له کوره د بهر کار وړتیا لري، باید و یې کړي، ډېره هم ښه ده؛ خو یو شرط لري او هغه داچې له کوره بهر کار یې، کورنۍ چارې او مړوښي ژوند ټکنی نه کړي. ځینې ښځې دي چې ځان له سهار تر ماښامه وژني او کور ته چې

راستني شي؛ نو ان د يوې موسکا حوصله هم نه لري، چې دا بده ده. کورنۍ ته دې رسونه وشي او له کوره بهر کار دې دومره وي، چې کورنۍ يې و نه شيندي.

د ښځمنو له بوختيا سره موافق يم. زه له ډول ډول ټولنيز ګډونونو سره موافق يم، که وټيزه بوختيا وي که سياسي، ټولنيزه، خيريه او دې ته ورته چارې؛ دا هم ښه دي. ښځمنې د ټولنې نيمايي ده او ښه ده، چې په بېلابېلو برخو کې له نيمې ټولنې ګټنه وشي؛ خو دوه درې آرونه دې له پامه و نه غورځول شي. يو آر دادی، چې له کوره بهر د ښځې کار دې د کور، کورنۍ، مېړه او مورنۍ چارې تر خپل سيوري لاندې نه کړي. دا کار شونی دی. داسې مېرمنې مو درلودې، چې دغسې وکړل. البته يو څه سخته پرې وي؛ هم زده کړې وکړي؛ هم کوروداني وکړي، ماشوم وزيږوي، ستر يې کړي، و يې روزي؛ نو موږ له هغه بوختيا سره بشپړ موافق يو چې آريزه دنده ټکنۍ نه کړي؛ ځکه دا دنده يې ځايناستی نه لري. که تاسې په خپل کور کې ماشوم و نه روزه يا مو و نه زيږاوه، يا مو د هغه د عواطفو سرباندې ظريف تارونه -چې تر ورېښمو هم ظريف دي- د خپلو ګوتو په سرونو پرانستل، چې کينه کښې نشي؛ نو بې له تاسې، بل يو څوک هم دغه کار نشي کړای؛ نه يې پلار

او نه يې په غوره توګه، کوم بل څوک او دا کار يوازې مور کولای شي؛ خو کومه دنده، چې تاسې يې له کوره بهر، ترسره کوئ، که تاسې و نه کړه؛ نو هلته به لس نور وګړي ولاړ او سوب وي، چې هغه کار وکړي.

نو پردې بنسټ، لومړيت له دغه دندې او مسووليت سره دی، چې بديل نه لري. دا د ښځې سپکاوی هم نه دی او داسې ګومان مه کوئ؛ بلکې د ښځې درناوی دی. په کور کې ده، کوروداني ده، کورنی چاپېريال؛ يعنې د انسان د بوټي د ودې چاپېريال، چمتو کوي. مېره هم دې ته ځانګړی دی، چې له کوره بهر کار وکړي او ددې چاپېريال د تغذيه وزلې چمتو کړي. د دوو همخونو/هم اتاقي په څېر چې يو يې خونه سمبالوي او هغه بل يې خواړه چمتو کوي؛ نو دلته د کوم سپکاوی شوی؟ هغه چې کورنۍ چارې يې پر غاړه دي، هر څه هغه ته ورګوري،هغه دی چې دا چاپېريال جوړوي؛ نو ډېر درناوی يې کېږي؛ يعنې ښځه. سړی هم بايد منډه ووهي او هڅې وکړي او چې کله د ټولنيز مسووليت وار راورسېد، د مبارزې وخت راورسېد، د سياست وخت راورسېد؛ نو بايد دواړه سوب شي. د الله تعالی په لار کې چې د

مجاهدت او هڅو وخت را ورسېد؛ نو باید واړه سوب شي او باید ښځه او مېړه دواړه راشي.
د طاغوت رژیم ضد مبارزو کې، ډېری خلک د مبارزې په ډګر کې وو؛ خو ښځو یې اجازه ور نه کړه، چې مبارزې ته دوام ورکړي؛ ځکه طاقت یې نه درلود او د مبارزې ستونزې یې زغملی نه شوې او سرښندنه یې هم نه درلوده.
ډېری هم اېوته، خپل مړونه او د کورنۍ نارینه یې، د مبارزې ډګر ته وهڅول له هغوی سره یې مرسته وکړه؛ پر شا یې ټپول او روحي ملاتړ یې ورکاوه، پر ۵٦او ۱۳۵۷ کلونو کې چې واټونه او کوڅې، د خلکو په غونډو او لاریونونو ډکې شوې وې؛ نو په دې چار کې د ښځو ونډه خورا ستره وه، چې د خپل کور نارینه یې مبارزې ته وهڅول.
د اسلامي انقلاب او راتپلې جګړې پرمهال، میندو خپل اولادونه، د اسلام او مسلمانانو په لار کې سرښنده او مېړني سرتېري کړل او د انقلاب او جګړې پرمهال، ښځو له خپلو مړونو پیاوړي او مقاوم انسانان جوړ کړل... البته د ایران مېړنیو، پوه او زغمناکو ښځو، هم په انقلاب او هم په جګړې کې - څه د جبهې شاته، څه په جبهو کې او څه په کور دننه- او ټولټال په ټولو ډګرونو کې کارنده ونډه

درلوده او په اند مې چې د ښځو په ټولو ونډو کې، دغه تر ټولو مهمه ونډه ده. د ښځې خورا مهمه دنده، سترو ډګرونو ته د وردانګلو لپاره، د خپل مېړه روحي پیاوړتیا ده او د الله شکر دی، چې په دې ډګر کې ایرانۍ او مسلمان مېرمن ښه څرګنده شوې ده.

په قرآن کریم کې یو له بل سره د ښځې او مېړه د اړیکې لپاره د ((سَکَن)) تعبیر راغلی؛ یعنې د هوساینې او هستوګنې تومنه. دا هستوګنه، دا هوساینه، د حرکت پر وړاندې هستوګنه نه ده؛ ښه هستوګنه ده. حرکت ښه دی؛ دا د ګډوډۍ او توپان پر وړاندې هستوګنه ده. کله د انسان په ژوند کې ګډوډي او توپان رامنځ ته کیږي، د انسان کورودانه یا کورودان انسان ته هوساینه ورکوي؛ خو دا چار هغه مهال شونی دی، چې کورنی چاپېریال ګډوډ نه وي. د قرآن دوه درې آیتونه دي، د آیتونو ته پام وکړئ. یو آیت د روم سورت آیت دی، چې وایي: ((وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا= او له نښو یې دا ده، چې همدا ستاسې له (جنسه)

يې مېرمنې درپيدا کړې))[1]؛ يعنې د الهي ځواک يوه نښه داده، چې تاسې انسانانو ته يې، همدا ستاسې له نوعي، جوړه ټاکلې؛ تاسې سړيو ته يې ښځې او تاسې ښځو ته يې سړي. همنوعي مو دي. ((مِّنْ أَنفُسِكُمْ))؛ جلا نوعی نه دی، په دوو جلاوو پوړونو کې نه دي، ټول يو حقيقت دی، يو جوهر او يو ذات دی. البته په ځينې ځانگړنو کې، يو له بل سره توپيرونه لري؛ ځکه دندې يې جلا دي. بيا وايي: ((لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا))؛ يعنې د بشر په طبيعت کې جوړه توب او دوه جنسي، د ژوندې د سترې موخې لپاره دي او هغه موخه، هوساينه او ارامش دی، چې تاسې د خپل مخالف جنس ترڅنگ، په کور کې دننه -مېړه د ښځې ترڅنگ او ښځه د مېړه ترڅنگ- هوساينه ومومي. سړي ته هم کور ته راتگ، د کور امن چاپېريال، ميناکه، رښتينې او لورانده ښځه د هوساينې وزله ده. د ښځې لپاره د مېړه درلودل، چې مينه ورسره وکړي او د يوې کلکې

[1]. د روم سورت، د ۲۱ آيت يوه برخه؛ ((او له نښو يې دا ده، چې همدا ستاسې له (جنسه) يې مېرمنې درپيدا کړې، چې ورسره ارام ومومئ او ستاسې ترمنځ يې مينه او خواخوږي پيدا کړه.))

کلا په څېر ورته وي -څکه د سړي بدن تر ښځې پیاوړی دی- یوه نېکمرغي ده او کورنۍ دغه چارې، دواړو ته چمتو کوي او ورته د هوساینې او نېکمرغۍ تومنه ده. سړی د هوساینې لپاره، په کورنۍ چاپېریال کې ښځې ته اړمن دی؛ ښځه هم د هوساینې لپاره، په کورنۍ چاپېریال کې مېړه ته اړتیا لري، ((لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا= چې ورسره ارام ومومئ)) دواړه هوساینې او ارامش ته یو بل ته اړتیا لري.

خورا مهم څیز چې بشر اړتیا ورته لري، هوساینه ده. د انسان نېکمرغي په دې کې ده، چې له روحي اندېښنو او ګډوډیو خوندي وي او روحي هوساینه ولري او دغه چار، کورنۍ انسان ته ورکوي؛ هم ښځې ته، هم مېړه ته. راتلونکې غونډله یې خورا په زړه پورې او ښکلې ده. وایي: ((وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً= او ستاسې ترمنځ یې مینه او خواخوږي پیدا کړه.)) د ښځې او مېړه سمه اړیکه دغسې وي: مودت او رحمت، د ملګرتیا اړیکه، د لورنې اړیکه، یو له بل سره مینه وکړي، یو پر بل لورانډ ووسي. له

تاوتریخوالي سره مینه، منلوړ نه ده؛ بې میني لورنه هم منلوړ نه ده. په کورني چاپېریال کې د ښځې او مېړه الهي طبیعت داسې دی، چې د ښځې او مېړه خپلمنځي اړیکه رامنځ ته کوي، چې دغه اړیکه د مینې او لورنې اړیکه ده: ((مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً)) همدغه مینه ده، چې کورنۍ یې سره تړلې دي.

ژوند یوه مبارزه ده. ټول ژوند یوه پرلپسې مبارزه ده، له طبیعي عواملو سره مبارزه، له ټولنیزو خنډونو سره مبارزه، له خپل نفس سره د انسان مبارزه. انسان تل د مبارزې په حال کې دی. انسان چې په بدن کې وي؛ نو روغ دی او په انسان کې دا مبارزه باید سمه، منطقي، پر سم لوري، په سمو کړنو او اوزارونو وي. دا مبارزه استراحت او دمې ته اړتیا پیدا کوي. دا یو سفر او حرکت دی او د دمې او استراحت دغه ځای، کورنۍ ده. انسان باید په کور دننه، ارامتیا وونګېري، که ښځه ده که سړی، کور دننه او له کور بهر؛ نو له یو لړ ستونزو سره مخ یاست او مبارزه کوئ؛ ځکه ټول ژوند؛ یعنې مبارزه. ان که فرض کړو، چې ښځه، له کور بهر بوخته هم نه ده او یوازې کوروداني ده؛ خو بیا هم په معاشرتونو، راکړو ورکړو او سیالیو کې، له یو لړ ستونزو سره مخ ده. د هر

انسان په ژوند کې ستونزې شته او داچې دا ستونزې انسان ستومانه کوي؛ نو دمې ته اړتیا پیدا کوي، چې دغه دمه ځای، کورنۍ ده. کورنی چاپېریال، د انسان د ارامتیا چاپېریال دی.

نو دلته دی، چې د ښځو ونډه څرګندېږي. هغه څوک چې پخپله خواخوږۍ، مینه او لطافت، کورنی چاپېریال جوړولای شي؛ لکه د اوبه د یوه ډنډ په څېر، چې انسان کله ستړی شو او بدن یې چټل شو؛ نو دې ډنډ ته چې ورننوت، ستړیا یې لرې، تازه او دمه شي، د بدن چټلي یې پاکه شي؛ همدغسې کورنی چاپېریال، د هغو انسانانو لپاره، چې د ټولنیزو فعالیتونو له لوخړو، کورنی ته راځي؛ نو د اوبو د ډند په څېر، کورنۍ ورته ستړیا لرې کوونکې، پاکوونکې او دمه کوونکې ده او دا کار یوازې ښځه کولای شي؛ خو که کوروداني زړه له کور سره وي؛ نو داسې به وکړي.

کورنی چاپېریال او د خواخوږۍ کورنۍ هڅه هغه ځای دی، چې د انسان روحي اندېښنې پکې په ارامتیا بدلېږي. سره له دې چې کورنی چاپېریال یو کوشنی چاپېریال دی-لومړی چې دوه تنیز چاپېریال دی او انشاء الله سوکه سوکه ستربېږي- که لس پینځلس تنه هم شول؛ نو بیا پر هماغو دوو تنو راټوله ده. دا کوشنی چاپېریال، د یوه سمندر او ژور سیند په څېر دی. سیندونه به مو

لیدلي وي، چې په څپو او لپونتوب مخې ته ځي، پر دېوالونو ورځي، پر کڅونو ورځي، چې سمندر ته ورسي. سمندر، د سیندونو د اوبو د ارام ځای دی. د سیندونو جوش او خروش، په سمندې کې ارام شي.

## یو پر بل د مېړه او ښځې حقوق او دندې

د اسلام له لید لوري، کورنۍ، یوه کوشنۍ ټولنه ده، چې سترې ټولنې ترې جوړېږي. دا کوشنۍ ټولنه، له یوې ښځې او نارینه جوړه شوې، د اولادونو په زوکړې پراختیا مومي. د کورنۍ د غړیو ترمنځ پوره اړیکې شته، چې ګډې موخې او ګټې لري. د هر غړي نېکمرغي، د ټولو غړیو په نېکمرغۍ پورې تړاو لري. تر واده روسته ښځه او نارینه باید د ټولو غړیو په سوچ کې وي او وګړیزه انده ونلري. د مېړه او مېرمن ترمنځ اړیکه، د دوو ګډونوالو یا دوو ګاونډیانو یا دوو ملګرو په څېر نه ده؛ بلکې ډېر اوچت او د یووالي تر بریده ده.

قرآن کریم په دې هکله ډېر راښکونې تعبیر لري:

روم (۳۰-۲۱ آیت.

د «خلق لکم من انفسکم ازواجا» غونډله سخت نښلون او اړیکه راښیي.

په بل آیت کې د مېړه او مېرمن په باب وايي:

بقره ۲- ۱۸۷ آیت.

یو د بل په جامو د مېړه او مېرمنې یادونه هم سخت نښلون او ټینګه اړیکه راښیي؛ لکه چې جامې د انسان بدن ته خورا ورنژدې

یو ځیز دی او سخته اړتیا ورته ده، چې له تودوخې او سړښته یې وساتي، عیبونه یې راونغاړي، ښکلا او ارامي ورکړي، مېړه او مېرمن هم یو د بل پر وړاندې دغسې دي او باید وي.
اسلام د کورني بنسټ ټینګښت او د مېړه او ښځې ښو اړیکو ته پوره پاملرنه لري او هر یو ته یې دندې او حقوق په ګوته کړي. د مېړه او مېرمن حقوق او دندې په دوو برخو کې رالنډولای شو:
یو: ګډې دندې او دویم: ځانګړې دندې.
دلته د هرې یوې په تشریح لګیا کېږو:

## د مېرمن او مېړه ګډ حقوق او دندې

هغه حقوق او دندې چې مېړه او مېرمن یې باید رعایت کړي، دادي:

**۱- ښه چلن:**

دواړه باید یو له بل سره پوره ښه وچلېږي. قرآن کریم وایي:
نساء (۴) – ۱۹ ایت:
«معروف» د «منکر» پر وړاندې، د هغه چلن پر مانا دی، چې له شرعي او عقلي پلوه غوره وي، که څه په آیت کې خطاب نارینه ته دی؛ خو ښځې هم همدا دنده لري.

باید مېړه او مېرمن یو له بل سره مهربان، نېکخویه، خندني، زړه سواند، مرستیال، غمخور، باادبه، باانصافه، رښتین، خواله ساتي، امین، باوفا، خیرخواه او ښه چلن ولري.

په احادیثو کې هم د مېړه او مېرمن پر خپلمنځي ښه چلن او سلوک ټینګار شوی دی. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي دي: «هغوی د ایمان له پلوه خورا پوره دي، چې خوی یې ښه وي او نېکان مو هغوی دي، چې له خپلو ښځو سره نېکخویه وي».[1]

## ۲- مېړه او مېرمن دې یو د بل پام ځان ته راواړوي:

مېړه او مېرمن دنده لري، په پاکوالي، جامو اغوستو او د وېښتانو په جوړونه کې، یو د بل غوښتنې په پام کې ونیسي. اسلام ښځو ته سپارښتنه کوي، چې په کور کې خپل مېړه ته ځان سینګار او ښکلی کړي او ښې جامې دې واغوندي، پاک سوتره دې وي او عطر دې وکاروي.

امام صادق رحمة الله علیه وایي:

[1] (بحار الانوار، ۷۱/ ۳۸۹مخ.)

یوه ښځه رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ته ورغله او و یې پوښتل: پر ښځې د مېړه حق څه دی؟ و یې ویل: د ښځې دنده داده چې ښه عطر وکاروي، خپلې ښې جامې واغوندي، ښه ځان سینګار کړي او په دې بڼه دې ځان سهار او ماښام خپل مېړه ته وړاندې کوي او د مېړه حقوق تردې ډېر دی[1]».

مېړه هم د خپلې مېرمنې په هکله همدا دنده لري؛ باید پاک سوتره، خوشبویه او ښې جامې واغوندي، خپل وېښتان جوړ او مخ یې پاک وي او په کور کې ښکلی وسي.

جعفر بن محمد رحمة الله علیه، د پلرونو له لارې، له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي: «باید هر یو مو ځان خپلې مېرمنې ته چمتو کړئ؛ لکه چې مېرمن ځان مېړه ته چمتو کوي، روسته جعفر بن محمد وویل: یعنې پاکوالی رعایت کړئ[2]»

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «پر مېړه د ښځې حق دادی، چې خواړه او جامې یې ورچمتو کړي او په ناوړه بڼه ورمخ نشي، که داسې یې وکړل؛ نو حق یې ورپوره کړی دی[3]»

---

[1] وسائل ۲۰/ ۱۵۸مخ.

[2] مستدرک الوسایل ۱۴/ ۲۹۶مخ.

[3] (بحار الانوار، ۱۰۳/ ۲۵۴مخ)

حسن بن جهم وايي:

حضرت موسی بن جعفر رحمة الله علیه مې ولید، چې نکریزې یې کړې وې، و مې ویل: درځار، تاسې هم نکریزې کړې دي؟! و یې ویل: هو. مېرمنې ته د مېړه چمتو کېدنه، پر عفت یې ورزیاتوي. هغه ښځو خپل عفت له لاسه ورکړی و، چې مړونو یې، ځان ورته چمتو کړی نه و. روسته یې وویل: دادې ښه راځي چې خپله مېرمن دې په هغه بڼه ووینې، چې ته ځان پر هماغه بڼه ورښکاره کوې؟ و مې ویل: نه. و یې ویل: مېرمن دې هم همدغسې ده.[1]»

**۳- خوند اخستنه:**

که څه خوند اخستنه او د جنسي غریزې مړول د واده ټوله موخه نه ده؛ خو یوه مهمه موخه یې ده او د کورني بنسټ په ټینګښت او د مېړه او مېرمنې په ښو اړیکو کې ژور اغېز لري؛ نوځکه خوند اخستنه، د مېړه او مېرمن یوه دنده ده. باید دواړه یو د بل د جنسي غریزې مړولو او استمتاع ته چمتو وي. که د یو یې جنسي عمل

---

[1] وسائل ۲۰/ ۲۴۶مخ.

ته شوق کېده، بل دې هم ځان ورچمتو کړي او پلمې دې نه کوي.
رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ښځو ته ویل:
«لمونځونه مو مه اوږدوئ، چې خپل مړونه مو [له جنسي ګټې اخستنې] پر څټ کړئ[1]»
مېړه دې په کور والي کې یوازې د خپل خوند اخستو په فکر کې نه وي؛ بلکې د خپلې مېرمنې د خوند اخستو فکر دې هم ورسره وي؛ ځکه د جنسي غریزې مړول، د مېړه او مېرمنې په خپلمنځي ښو اړیکو او د کورني بنسټ په ټینګښت کې پوره اغېز لري.
حضرت علي کرم الله وجهه ویلي:
« چې خپلو مېرمنو ته ورځئ؛ نو په کوروالي کې بېړه مه کوئ[2]»
امام رضا(ع) (د یوه حدیث په ترڅ کې) وویل: «مېرمنې هماغه توقع درنه لرې، چې ته یې ترې لرې»[3].

## ۴- د اولاد ساتنه او روزنه:

---

[1] وسائل ۲۰/ ۱٦۴مخ.
[2] مستدرک الوسائل ۱۴/ ۲۲۱مخ.
[3] پورته سرچینه.

د اولاد ساتنه، بدني او روحي پالنه او ښوونه او روزنه يې د مور او پلار ګډه دنده ده او د دواړو ټينګې همکارۍ ته اړتيا لري. په دې باب د پلار دنده خورا درنه ده؛ خو د مور ونډه خورا حساسه او رغنده ده.

## دمېړه او مېرمنې ځانګړې دندې

**(الف) د مېړه دندې:**

نارینه پر ګڼو دندو سربېره، د خپل ځانګړي پیدایښت له لامله ځانګړې دندې هم ور تر غاړې دي، چې ځینو ته یې اشاره کېږي:

**۱. د کورنۍ پالندوینه:**

په اسلام کې، د کورنۍ اداره او پالندوینه د نارینه پر غاړه ورایښوول شوې ده.

الله تعالی په قرآن کریم مجید کې وایي: نساء (۴) – ۳۴ آیت:

باید کورنۍ چارې د مېړه او مېرمنې په سلامشوره ترسره شي؛ خو په هر حال، دا کوشنۍ ټولنه، د بلې هرې ټولنې په څېر بې له یوه باتدبیره او بانفوذه پالندوی او مدیر ښه نه اداره کېږي. ډېری کورنۍ بې له مدیر څخه ښه حالت نه لري؛ نوځکه یا باید مېرمن د کورنۍ پالندوینه پر غاړه واخلي یا مېړه.

داچې د ډېرو نارینه و عقلي اړخ پر ښځو ور اوچت دی او د ژوند تدبیر او څارنې ته ډېر چمتوالی لري او د ستونزو زغملو ته ډېر چمتو والی لري او د ستونزو زغملو ته ډېر چمتو دي؛ نو د کورنۍ د پالندوینې مسوولیت یې پرغاړې وراېښوول شوی دی، اپوټه، د

ښځو احساسات او عواطف پر نارينه و ورزيات دي؛ نوځکه د کورنۍ ګټه او صلاح په دې کې ده، چې د نارينه پالندوينه ومني او د ژوند مهم کارونه يې په مشوره وکړي او په اختلافي ځايونو کې يې حاکميت او منځګړتوب ومني.
ناويلي دې نه وي، چې د نارينه له پالندوينې مطلب دا نه دی چې په زوره کورنۍ اداره کړي او څه چې غواړي، هماغه وکړي او د کورنۍ نورو غړيو ته د نظر څرګندولو حق ورنکړي؛ ځکه مدبر مدير ښه پوهېږي، چې کوشنۍ يا ستره مؤسسه په زور تنظيمولای نشي، په تېره کورنۍ چې بايد د کوشنيانو او د هېواد د آينده سازانو د ارامۍ ځای دی؛ بلکې منظور دادی چې د کورنۍ له نورو غړيو سره په تفاهم، سلامشوره او مرسته يې کورنۍ چارې تنظيم او په اختلافي ځايونو کې روستۍ هوډ نارينه وکړي. د نارينه د پالندوينې مسووليتونه په درېيو برخو کې رالنډولای شو:
١- د کورنۍ د بودجې چمتو کول او د عايداتو او لګښت حسابول يې او په سلامشوره د ژوند د کړلارې تنظيمول؛
٢- د کورنيو د غړيو پاسوالي او څارنه؛

۳- د کورنیو د غړیو پر دیني، اخلاقي او فرهنګي مسایلو څارنه، بدني او روحي ودې او بشپړتیا ته یې ښیون او د ټولنیزو او اخلاقي مفاسدو د پیښېدو مخنیوی.

۲. د نفقې تامین: په اسلام کې د کورنۍ ټول لګښت د نارینه پر غاړه ور اچول شوی دی.

اسحاق بن عمار، امام صادق رحمة الله علیه وپوښت:

«پر مېړه د مېرمنې حق څه دی؟ و یې ویل: خواړه او جامې یې ورچمتو کړي او ښوییدنې یې ور وبښي[1]»

۳. اکرام او ګوزاره: مېړه دنده لري، د خپلې مېرمنې قدر وپېژني او د الله تعالی له لوري یې یو نعمت وبولي، عزت یې وکړي او ښه چلن ورسره وکړي، ښویېدنې یې وبښي، سختګیري او ځېل ورسره و نه کړي، اسلام دغسې چلن د ښځو له حقوقو او د مېړه له دندو بولي.

امام زین العابدین (سجاد) ویلي:

«د مېرمنې حق دې دادی، چې پوه شې، متعال الله تعالی هغه ستا د ارامۍ وزله ګرځولې او پر تا د الله تعالی له لوري یوه لورنه ده؛ نو عزت یې او ګوزاره ورسره وکړه، که څه ته هم پرې حق

---

[1] مکارم الاخلاق ۱/ ۲۴۸ مخ.

لرې، ته باید زړه سواندې پرې وسې؛ ځکه ستا اسیره ده، باید خواړه او جامې یې ورچمتو کړې او که تېروتنه یې وکړه، و یې ښنې[1]».

۴. دیني او اخلاقي څارنې: مېړه دنده لري، د خپلې مېرمنې گروهیزو، اخلاقي او دیني مسایلو ته پاملرنه ولري: یا پخپله په دې باب مرسته ورسره وکړي یا یې د زده کړې لاره چاره ورچمتو کړي. اخلاق او چلن یې وڅاري. ښو چارو او غوره اخلاقو ته یې راوبلي او له ناوړه چارو او اخلاقو یې نهې کړي، لنډه داچې د دوزخ له اوره یې وژغوري او جنت ته یې وبلي. دا د پالندوینې یوه ښنه ده، چې پر نارینه و ورایښوول شوې ده. قرآن کریم وایي: تحریم (٦٦) – ٦ آیت:

**(ب) د ښځې دندې:**

ښځه هم د خپل مېړه په هکله ډېرې درنې دندې لري، چې په احادیثو کې ځینو ته یې اشاره شوې ده. ټولې دندې، په یوه لنډه غونډله کې رالنډې شوي او هغه داچې، د مېړه ښه پالل دي. حضرت علي کرم الله وجهه ویلي:

[1] بحار الانوار ۷۴/ ۵ مخ.

« جهاد المراة حسن التبعل، د ښځې جهاد په دې کې دی، چې خپل مېړه ښه وپالي[1] »

په روایت کې « حسن التبعل » یوه لنډه غونډله ده؛ خو پراخ مانا لري او ټول ښه رانغاړي.

د یوې ښځې په هکله ویلای شو چې: خپل مېړه ښه پالي، د مېړه پالندوینه مني او پاسوالي ترې کوي، مقام یې په کورنۍ او اولادونو کې ساتي، په مهمو چارو کې سلامشوره ورسره کوي، لارښوونې یې مني، که کوم وخت یې له کوره د وتو اجازه ورنکړه، نه وځي، په ښه خوی، ښه چلن او مینه د مېړه پام ځان ته را اړوي او کور د مینې پر ځاله بدلوي، په ستونزو کې د مېړه مرستې ته وردانګي، د مېړه د مالونو په هکله امانتواله ده او له بې ځایه لګښته ډډه کوي. په ښو چارو کې یې هڅوي، په کور کې ښې جامې اغوندي او ځان مېړه ته سینګاروي او تل ورته چمتو او په واک کې یې وي، د کور چارې تنظیموي او د اولادونو په پالنه کې هلې ځلې کوي، خواله ساتې، امینه، مهربانه او زړه سواندې ده...

---

[1] بحار الانوار ۱۰۳/ ۲۵۲ مخ.

د دغسې ښځې په باب ویلای شو: مېړه ښه پالي او کړه وړه یې د الله تعالی د لارې د جهاد په لیکه کې دي. په احادیثو کې د ځو ځیزونو په اړه ټینګار شوی دی:
۱. په روا ځایونو کې د مېړه اطاعت؛
۲. له مېړه سره کوروالی؛ خو په هغو ځایونو کې چې شرعي منع وي؛
۳. د مېړه د شتمنیو په ساتنه کې امانتوالي؛
۴. پاکلمنتوب؛
۵. له کوره په وتو کې له مېړه اجازه اخستل؛
امام صادق رحمة الله علیه یې له پلرونو، له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي:
« تر اسلام روسته د مسلمان ښه برخه دا ده، چې داسې مېرمن یې ورپر برخه شي، چې ورته ویني، خوشحالېږي او لارښوونې یې مني، پسي شایې خپل ځان او د هغه شتمني ساتي[1] ».
امام محمد باقر رحمة الله علیه ویلي:
یوه ښځه رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ته ورغله، و یې ویل: یا رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم !

---

[1] وسائل ۲۰/ ۴۱مخ.

پر ښځې د نارینه څه حق دی؟ و یې ویل: باید د مېړه له امره سرغړونه ونکړي، له کوره بې اجازې خیرات ورنکړي، بې اجازې یې نفلي روژې و نه نیسي، د کوروالي یې خنډ نشي، که څه پر اوښ سپور وي، بې اجازې یې له کوره و نه وځي[1]»

[1] وسائل ۲۰/ ۱۵۸ مخ.

## د ښځې مهر او فلسفه يې

نارينه د نکاح تړلو پرمهال يو څه خپلې مېرمنې ته وړاندې کوي، چې په اصطلاح، «مهر او صداق» ورته وايي، په قرآن کريم کې د «صداق »کلمه کارول شوې ده. قرآن کريم وايي: نساء۴ آيت: مهر او صداق ته، ټاکلې اندازه ټاکل شوې نه ده؛ بلکې د نر او ښځې په توافق پورې اړه لري. امام محمد باقر رحمة الله عليه ويلي:

«صداق هغه څه دي، چې مېړه او مېرمن پرې توافق کوي، لږ وي که ډېر[1]»

د لږ تر لږه مهر لپاره هم څه اندازه ټاکل شوې نه ده؛ خو په احاديثو کې راغلي چې ډېر ناڅيزه دې هم نه وي.

امام جعفر صادق رحمة الله عليه يې له پلرونو له حضرت علي کرم الله وجهه روايتوي:

« ښه مې نه ايسي چې «مهر» له لسو درهمو لږ وي، چې له هغو پيسو سره ورته نه وي، چې زنا کارې ته ورکول کېږي[2]»

---

[1] وسائل ۲۱/ ۲۴۰ مخ.

[2] وسائل ۲۱/ ۲۵۳مخ.

حد اکثر مهر ته ټاکلی مقدار ټاکل شوی نه دی، چې څومره ډېر وي توپیر نه کوي؛ خو اسلام د درون مهر ټاکنه او پکې سیالي کول، ښه نه بولي او منع یې ترې کړې ده.

حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «د ښځو مهر مه درنوئ او په ډېروالي کې یې سیالي مه کوئ؛ ځکه د دښمنۍ لاملېږي[1]»

د مهر په ټاکنه کې هومره سخت ګیري پکار نه ده، چې ځوانان د واده شونتیا ونلري، په دې هکله ښه دا ده چې له زیاتي او کمي ډډه وشي او د مېړه او مېرمنې د شان او د ناوې او زوم د کورنیو د ټولنیزې وګړې په پامنیوي، د دوی د وټېزو شونتیاوو له مخې، په مناسب مهر توافق وکړي.

د مهر د ډول په ټاکنه کې هم څه محدودیت نشته؛ بلکې هر ډول مال کېدای شي؛ لکه سره، سپین، املاک، ډول ډول دودیزې پیسې، د ژوند لوازم؛ فرش، لوښي، موټر، جامې او څه چې د ملکیت کېدو وړ وي؛ خو د ښځې ګټه او صلاح په دې کې ده، چې د امکان په حال کې خپل مهر سره، سپین یا په څېر څیزونه یې وټاکي، چې ورته زېرمه وي او د وخت یه تېرېدو یې ارزښت را ټیټ نشي.

---

[1] وسائل ۲۱/ ۲٦٦ مخ.

مهر کېدای شي نغد وي یا نسیه، د مېړه پر غاړه وي یا د بل چا او دا د مېرمنې په توافق پورې اړه لري.
که مهر نغدې وي، ښځه یې تر واده مخکې غوښتای شي، که مېړه یې د ورکولو وس لري؛ نو باید ور یې کړي او که ډډه یې وکړه، مېرمن حق لري، له کوروالي ورسره ډډه وکړي، چې دا دریځ یې د نفقې د نه ورکړې لاملېږي نه.
که مهر نسیه وي او ټاکلې موده ورته ټاکل شوې وي، مېرمن د مودې تر پوره کېدو وړاندې، د غوښتو حق نلري او که وخت یې ټاکل شوی نه وي؛ نو هر وخت چې ښځې وغوښت او مېړه یې د ورکړې وس لري، باید بې ځنډه یې ورکړي.
د مهر حقیقي مالک، که ملک وي که نغدې پیسې، پخپله ښځه ده او څوک حق نلري، بې د مېرمن له خوښې، په مال کې یې تصرف وکړي، ان مور و پلار او مېړه یې او ګټه یې هم په خپله ښځې پورې اړه لري.
حضرت رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: « الله تعالی په قیامت کې هره ګناه ښښي؛ خو دا درې ګناهونه نه ښښي: څوک

چې د خپلې مېرمنې مهر وخوري، د مزدور مزدوري ورنکړي او ازاد انسان د مريی په نامه وپلوري[1]»

« حضرت موسی بن جعفررحمة الله عليه وپوښتل شو: پلار د خپلې لور مهر خوړای شي؟ و يې ويل: نه، حق نلري» وسائل ۲۱/ ۲۷۲ مخ.

که مهر نسيه او د مېړه پر غاړه وي؛ نو د غوښتو پرمهال دې يې ورکړي.

امام صادق رحمة الله عليه د هغه سړي په باب، چې ښځه يې په نکاح کړې وه ولې نيت يې و، چې مهر يې ورنکړي، وويل: «دا کړه زناشمېرلېږي». وسائل ۲۱/ ۲٦٦مخ.

امام صادق رحمة الله عليه ويلي: «نارينه چې خپلې مېرمنې ته کوم مهر وټاکي؛ خو د ورکړې نيت يې نلري؛ نو د غله په څېر دی» وسائل ۲۱/ ۲٦٦ مخ.

امام صادق له خپلو پلرونو، له رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم روايتوي: «ځوک چې د خپلې مېرمنې مهر ورنکړي، د الله تعالی په نزد زناکار شمېرلېږي. الله تعالی د قيامت پر ورځ ورته وايي: خپله مينزه مې په خپله ژمنه در واده کړه؛ خو تا پر خپله ژمنه

[1] وسايل ۲۱/ ۲۷۲مخ.

وفا و نه کړه او زما په مینزه دې تېرى وکړ؛ نو د ښځې د حق هومره، له سړي نېکۍ اخلي او ښځې ته يې ورکوي او که څه نېکي پاتې نشوه، امر کوي، په دوزخ کې يې واچوئ؛ ځکه په خپله ژمنه يې وفا کړې نه ده او ژمنه پوښتېدونې ده[1]»

[1] وسائل ۲۱/ ۲۷۶ مخ.

## د مهر فلسفه

شونې ده، څوک د مهر ټاکنه تر پوښتنې لاندې ونیسي، ووایي:
ښځه او نارینه له جنسي پلوه یو بل ته اړتیا لري او له دې لارې یو بل ته ور جذب شوي او واده کوي؛ نو مهر څه مانا لري؟
په مهر ښځه تحقیر او سپکه شوې او د راکړې ورکړې د یوه څیز هومره راټیټه شوې ده. نارینه په مهر، ښځه خپله مینزه کوي.
په ځواب کې وایو:
په اسلام کې نه ښځه یو څیز او مینزه شمېرلېږي او نه مهر، د معاملې بیه ده؛ بلکې مهر یوه ډالۍ ده، چې د مېړه له لوري خپلې مېرمنې ته ورکول کېږي، چې درنښت یې وکړي او خپله مینه ورڅرګند کړي.
د مطلب سپیناوي ته دوو مهمو ټکیو ته اشاره کېږي:
لومړی ټکی:
سره له دې چې د جنسي غریزې له پلوه نر او ښځه یو بل ته اړتیا لري او طبعا یو د بل غوښتونکي دي؛ خو هر یو یې ځانګړنې لري:
د ښځې یوه ځانګړنه، لطافت او ښکلا یې ده او له همدې لارې نارینه ته جاذبه او راښکون لري. د ښځې د نفوذ ډېر مهم لامل

يې ښکلا ده او نارينه يې په باب ځانګړې پاملرنه او لورنه لري. ښځې له فطرته په الهام، دا موضوع موندلې؛ نوځکه ځان سينګاروي، چې ځان ښکلې وبرېښوي او ښه د نارينه په زړه کې ورننوځي.

د ښځې دويمه ځانګړنه داده، چې له جنسي غريزې سره سره، په پټولو کې يې تر نارينه مقاومه ده، ځان مړه خوا ښيي او د نارينه پر مارکې نه ورځي.

غوره بولي د نارينه په زړه کې ورننوځي او پر ځای يې رامات او مېين کړي، له همدې ځايه د ښځې سينګار، ځانښوونه او ناز و نخرې راولاړېږي؛ نوځکه ښځه تر هر څه وړاندې، د نارينه د زړه اېلوونکې ده، چې پر ځان د نارينه زړه وبايلي.

خو نارينه د جنسي ځواک پر وړاندې بېوسې دی او خپله دننۍ غوښتنه پټولای نشي؛ نوځکه د ښځې غوښتنې او پر مار کې يې ورځي، نارينه د ښځې غوښتونکی دی او ورپسې ځي؛ پوهېږي چې ښځه يې مينواله ده، مينه څرګندوي او ناز و نخرې يې پېرې، نارينه د خپلې باطني مينې څرګندولو ته هره وزله کاروي: پيسې لګوي، ډالۍ وروړي او د نکاح تړلو او واده مراسم جوړوي.

د مهر تړون هم يو له همدې وزلو دی. نارينه د خپلې باطني مينې جوتولو، د خپلې مېرمنې درنښت او زړه لاس ته راوړو ته، د مهر په نامه يو څه وروړاندې کوي، قرآن کريم هم مهر پر همدې بڼه څرگندوي؛ ځکه په «صدقاتهن» عبارت ويل شوی او د «نحله» په نامه يې ښيي، چې د ډالۍ پر مانا دی.

دا د مهر يوه گټه او د تشريع فلسفه يې وه.

**دويم ټکی:**

د مهر تړون ښځې ته ارامي او نسبي ډاډ ورکوي، چې هغه دندې ترسره کړای شي، چې طبيعت وربادندې ايښي دي. که څه نر او ښځه د واده پرمهال ژمنه کوي، يو بل ته به باوفا وي او د اولادونو په پالنه کې به همکار ي کوي؛ خو کله يې هم اپوټه هم ليدل کيږي، چې نارينه خپله دنده نه پر ځای کوي او د اولادونو له لگښته ډډه کوي، حال دا، طبيعت، پر ښځې ځانگړي مسووليتونه ورايښي، چې له نه کولو يې خپلې اوږې تشولای نشي؛ ځکه نارينه د بزگر او ښځه د کرځي په څېر ده، نارينه د ښځې په زيلانځ کې د اولاد ځاځکی کري او تردې روسته طبعا ازاد دی. نارينه له شرعي، قانوني او اخلاقي پلوه د مېرمنې او اولاد په هکله مسووليت لري؛ خو داچې طبيعت يې څه ورتر غاړې کړې نه دي؛

نو په زیلانځ کې پروت جنین پرېښوای او تښتېدای شي. البته ډېری نارینه داسې نه دي؛ خو په هر حال، د شتون شونتیا یې شته او بېلګې یې لیدل شوې دي.
ښځه دغسې ازاده نه ده او ناچاره ده، د دوه ځانیتوب/ حمل ستونزمن پېر، زېږون او ترې د نقاهت راولاړ شوی پېر تېر کړي. تر زوکړې روسته هم خپل کمزوری او بې ګناه ماشوم لرې غورځولای نشي یا یې وږی وساتي او باید هرومرو تی ورکړي او و یې ساتي. مورنۍ سختې مینې ته په پامنیوي بیا یې هم خوشې کولای نشي؛ بلکې ناچاره ده چې و یې ساتي.
ښځه په دې موده کې، د ژوند لګښت، کور، خوراک، څښاک او اغوستن ته اړتیا لري؛ نو په دغسې یو فرض کې بېچاره ښځه څه وکړي؟ مېرمنې هرومرو له دغسې احتماله په تشویش کې دي.
ښایي د مهر د تشریع یو له علتونو، ځنې په دغسې احتمالي ځایونو کې مېرمنو ته د ارامۍ تامین او نسبي ډاډ او امنیت دی. که مهر ملک دی که نغدې پیسې، ښځه یې اخلي او دغسې احتمالي مواقعو ته یې ساتي او که نسیه هم وي بیا یې هم غوښتای شي.

لنډه خبره داچې، مهر د ښځې ډاډمنی او د واده ملاتړ ته یوه وزله ښوولای شو.

امام صادق رحمة الله علیه ویلي:

« مهر ځکه پر مېړه ایښوول شوی، نه مېرمنې – که څه کار یې یو دی- چې مېړه له مېرمنې خپل خوند واخست؛ نو پاڅي او د ښځې فراعت ته سترګې پر لار نه دی؛ نو په همدې علت مهر او صداق د نارینه پر غاړه ورایښوول شوی نه مېرمنې[1] »

[1] وسائل ۲۱/ ۲۶۸مخ.

## نفقه او فلسفه یې

د اسلام له نظره، د کورنۍ د لګښت چمتو کول، له دې څنې، د مېرمنې لګښت، د مېړه پر غاړه دی. مېړه دنده لري، د خپلې مېرمنې ټول لګښت ورپوره کړي، که څه خپله ښځه تر مېړه شتمنه وي. د نفقې وجوب، د اسلام يو له پرېکنده احکامو څنې دی او دا د مېرمنې حق دی، که مېړه يې ورنکړي، پور پرې پاتېږي او د غوښتنې پرمهال يې بايد ورکړي او که د نفقې له ورکړې يې ډډه وکړه، د اسلام شرعي حاکم ښځه طلاقوي شي.

امام محمد باقر رحمة الله عليه ويلي:

«څوک چې ښځه لري؛ خو جامې او خوراک يې نه ورچمتو کوي، امام دنده لري ترمنځ يې بېلتون راولي[1]»

اسحاق بن عمار وايي: «د امام صادق رحمة الله عليه ته مې وويل: ښځه پر مېړه څه حق لري؟ و يې ويل: خواړه او جامې يې ورکړي او ښويېدنې يې وبښي[2]»

---

[1] وسائل ۲۱/ ۵۰۹ مخ.

[2] وسائل ۲۱/ ۵۱۰ مخ.

د کورنۍ ټولو اړتیاوو ته نفقه وايي؛ خو د امکاناتو او د ځای د زمانې د دود او د کورنۍ د شان په پامنیوي، چې دلته اشاره ورته کېږي:

۱- خواړه، مېوه او نورې دوديزې اړتیاوې د اړتیا تر بریده.

۲- د اړتیا او کورني شان له مخې، دوبنۍ او ژمنۍ جامې؛

۳- فرش او بسترې؛

۴- د خوراک څښاک او پخلې وزلې؛

۵- ګرموونکي او سړوونکي وزلې؛

٦- د روغتیا او درملنې لګښت؛

۷- د پاکوالي او سینګار وزلې؛

او د ژوند نورې اړتیاوې.

*** نیوکه:**

پر نفقې نیوکه شوې چې: ددې حکم په تشریع کې، ښځه سپکه شوې او یوه چوپړیاله شمېرل شوې، چې د کورني سختو کارونو په مقابل کې، خوراک څښاک کوي او جامې اغوندي؟

په ځواب کې وایو:

دا نیوکه له ناخبرۍ راولاړه ده؛ ځکه د اسلام له نظره، د کور چارې، د ښځې پر غاړه نه دي، ان د ماشومانو ساتنه، پالنه او تی ورکول یې پر ذمه ورایښوول شوی نه دی. ښځه کړای شي یو کار هم ونکړي او چوپړ وغواړي او د کور د چارو او د ماشوم د پالنې او تي ورکونې په بدل کې اجرت وغواړي؛ خو په عین حال کې، نفقه یې د مېړه پرغاړه ورایښول شوې ده.

ددې مطلب په پامنیوي، ځنګه ویلای شو:

ښځه سپکه شوې او یوه چوپړیاله ګڼل شوې ده؟ د ویلو ده، که څه، په کور کې کار کول او د کورنیو چارو تنظیمول، د مېرمنو شرعي دنده نه ده؛ خو کورنۍ مینې ته او له اخلاقي پلوه یوه اړتیا شمېرلېږي، چې په احادیثو کې پر «حسن التبعل» یاد شوی دی. یوه مېرمن، د کورنۍ پایښت ته په خپله خوښه او نه زور زیاتي لېواله ده، چې اولادونه وپالي او تر خپلې وسې، د کور چارې تنظیم کړي؛ لکه چې د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنو او لور یې فاطمه دغسې وې.

*** پوښتنه:**

سره له دې چې نر او ښځه د جنسي غريزې په مړولو او د اولادونو په زوکړې او روزنې کې يو بل ته اړتيا لري؛ نو ولې د کورنۍ ټول لګښت ان د ښځې شخصي لګښت هم د نارينه پر غاړه ورايښوول شوی دی؟ ولې يوازې نارينه کار وکړي او ښځه يې وخوري، واغوندي او خوب وکړي او ان د کور چارې هم ونکړي؟ ايا پر نارينه تېرې شوی نه دی؟ ولې د ښځې وټه په مېړه پورې تړلې وي، چې ناچاره وي، تنګسه وزغمي؟ ايا غوره نه ده، دواړه په ګډه کار وکړي او د ژوند لګښت په ګډه پرمخ بوځي؟

*** ځواب:**

ددې پوښتنې په ځواب کې څو مهمو ټکيو ته اشاره کېږي.

١. طبيعت پر ښځې درانه مسووليتونه ور ايښي، چې له ناچارۍ يې ترسره کوي؛ لکه دوه ځانېتوب، زوکړه، ماشوم ته تی ورکول، اولاد ساتنه، روزنه او څارنه او ددې ستونزو مسووليتونو ترسره کول، فراغت او وخت ته اړتيا لري، چې له کوره بهر کار کولو سره اړخ نه لګوي.

۲. ښځه هره میاشت یو ځل، څو ورځې میاشتنۍ کیږي او په دې وخت کې استراحت ته اړتیا لري.
۳. له شرعي او قانوني پلوه، د کور چارې او د اولاد روزنه د ښځې پرغاړه نه دي؛ خو له اخلاقي او دود پلوه، اوږې ترې ایستای نشي؛ ځکه د کورني ژوند له وزلو شمېرلیږي او د کور په ښکلا او د نارینه په دلګرمۍ کې ښه اغېز لري.
۴. ښځه یو ظریف، لطیف او ښکلی موجود دی او همدا ځانګړنې یې مېړه ته د جاذبیت او محبوبیت مهمې وزلې دي. که له کوره بهر پر ستونزمنو او سترې کوونکیو چارو بوختیا یې دا ځانګړنې ټکنۍ کړي او د مېړه لپاره له جاذبیته او محبوبیته راټیټه کړي، چې دا حالت نه د ښځې پر ګټه دی او نه د مېړه. که داسې وي چې ښځې د نارینه و په څېر د ژوند د لګښت لپاره کار وکړي او په دې باب د نر او ښځو مسوولیت سره یو شان وي؛ نو د بوختیاوو په ټاکنه کې د نارینه و له سیالۍ سره مخېږي او کله اړېږي چې سختې بوختیاوې هم ومني؛ لکه په کانونو، د اوسپنې ویلي کېدو، ماشین جوړونې، سېمټ جوړونې، د درونو ضایعو جوړونې په کارخانو او..... په نورو شپنیو سترې کوونکیو کارونو کې بوختیاوې.

له تېرو مطالبو ګټنه کېږي، چې ښځې د نارينه و په څېر د ژوند د لګښت پر چمتو کولو او کار کولو ملزمې نه دي؛ نوځکه اسلام دا چار د نارينه و پرغاړه ورايښي، چې ښځه په فراغت او خاطر جمعۍ، د اولاد په ساتنه او روزنه کې چې طبيعت کوم مسوولیتونه ورباندې ورايښي، ترسره کړي او خپله خوشحالي او ښکلا وساتي، د مېړه په زړه کې خپل مقام وساتي او کور د مينې او ارامۍ ځاله کړي.

په دغسې حالاتو کې، مېړه په خاطر جمعۍ او له مېرمنې او اولادونو سره د مينې په پار ډېره هڅه کوي او د کورنۍ لګښت چمتو کوي او په اخلاص يې خپلې مېرمنې ته ور ډالۍ کوي.

نوځکه، اسلام د واقعياتو په پامنيوي او د نر او ښځې او اولادونو د ګټو او مصالحو په رعايتولو او د کورني بنسټ ټينګولو ته، د کورنۍ د نفقې چمتو کول د نارينه پر غاړه ورايښې ده او بې دليله يې د يوې خوا پلوي او پر بل څه ورتپلې نه دي.

د نارينه او ښځې ګټه او صلاح په دې کې ده، چې نفقه د نارينه پر غاړه وي او ښځه په مالي چارو کې په نارينه پورې ورتړلې وي. داچې نارينه د ښځې مينوال او غوښتونکی دی، بايد لګښت

ورکړي او له دې پلوه، نه يوازې خپه نه؛ بلکې پوره خوشحال دی او وګړه هم احساسوي.

د ښځې مالي تړاو يې په زيان نه دی او چوپړياله ترې نه جوړوي؛ بلکې د واده د بنسټ له ټينګښت سره مرسته کوي. له آره په کورني ژوند کې د نارينه عايدات، په کورنۍ پورې تړاو لري او د اړتياوو په پوره کولو کې لګي.

په پای کې، دا ټکی يادوم، چې پر مېړه د نفقې له وجوبه د اسلام موخه دا نه ده، چې ښځه بېکاره، کورمېشتې او لګښتۍ وي او له کوره بهر کار او مسووليت پرغاړه وانخلي؛ بلکې اسلام وايي: ښځه دې د ژوند د لګښت پوره کولو او کار کولو ته مجبوره نه وي؛ خو د وړتيا، سليقې او امکاناتو په پامنيوي او له مېړه سره په تفاهم مناسبه بوختيا غوره کولای او له دې لارې عايدات تر لاسه کولای شي.

البته عايدات يې خپل دي او اړه نه ده، پر کورني لګښت يې ولګوي. ښه مېرمن، خپل عايدات د مېړه په خبر په اخلاص کورنۍ ته ور وړاندې کوي، چې د ګډ ژوند په تنظيمولو کې برخواله او کورنۍ مينه لا هم زياته کړي.

# په اسلام کې د ښځې میراث

د اسلام له نظره ښځه او نارینه، مساوي حقوق لري، له دې په کار کولو، د مال په لاس ته راوړو، ملکیت او میراث کې سره ګډ دي او یو له بله میراث وړي.
قرآن کریم وایي: نساء (۴) – ۷ آیت.
په دې آیت کې، څرګنده شوې، چې ښځې د نارینه و په څېر میراث وړي او ټاکلې برخه لري.
د میراث آیتونه هغه مهال نازل شول، چې ښځې په نړۍ، په تېره د جاهلیت په عربانو کې، څه ارزښت او مقام نه درلود. د جاهلیت په پېر کې، نارینه د لوڼې د زوکړې له خبرېدو خجالت کېدل او ډېر ځل بې ګناه نجونې یې ژوندۍ ښخولې. د مړي شتمني به یوازې زامنو یا مشر زوی ته ور رسېده او لوڼې له مېراثه بې برخې وې؛ خو داچې پلار په خپل وصیت کې لوڼو ته یو څه ټاکلي وي، یا ورور د زړه سوي له لامله، خپلې خور ته څه ورکړي. له همدې لامله، چې کله د میراث آیت نازل شو او ښځو ته هم میراثي برخه وټاکل شوه، ځینې خلک د دغسې حکم له تشریع هېښنده شول.
امام فخر رازي د آیت په شان نزول کې لیکي:

ابن عباس (رض) روايتوي: «اوس بن ثابت انصاري (رض)» ومړ او درې لوڼې او يوه مېرمن ترې پاتې شوه. دوه د تره زامن يې چې، «سويد» او «غرفجه» نومېدل او د «اوس» وصيان وو، راغلل او ټوله شتمني يې يووړه. د «اوس» مېرمن رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم ته راغله او پېښه يې ورته وويله او و يې ويل: د «اوس» وصيانو خو ما او لوڼو ته څه را نه کړل. رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم وويل: کور ته دې ورستنه شه چې ووينم د الله تعالى له لوري څه امر راته کېږي. تردې روسته، پورته آيت نازل شو او راښيي، چې نارينه او ښځې دواړه ميراث وړي.[1]

هو، اسلام په دغسې پېر کې د ښځې د ميراث په تشريع سره وګړه ورکړه او د نارينه و په ليکه کې يې وشمېرله؛ خو په اسلامي تشريعاتو کې د ښځې د ميراث برخه د نارينه نيمايي ټاکل شوې ده.

الله تعالى په قرآن کريم کې وايي: نساء (۴)- ۱۱ آيت:

د اسلام له نظره، له مور او پلار، زوی د لوڼې دوه ګرايه او يو له بله ورور د خور دوه ګرايه او يو له بله مېړه د ښځې دوه ګرايه ميراث وړي؛ خو د مړ مور او پلار په باب، چې د وفات پرمهال

---

[1] تفسير کبير، ۹ټ، ۱۹۴ مخ.

يې اولادونه ژوندي وي، هر يو په مساوي ډول د مړي د مال شپږمه برخه ميراث وړي.

*** پوښتنه: د ميراث پر قانون نيوکه شوې چې:**

ولې د ښځې په باب تبعيض شوی او د ميراث برخه يې د نارينه نيمايي ټاکل شوې ده؟ ايا دا تېری او تبعيض نه دی؟

په ځواب کې وايو:

د نارينه او ښځې ميراث توپير بايد په دوی پورې اړوند قوانينو جلا نه کړو او نه په ځانګړې توګه وينه پرې وکړو. سمه چې اسلام د ميراث په هکله، د دوی ترمنځ توپير ايښی؛ خو دا توپير د هغو وټيزو مسووليتونو او واقعياتو له مخې دی، چې د نارينه پر غاړه يې ورايښي دي. د اسلام په قانون کې، نارينه بايد يو څه د مهر په نامه خپلې مېرمنې ته ورډالۍ کړي. د ښځې او اولادونو ټول لګښت د نارينه پر غاړه دی؛ نوځکه نارينه ناچار دی، په ټينګه کار وکړي او د ژوند ټول لګښت چمتو کړي؛ خو ښځه پر کار کولو او د ژوند د لګښت په ورکولو اړينه نه ده، ان که شتمني هم لري؛ خو مجبوره نه ده چې و يې لګوي؛ بلکې ځان ته يې زېرمولای شي او کوم مالونه چې کسب و کار، مهر، ډالۍ، ميراث يا بلې هرې مشروع لارې تر لاسه کړي، د ښځې دي او ځان ته

يې زېرمولاى شي، د نارينه پرخلاف چې له شرعي او قانوني پلوه ناچار دى، چې پر مهر سربېره د ځان، مېرمنې او د كورنۍ د ټولو غړيو لګښت چمتو كړي.

نوځكه، ښځه د مېړه په ټولو شتمنيو كې، له دې كوم ميراث يې چې برخه شوى، شريكه ده او په غير مستقيم ډول يې په واك كې وي، حال دا، د ښځې د ميراث برخه سلامته ورپاتېداى شي. لكه چې دغسې وه؛ نو اسلام د ميراث د تشريع له لارې، له نارينه سره لاسنيوى كړى دى.

ددې مطلب په پامنيوي، ايا ويلاى شو: د ښځې د ميراث په باب تبعيض شوى دى؟

كه د انصاف په سترګه وكتل شي، و به منئ، چې نه يوازې د ښځې په اړه تبعيض شوى نه دى؛ بلكې پلويتوب هم ترې شوى دى.

په رواياتو[1] كې هم دې علت ته اشاره شوې ده؛ امام رضا رحمة الله عليه ويلي:

[1] بحار الانوار ۱۰۴/ ۳۲٦مخ.

« د ښځې میراث ځکه د نارینه د میراث نیمایي دی، چې ښځې مېره وکړ، له مېړه یې اخلي او نارینه دنده لري، چې یې ورکړي او په همدې دلیل یې د میراث برخه ډېره شوې ده.
بل علت داچې ښځه، د نارینه عیال او نفقه خوره ده؛ خو پر ښځه واجب نه ده، د مېړه لګښت ورکړي او د اړتیا پرمهال مرسته ورسره وکړي، له همدې لامله، د نارینه د میراث برخه ډېره شوې ده. الله تعالی په دې اړه وایي: «الرجال قو امون............من اموالهم»
هشام بن سالم روایتوي:
ابن ابی العوجا احول ته وویل: ولې په میراث کې، کمزورې ښځه یوه برخه یوسي؛ خو شتمن نارینه دوه برخې؟
هشام وایي: همدا پوښتنه مې له امام رضا رحمة الله علیه وکړه، په ځواب کې یې راته وویل: پر ښځه عاقله دیه، د نفقې ورکړه، جهاد او نور مسولیتونه واجب نه دي؛ خو پر نارینه دا ډول لګښتونه واجبېږي؛ نوځکه، په میراث کې نارینه، دوې برخې وړي او ښځه یوه برخه[1]».

---

[1] بحار الانوار ۳۲۷/۱۰۴مخ.

# اسلام او ګڼ ښځې

اسلام ګڼ ښځې تجويز کړې او سړي ته اجازه ورکوي، په ځانګړيو شرايطو کې د همېشنۍ ښځې په شمول حداکثر څلور ښځې وکړي.

تر اسلام وړاندې ګڼ ښځې دود و؛ خو اسلام نسخ او له منځه يو نه وړ؛ بلکې په سموني پسې يې شو او شرايط يې ورته کېښوول، او حداکثر په څلورو تنو پورې يې محدود کړ. اسلام ددې حکم په تشريع کې له نارينه و پلوتوب کړی نه دی، چې دوی شهوتپالنې او د عياشۍ ته وهڅوي، يا د ښځو حقوق ناليدي وګڼي او تېری پرې وکړي؛ بلکې اپوټه، د اسلام موخه د مېرمنو له يوه طبيعي حقه دفاع ده؛ يعنې د واده حق، د کورنۍ جوړښت، د اولادونو زوکړه او پالنه.

البته په ځينو ځايونو کې د نارينه و له حقوقو دفاع هم موخه وه. نوځکه، د ګڼ ښځې تجويز، د ټاکل شويو شرايطو په رعايت، يوه ټولنيزه اړتيا او د ښځو او نارينه و پر واقعي ګټه او صلاح ده. د مطلب څرګندنې ته دوو سريزو ته اشاره کېږي.

لومړی سریزه:

سره له دې چې د نجونو زوکړه، تر هلکانو ډېره نه ده، شمېرنه ښيي چې اغلب، واده ته چمتو او اړينو ښځو شمېر تر نارينه و ډېر دی.

دا توپير دوه علتونه لري:

لومړی داچې، د نارينه و تلفات، په تېره زلميانو، تر ښځو او نجونو ډېر دي. که د بېلابېلو پېښو له مخې، د مړينو شمېرنې ته مراجعه وکړئ، پردې واقعيت به پوه شئ؛ لکه په جگړو، غورځېدو، لاندې کېدو، ډوبېدو، په کانونو او کارخانو کې د کارگرانو تلفات يې هم ډېر ډېر دي – د ښځو او نارينه و انډول تغيير مومي او پر نارينه و د ښځو شمېر ورزياتېږي. ددې مطلب منلو ته، د روستيو جگړو د انساني ځواکونو تلفات کافي دي؛ لکه پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد يرغل، د مجاهدينو خپلمنځي جگړې، د طالبانو او مجاهدينو ترمنځ جگړې، د طالبانو د راپرځولو او ورپسې له ترهگرۍ سره د مبارزې په نامه د امريکا د متحده اياﻻتو په مشرۍ د نړيوال ائتلاف جگړې، د عراق او ايران جگړه، پر عراق د امريکا يرغل، په اروپا کې د عربانو او بوسنيايانو جگړه، پر يوکراين د روسيې يرغل او د نړۍ په بېلابېلو ځايونو کې چې جگړې او تېرې روان دي.

ددې جګړو د انساني ځواک تلفات ډېر زيات او وحشتناک دي او ډېرى وژل شوي نارينه او ځوانان دي، چې يا يې ودونه کړي نه وو يا يې نوي ودونه کړي وو. اوس وشمېرئ چې د همدې جګړو له لامله څومره د مېرمنو پر شمېر ورزيات شوی او د نارينه و له شمېره کمېږي؟

دويم داچې، ځينې پوهان مدعيان دي، چې د رنځوريو پر وړاندې د ښځې مقاومت تر نارينه و ډېر دی. د کوشنيانو، هلکانو او زلميانو د مړينې د شمېرنې څېړنه دا نظر تاييدوي. د ښځې منځنی عمر تر نارينه ډېر دی. شمېرنه ښيي چې کونډې ښځې تر کونډه سړيو ډېرې دي؟ نوځکه د هغو کونډه‌و شمېر چې واده ته اړتيا لري، تر هغو مجردو نارينه و ډېر دی، چې واده ته اړتيا لري او غواړي يې.

موږ پرېمانه کونډې وينو، چې غواړي د زړه په غوښت سړي سره واده وکړي؛ خو امکان يې ورته چمتو نه دی. بلخوا هومره مجرد نارينه نه وينو چې واده ته ورمات وي؛ خو داسې ښځه به و نه مومې، چې واده ته چمتو نه وي.

**دويمه سريزه:**

واده او د کورنۍ جوړول، د انسان یو له طبیعي حقوقو څخه دي؛ لکه چې بشر د کار کولو، کور، روغتیا، خوراک، څښاک او جامو درلودو حق لري؛ نو د واده حق هم لري. هر انسان که نارینه وي که ښځه، حق لري واده وکړي او له ارامۍ، کورنۍ مینې او د مشروع او قانوني اولادونو زوکړې او پالنې برخمن شي. ښځه هم داچې انسانه ده، د دغسې یو څیز حق لري؟ نوځکه، ټولنیز قوانین باید داسې تنظیم شي، چې ټولو وګړیو ته له طبیعي حقوقو ګټنه شونې شي.

لنډه داچې، په هره ټولنه کې یوخوا، ډېر شمېر کونډې شته، چې وداه ته اړتیا لري او غواړي یې او که واده ونکړي؛ نو شونې ده فساد ته لار ومومي.

بلخوا، د چمتو مجردو نارینه و شمېر دومره نه دی، چې له دې کونډو سره واده وکړي؛ ځکه دوی غوره بولي، چې له پېغلو سره واده وکړي، چې کافي هومره هم شته؛ نو واده ته د اړمنو کونډو ستونزه څنګه هوارېږي؟

یا باید فساد، جنسي ازادي او ناوړه اغېزې یې تجویز کړو؛ لکه چې لویدیځ دا لار خپله کړې یا ګڼ ښځي تجویز کړو، چې اسلام منلی دی.

اسلام ددې ستونزې هواري ته، د کونډو پر ګټه او د ټولنیزو مفاسدو او جنسي انحرافاتو مخنیوي ته ګڼ ښځي تجویز کړې ده.

د ګڼ ښځې یو بل لامل، د نارینه د مېرمنې شنډتوب یا رنځوري ده. که ښځه یو مخې شنډه وي یا پر ناعلاجه رنځورۍ اخته وي، چې اولاد یا بیا دوه ځانیتوب ورته زیایمن وي او سړی د اولاد اړتیا احساس کړي، عقل او وجدان سړي ته حق ورکوي، چې بل واده وکړي.

دغسې که ښځه رنځوره وي او له مېړه سره کوروالی کولای نشي نو مېړه ته بل واده یوه اړتیا شمېرلیږي.

ددې ستونزو هواري ته یا باید لومړی مېرمن طلاق کړي یا له هغې سره سره دویم وداه وکړي او دویمه ټاکنه، د ښځو پر ګټه ده.

ددې په پامنیوي، چې د واده مهمه ګټه، آرامي او کورنۍ مینه ده، یوښځي پر ګڼ ښځې غوره ده.

اسلام هم نارینه نه هڅوي چې یوازې شهوتپالنې ته نوی واده وکړي، او کورنۍ مینه او ارامي د څو دقیقو خوند اخستو ځار کړي. که اسلام د نوي وداه تجویز کړی؛ نو د یوې ټولنیزې اړتیا له مخې او د کونډو له حقوقو د ملاتړ لپاره یې کړی دی.

په دې باب اوضاع او د وخت شرایط، ځای، ټولنې، د وګړیو موقعیت او امکانات توپیر لري، چې که له وګړیز او ټولنیز پلوه یې څه اړتیا نه درلوده؛ نو یوښځې پر ګڼ ښځۍ غوره دی او که په کومه ټولنه کې د ګڼ ښځۍ اړتیاوه یا کوم ځانګړي تن یا سړیو ته لازم وه؛ نو باید نارینه او ښځې ددې اړتیا په پوره کولو کې همکاري وکړي.

کوم نارینه چې ددې منظور لپاره نوی واده کوي، باید خپل وټیز او بدني امکانات هم په پام کې ونیسي او که د دوو کورنیو د تنظیمولو او اداره کولو شونتیاوې نلري؛ نو باید تېر ترې شي. بیا موضوع له خپلې مېرمنې سره اوڅار کړي او د نوي واده اړتیا ورته جوته کړي او د مېرمنو ترمنځ په عدل او انصاف کولو یې ډاډمنه کړي او په شونې لار یې راضي کړي.

د دغسې سړي مېرمن هم دنده لري، د وګړیزې یا ټولنیزې اړتیا د پوره کولو لپاره، ښندنه وکړي، احساسات او توند عواطف یوې خوا ته کړي، د خپله مېړه یا نورو کونډو ستونزې او اړتیاوې په پام کې ونیسي او تر ټولو وراخوا، د الله تعالی رضا په پام کې ونیسي او د خپل مېړه له مشروع غوښتنې سره موافقه وکړي.

نو که نوی واده، د مېړه او مېرمنې په تفاهم سره او سلامشوره وشي؛
نو دومره ستونزه نلري.

## د ګڼ ښځی شرایط

اسلام ګڼ ښځي تجویز کړې؛ خو شرایط یې ورته ایښي، چې عملي کول یې ډېر سخت دي:

۱- د دواړو کورنیو لګښت پوره کولو ته وتېزې شونتیاوې؛

۲- له دواړو مېرمنو سره کوروالي ته بدني ځواک؛

۳- بې له څه تبعیضه، په هر اړخیز ډول، د دواړو کورنیو ترمنځ پوره عدل او انصاف کول؛

الله تعالی په قرآن کریم کې وایي: نسأ (۴) – ۳ آیت:

په دې آیت کې یې، د نوي واده تجویز په دې شرط کړی، چې د عدالت او انصاف د نه کولو وېره به ورسره نه وي، چې په عمل کې دا یو ستونزمن چار دی.

ګڼ ښځی سړی موظف دی، د مېرمنو ترمنځ د نفقې د ډول او څرنګوالي په هومروالي مضاجعت، کوروالي او ان اخلاقي چلن کې مساوات او عدل او انصاف وکړي، که څه د عمر، ښکلا، بدرنګتوب، اخلاقي یا ټولنیز موقعیت یا نورو امتیازاتو او کمالاتو

له پلوه يې ترمنځ څه توپيرونه وي؛ خو مېړه دنده لري، په ټولو مواردو کې يو رنګ چلن ولري.
څرګنده ده، چې پوره عدل او انصاف کول، ډېر ستونزمن چار دی او ډېر لږ خلک ليدل کېږي، چې ډاډمن وي، چې د دغسې دندې پر ترسره کولو وسمن دي. قرآن کريم څرګندوي: که ډارېږئ، چې د څو مېرمنو ترمنځ به پر عدل او انصاف و نه چلئ؛ نو پر يوه ښځه بسياينه وکړئ؛ نوځکه، نوی واده يو ستونزمن او له مسووليته ډک چار دی، چې هر نارينه يې صلاحيت او وس نلري.

## په اسلام کې طلاق

اسلام، په ځانګړیو شرایطو کې د مېړه او مېرمنې طلاق او بېلتون تجویز کړی؛ خو دا یې یو ناکاره او کرکجن چار بللی او په احادیثو کې رټل شوی دی.

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «د الله تعالی هغه کور ښه ایسي، چې واده پکې وشي او هغه کور یې بد ایسي چې طلاق پکې رادبره شي، د الله تعالی په نزد تر طلاق بد څیز نشته[1]»

«په حلالو چارو کې، تر طلاقه بدتر چار نشته او د الله تعالی هغه نارینه ښه نه ایسي، چې ډېر طلاق ورکوي او ښځې کوي[2]»

«چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم خبر شو، چې ابوایوب خپله مېرمن طلاقوي، و یې ویل: د ام ایوب طلاقول ګناه ده[3]»

امام محمد باقر رحمة الله علیه، له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي: «جبرئیل دومره د ښځې په اړه سپارښتنه راته

---

[1] وسائل ۲۲/ ۷مخ.

[2] وسائل ۲۲/ ۸مخ.

[3] وسائل ۲۲/ ۸مخ.

وکړه، چې گومان مې وکړ، طلاقول يې جايز نه دي؛ خو چې ښکاره فحشا وکړي[1]»

امام صادق ويلی: «واده وکړئ؛ خو طلاق مه ورکوئ؛ ځکه پر طلاق د الله تعالی عرش لړزيږي[2]»

رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم ويلي: « الله تعالی ته په مباحاتو کې؛ نکاح ډېره گرانه او طلاق يې خورا بدايسي[3].»

طلاق د اسلام له نظره، يو ډېر ناوړه چار دی، چې بايد د شونتيا تر بريده، ډډه ترې وشي؛ ځکه د الله تعالی عرش پرې لړزيږي؛ خو د ځينو لاملونو له مخې حرام شوی نه دی او سخت نهې شوی دی.

د طلاق مخنيوي ته، له لاملونو سره يې سخته مبارزه شوې، چې ځينو ته يې اشاره کيږي:

۱- د طلاق يو له لاملونو، خپلې مشروع مېرمنې ته د مېړه شوق نه کېدل او پر پردیو ښځو د سترگو ورتېومبل دي. يو له مهمو لاملونو

[1] مکارم الاخلاق۱: ۲۴۸مخ.

[2] مکارم الاخلاق ۱: ۲۲۵مخ.

[3] مستدرک الوسائل: ۱۵/ ۲۸۰مخ.

يې، د ښځو بې ستري يا بد ستري او پر پردیو ښځو، د نارینه د سترګو ټومبل دي.
چې کله په کوڅه او واټ کې د نارینه سترګې، پر هغې ښځې ولګېدې، چې تر خپلې مېرمنې يې ښکلې او راښکوونې وه؛ نو شونې ده، ورمات شي او له خپلې مېرمنې سوړ زړی(دل سرد) شي، چې کور ته ورستون شي؛ نو په نیوکو او پلمو ژوند تریخوي او په پای کې خبره طلاق ته رسي.
اسلام ددې پېښې مخنيوي لپاره، یو خوا مېرمنو ته سپارښتنه کوي، چې ستر وکړي او خپلې ښکلاوې دې پردیو نارینه و ته نه ورښکاره کوي او بې له خپل مېړه دې ځان نه سینګاروي، بلخوا نارینه و ته سپارښتنه کوي، چې نامحرمو ښځو ته و نه ویني او له ټوکو او ورسره په پسته ژبه، له خبرو کولو ډډه وکړي.
که په نامحرمې يې سترګې ولګېدې، نه دې يې ځاري او بې درنګه دې خپلې سترګې ترې واړوي.
۲- د طلاق دویم لامل، یو بل ته د مېړه او مېرمنې سوړزړي او د دوی د جنسي غریزې نه مړېدل دي. ډېری طلاقونه او بې لارېتوبونه، ددې له لامله دي، چې د مېړه يا مېرمنې جنسي غریزه ښه نه مړېږي.

اسلام ددې پېښې مخنيوي ته مېرمنو ته سپارښتنه کوي، چې خپلې ښې جامې دې په کورونو کې واغوندي، د مېړه د خوښې له مخې دې ځان سينګار کړي. همدغسې نارينه و ته سپارښتنه کوي، چې ځان پاک وساتي، خپل وېښتان سم او په کور کې ښکلي وسي. بلخوا مېړه او مېرمنې دواړو ته وريادوي، چې د کوروالي او خوند اخستو پرمهال، يوازې د خپلې غريزې د مړولو او خوند اخستو په خيال کې نه وي؛ بلکې د مقابل لوري خوند اخستنه او د غريزې مړول دې يې هم په خيال کې وي.
۳- درېيم لامل يې د مېړه يا مېرمنې بد چلن، نيوکې، پلمې، لانجې او ځېلونه دي. شمېرنې ښيي چې د ډېرى طلاقونو مهمترين لامل، د مېړه او مېرمنې اخلاقي ناسازګاري وه.
اسلام ددې پېښې مخنيوي او د کورني بنسټ ټينګښت ته، هر يو مېړه او مېرمنې ته دندې او حقوق ورپه ګوته کړي او ورباندې يې عمل ترې غوښتى، پردې سربېره، سپارښتنه يې کړې، چې له ځانمنځى، استبداد او ځېله ډډه وکړي، زغم او پراخه سينه ولري او د سليقو اختلاف دې په عقل او انصاف هوار کړي.
د مېړه او مېرمنې اخلاقي دندې، د اخلاقو په کتابونو کې څېړل شوي چې ځينو ته يې اشاره وشوه.

۴- بل لامل چې اسلام د مېړه او مېرمنې د اختلافاتو هواري او د طلاق مخنيوي ته په پام کې نيولی، د دوو منځګړو ټاکل دي: چې يو د مېرمنې له کورنۍ او بل د مېړه کېدای شي، چې منځګړي يې خپلوان يا پردي وي.

قرآن کريم وايي: نساء (۴) – ۳۵ آيت:

منځګړي پخلاينې ته غونډه جوړوي او مېړه او مېرمن پکې ګډون ته رابولي او اختلافات پلټي، په ځيرنه او انصاف يې خبرو ته غوږ دي، حق يې چې په هر لوري کې وموند، په مينه يې بل ته وريادوي، هر يو ته خپله دنده ور پر ګوته کوي. ورپسې يې زغم، تېرېدنې، د مېړه او مېرمنې ګډو دندو او د واده د سپېڅلي بنسټ په ټينګولو کې هڅو ته رابولي او د اختلاف او بېلتون له ناوړو پايلو يې خبروي او په دې توګه يې ترمنځ سوله راولي.

ناويلي دې نه وي، چې د اسلامي منځګړيو سوله، له هغه جوړجاړي سره ډېر توپير لري، چې د قانون په زور رامنځ ته کېږي. قانوني سوله د دوو ګډونوالو يا دوو ګاونډيانو يا دوو دښمنو لوريو ترمنځ سوله ده، چې ملزمېږي، يو د بل پر حقوق تېری ونکړي؛ خو اسلام چې په منځګړو کومه سوله راولي، د قانوني الزام پر مانا نه؛ بلکې د زړګنيو رخو لرې کونه، له بېخه د

اختلافاتو را ایستل، د تفاهم او پخلاینې رادبره کول، د کورنۍ
مینې ټینګول او د مېړه او مېرمنې د اړیکو عادي کول دي.
هر چا ته پر لومړۍ سولې، ددې جوړجاړي امتیاز څرګند دی؛
خو که منځګړي تر څېړنو او لازمو اقداماتو روسته دې پایلې ته
ورسېدل چې ترمنځ اختلافات یې ډېر ژور دي او د ګډ ژوند د
مینې لمبې یې پوره مړې شوې او پخلاینې ته یې هڅه هیله نشته،
ان که د زغم او تېرندنې سپارښتنه هم ورته وشي؛ نو په داسې حال
کې، مېړه او مېرمن پر خپل حال پرېږدي، چې یو له بله جلا او د
طلاق سپارښتنه ورته کوي.
۵- د مهر ورکونه هم یو لامل دی، چې د طلاق مانع کېدای یا یې
ځنډولای شي. مېړه که له وړاندې د خپلې مېرمنې مهر ورکړی
وي، حق نلري، بېرته یې ترې واخلي او که ورکړی یې نه وي؛ نو
دنده لري، د طلاق پرمهال یې پوره ورکړي.
قرآن کریم وایي: نساء (۴): ۲۰- ۲۱ آیتونه:
مهر، د ښځې شرعي او قانوني حق دی او له هرې شونې لارې یې
تر لاسه کولای شي او که مېړه یې نغد ورکړی نه وي، باید د طلاق
پرمهال یې ورکړي؛ نو که مهر، ملک یا د پاموړ پیسې وي؛ نو تر

یوه بریده، د طلاق مخه نیوای شي، په تېره په تشلاسو یا نشتمنو وګړیو کې.
٦- د طلاق د مخنیوي یو بل لامل، د اولاد روزنه او ساتنه ده، چې دا دنده د مېړه پر غاړه ده، که د کورنۍ وضع عادي وي؛ نو مېرمنې د اولادونو د روزنې ډېر مسوولیت پر غاړه اخلي، چې په پایله کې، نارینه فرصت لري، کار وکړي او د کورنۍ لګښت پوره کړي.
خو که په طلاق سره جلا شي؛ نو د اولادونو پالنه، د نارینه تر غاړې کېږي او ددې دواړو مسوولیتونو پېټی کېدل، ډېر ستونزمن چار دی.
پردې سربېره، اولادونه مور ته اړتیا لري، چې پلار دا تشه ډکولای نشي؛ له همدې لامله، که پلار ښه غور وکړي او د طلاق ناوړې پایلې او ستونزې وڅېړي؛ نو غالبا له طلاق ورکولو لاس اخلي.
نوځکه د اولادونو شتون او پالنه یې د کورنۍ د پایښت او د طلاق له موانعو شمېرلای شو.
٧- بل لامل یې، د دوو تنو عادلو شاهدانو شتون دی. اسلام په دې شرط سم بولي، چې د طلاق د صیغې په اجرا کولو کې دوه تنه عادل شاهدان حاضر وي؛ ځکه په سموالي کې یې، د طلاق د صیغې سم اجرا کول شرط شوي، چې دا چار د هر چا له وسې

پوره نه دی. بلخوا، باید د صیغې د اجرا پرمهال، دو تنه عادل شاهدان حاضر وي، چې د طلاق صیغه واوري او عندالزوم شهادت ورکړي.

ددې په پامنیوي، چې د طلاق د صیغې مجري ته لاسرسی او د دوو تنو عادلو شاهدانو شتون هومره اسان چار نه دی او وخت ته اړتیا لري؛ نو سړی په طلاق کې له بېړي کولو څنډه‌وي.

په دې وخت کې شونې ده، د نارینه عقل سر ته راشي، غوسه یې سړه او ځېل یې را ټیټ شي او د طلاق په ناوړو پایلو او په گانده کې د بېلابېلو ستونزو په اړه یې ښه غور وکړي او له طلاق ورکولو لاس پر سر شي. په دې باب دوستان خیر غواړي مشاوران هم مرسته ورسره کولای شي.

تردې ټولو شرایطو روسته، بیا د صیغې مجري عالم او دوه تنه عادل شاهدان سم له لاسه طلاق نه ورکوي؛ بلکې هڅه کوي اختلافات یې لرې او پخلا یې کړي او د لزوم په بڼه کې، بیا هم طلاق وځنډوي، چې عاقبت اندنې او لاس پر سر کېدو ته یې ډېر فرصت ولري.

داچې اسلام، د طلاق مخالف دی؛ نو له هرې شونې لارې هڅه کوي له پېښېدو یې مخه ونیسي.

۸- طلاق چې له ټولو شرایطو او د پړاونو تر وهلو روسته ترسره شو؛ نو اسلام بیا هم پای ته رسېدلی نه بولي؛ بلکې یو وخت یې د «عدت[۱]» په نامه ټاکلی او په رجعي طلاق کې نارینه ته اجازه ورکوي، چې تېر واده ته ورستون شي؛ بې له دې چې نوي مهر او صیغې ته څه اړتیا وي.

اسلام هومره د واده ساتنې او پایښت ته پاملرنه لري، چې ان تر طلاق روسته او د عدت پرمهال نارینه ته فرصت ورکوي، چې ښه غور وکړي او د لېوالتیا په بڼه کې تېر واده ته رجوع وکړي.

## د طلاق د تشریع فلسفه

شونې ده، څوک د طلاق د تشریع په اړه نیوکه وکړي:

که په رښتیا طلاق د اسلام د شارع نه خوښېده؛ نو ولې یې حرام نه کړ؟ حلالوالی څنګه له ناخوښۍ سره یو ځای کولای شو؟ ولې اسلام طلاق روا کړ او فلسفه یې څه ده؟

---

[۱] د رجعي طلاق عدت دادی: د طلاق د پېښېدو له وخته، تردې چې ښځه درې ځل میاشتېنۍ شي.

په ځواب کې وايو:

په عين حال کې چې طلاق يو ناوړه چار دی؛ خو په ځينو وختونو کې يوه اړتيا ده، چې مخه يې نيوای نشو؛ لکه د بدن د يوه غړي پرې کول، يو دردناک او ناوړه چار دی؛ خو په ځينو مواقعو کې د غړي پرېکول، يوه اړتيا او د انسان پر مصلحت دي؛ لکه چې د سرطان رنځورۍ په باب ده. که مېړه او ښځې ته د واده غځېدا، دردناکه او د زغملو نه وي او بې له طلاقه يې بله لار نه وي؛ نو طلاق د حل غوره لار ده.

يو ځای يې دادی چې د نارينه د مينې لمبې يو مخې مړې شوې وي او اصلاً خپله مېرمن يې نه خوښېږي؛ نو په دغسې حال کې د ګرانښت او جاذبيت له مقامه لوېدلې او د کورنۍ بنسټ ړنګ شوی دی؛ په کوم کور کې چې مينه نه وي؛ نو سوړ، تياره او وحشتناک دی؛ نه يوازې مېړه او مېرمنې ته د ارامۍ ځای نه دی؛ بلکې يو تياره او سوځنده زندان دی.

زوجيت او واده يو طبيعي پيوند دی، چې د نارينه او ښځې ترمنځ تړل کېږي او له ټولو ټولنيزو تړونونو؛ لکه بيع، اجارې، کرايې، سولې او شرکت سره پوره توپير لري.

دا یوازې ټولنیز او اعتباري تړونونه دي، چې طبیعت او غریزه پکې دخالت نلري، د واده پرخلاف، چې یو طبیعي پیوند دی او په طبیعت او د مېړه او ښځې په غریزو کې جرړه لري او له طبیعي غوښتنو راولاړېږي.

واده د نارینه او ښځې له یو ډول دننني جاذبې، یووالي، نښلون او هم زړتوب ته له ورماتېدو او لېوالتیا رامنځ ته کېږي.

دا جذب، د مېړه او مېرمنې په طبیعت کې په دوو بېلابېلو ډولونو ایښوول شوی دی:

د نارینه له لوري، د عشق او خوښېدا، غوښتو او د ښځې د خاوندېدو په بڼه دی او د ښځې له لوري، د ځان سینګارونې، د زړه اېلولو او د نارینه د زړه تر لاسه کولو په بڼه دی.

نارینه غواړي خپله محبوبه تر لاسه کړي؛ خو ښځه غواړي، د مېړه محبوبه وي او زړه یې تر لاسه کړي. د کورنۍ بنسټ، پر همدې دوو بنسټونو ایښوول کېږي.

نو که زوجین خپلو دننیو غوښتنو ته ور رسېدلي وي؛ نو کورنۍ په زړه پورې ده؛ نارینه خپلې کورنۍ ته هیلمن دی او په سوکالۍ کې یې ښندنه کوي، ښځه هم بریالۍ او نېکمرغه بولي او په کورنیو چارو او اولادولۍ کې د ښندنې تر بریده هڅه کوي.

خو که نارینه خپله قانوني مېرمنه نه خوښېده او له لیدو او ورسره له ناستې پاستې کرکجن او بېزار و او ښځې هم احساس کړه، چې د ګرانښت له مقامه رالوېدلې او د مېړه یې ښه نه ایسي؛ نو په دغسې حال کې کورنۍ خپل دوه بنسټیز ارکان له لاسه ورکړي او ویجاړه شوې شمېرل کېږي.

مېړه او مېرمن ته په دغسې سوړ او ویجاړ چاپېریال او کورنۍ کې وسېدل، ستونزمن او دردوونکي دي او غځېدا یې د یوه بر ګټه هم نه دي؛ نو په دغسې شرایطو کې اسلام سره له دې چې طلاق یې نه خوښېږي، د حل غوره لار یې بولي؛ نوځکه په دغسې ځایونو کې د طلاق تشریع ده.

بل ځای یې، اخلاقي ناسازګاري ده؛ که مېړه او ښځه اخلاقي توافق نه لري او دوه ګونې اندنه لري؛ دواړه ځانمني، کینه کښ او ځېلي دي، شپه و ورځ پر شخړو اخته وي او د چا نصایحو او لارښوونو ته غوږ نه نیسي، بیخي خپل ځانونه نه سموي او نه په خپلو حالاتو کې ادلون بدلون راولي؛ نو په دغسې یوه کورنۍ کې وسېدل، ډېر سخت او دردناک دي او غځېدا یې نه د ښځې پر ګټه دي او نه نارینه؛ نو په دغسې ځایونو کې هم طلاق غوره حل لاره ده او اسلام روا کړی دی.

نوځکه طلاق په ځینو ځایونو کې یو ټولنیزه اړتیا او د هواري غوره لاره چاره ده او منع کې خو د طلاق قانون مطلق دی او هوسي نارینه و ته مخه پرانځي، چې په لړه پلمه خپله مظلومه مېرمن، چې ځواني یې ددې بې وفا سړي په کور کې تېره کړې، طلاقه کړي او د خپلې مینې له ځالې یې وباسي او تر څه وخت روسته بله ښځه وکړي، ایا دغسې طلاق پر ښځه ظلم نه دی؟
په ځواب ویل کېږي:
اسلام په ټینګه له هوسي چارو او ناځوانمردانه طلاق سره مخالف دی او له لاملونو سره یې سخته مبارزه کړې او د طلاق مخنیوي ته یې داسې شرایط، او موانع او مقررات ایښي، چې تر شوني بریده یې مخنیوي کوي؛ خو که په هر دلیل ښځه د ګرانښت له مقامه راپرېوته او د مېړه بده ایسېده؛ نو څه باید وکړو؟ ښځه احساسوي چې مېړه ته ګرانه نده او بده یې ایسي، چې دغسې دردناکه پېښه، د ښځې ستر سپکاوی، تعذیب او ځورونه ده. ایا سمه ده چې دغسې یوه ښځه د قانون په زور په کور کې وساتو او له بېلتونه یې مه ونیسو؟
ښځه د قانون په زور په کور کې ساتلای او مېړه یې د نفقې په ورکولو اړ ایستای شو؛ خو محبوبیت او ګرانښت ورته پنځولای

نشو، چې د مېړه او مېرمنې ترمنځ د ژوند بنسټ دی، دلته هم اسلام سره له دې چې طلاق يې نه خوښېږي، د حل غوره لار يې بولي. شونې ده څوک ووايي: که طلاق په ځينو ځايونو کې اړتيا او د حل خورا غوره لار وي؛ نو ولې يې په نارينه پورې ځانګړی کړی او ښځې ته د طلاق حق ورکړل شوی نه دی؟

ځکه همدا احتمالات د ښځو په اړه هم شته. شونې ده د ښځې خپل مېړه ښه نه ايسي او له ګډژونده کرکجنه وي، په دغسې ځای کې هم ويلای شو چې:

داچې مينه نشته، عملا کورنی ژوند پای ته رسېدلی انګېرل کېږي او بايد ښځې ته حق ورکول کېده، چې خپل مېړه طلاق کړي او د واده پای اعلان کړي.

په ځواب کې ويل کېږي:

د ښځې بې مينېتوب د کورني ژوند پای انګېرولای نشو؛ بلکې دا د مېړه او مېرمنې د ګډو دندو او د ښځمنۍ په باب د مېړه د قصور، تقصير يا لنډون يوه نښه ده؛ ځکه د ښځې د مينې کونجي له مېړه سره ده، که مېړه ته واقعا خپله مېرمنه ګرانه وي او سخته مينوال يې وي او په اړه يې پر خپلو دندو عمل وکړي، خپل اخلاق او چلن

ورسره سم کړي، ښځه هم غالبا هيلمنه او مينواليږي او هڅه کوي، هماغسې يې د نارينه زړه په واک کې وي.
نوځکه، که ښځه مېړه ته بې مينې وي؛ نو دا د مېړه د قصور يا تقصير نښه ده.
په داسې حالت کې طلاق ته څه اړتيا نشته؛ بلکې مېړه بايد د مېرمنې په اړه له خپلو دندو سره اشنا کړو، چې په خپلو ويناوو، چلن او اخلاقو کې له سره کتنه وکړي او په هرې شونې لار، د خپلې مېرمنې زړه تر لاسه کړي او هيلمنه يې کړي.
شونې ده وپوښتل شي:
که مېړه خپله مېرمنه وهي يا يې نفقه نه ورکوي يا سختي ورسره کوي يا کوروالی ورسره نه کوي، يا يې ځوروي، يا يې کنځي او ان له طلاقولو يې هم ډډه کوي؛ نو په داسې حالاتو کې د ښځې مکلفيت څه دی؟ ايا وايئ: بايد تر مرګه صبر وکړي او وسوځي او سازش وکړي؟ ولې په دغسې ځايونو کې ښځې ته د طلاق حق ورکړای شوی نه دی، چې ځان له دغسې درد ناک زندانه وژغوري؟
په ځواب کې ويل کيږي:

اسلام د عدل او انصاف پر ستن او د وګړیو د حقوقو په رعایتولو ولاړ دی او کله هم د مېرمنې په باب د خپل مېړه ناوړه او ظالمانه چلن روا نه بولي او نه یې تاییدوي؛ بلکې سخت مخالفت یې ورسره کړی او د ښځې له حقوقو دفاع کوي. ښځه په دغسې ځایونو کې منځګړیو ته ورځي او ترې غواړي چې مېړه ته یې نصیحت وکړي، عدل و انصاف ته یې راوبولي او د مېرمنې په اړه یې د خپلې دندې عملي کولو ته اړ کړي. که په دې چار کې یې توفیق ومونډ، خپل ژوند غځوي او که د حق له منلو یې ډډه وکړه؛ نو خپل شکایت د اسلام شرعي حاکم یا د کورنیو نیاوتون ته وروړي. شرعي واکمن متجاوز مېړه حاضروي او ترې غواړي، له تېري لاس پر سر شي او پر خپلو دندو عمل وکړي او که یې و نه منله؛ نو پر طلاق ورکولو یې ملزموي او که ډډه یې وکړه؛ نو خپله شرعي حاکم طلاق ورکوي او له مېړه یې حق اخلي.

## د حجاب فلسفه

د اسلام یو پرېکنده حکم، ستر کول دي؛ خو مهمه پوښتنه داده چې د حجاب فلسفه څه ده او ولې اسلام د حجاب په تشریع سره، له ښځو دا ازادي لرې کړې، ایا دا ظلم نه دی؟
په ځواب کې باید ووایو:
د حجاب له تشریع نه د اسلام موخه؛ د کورنۍ د سپېڅلي بنسټ ټینګول، د جنسي بې لاریو او ترې د راولاړو شویو ناوړو پایلو مخنیوی، د ټولنیز امنیت خوندیینه، د چاپېریال له پاکونې سره مرسته او د اخلاقي مفاسدو راټیټول دي او دا دومره محدودیت نه یوازې د ښځو پر زیان نه؛ بلکې د ښځو، اولادونو، مړونو او د ټولنې د نورو وګړیو پر ګټه هم دی.
د مطلب د سپیناوي لپاره د سریزي په توګه څو ټکیو ته اشاره کیږي:
لومړی ټکی:
ددې په پامنیوي چې ښځه او نارینه د ټولنې دوه مهم ارکان دي او تر ډېره بریده، د دوی وګړیزه نېکمرغي، ارامي او سوکالي د چاپېریال په پاکۍ، امنیت او سلامتۍ پورې تړاو لري، چې دا چار

په خپله د همدوی پر غاړه ورایښوول شوی او باید په دې باب
ګډې هلې ځلې وکړي.
دویم ټکی:
ښځه یو ظریف او لطیف موجود دی او په طبیعي ډول یې
سینګار، ښکلا، تجمل، ځانښوونه او دلبري خوښېږي او په خپل
جاذبیت، د نارینه و زړونه اېلوي؛ خو نارینه یو غوښتونکی او
تنوع طلبه موجود او د جنسي غریزې په اړه پوره بېوسې او
کمزوری دی. سملاسي یې جنسي غریزه راپارېږي او کابو کول
یې له لاسه وځي او ددې سرغړاند ځواک د راپارونې پرمهال یې
ان عقل، قانون او دین هم غالبا له کابو کولو بېوسي دي.
نارینه په تېره ځوان ته، د ښځې هر څه راپاروونکي دي:
د ښځې ښکلا، ښکلې جامې، نازک غږ ، نازو نخرې، غړي او ان
د بدن تودوخه یې، دا سرغړانده غریزه راپاروي.
درېیم ټکی:
په ټولنه کې، پرېمانه ځوانان او نارینه شته، چې د نشتمنۍ،
تشلاسۍ، بېکارۍ، کم درآمدۍ، د زده کړو دوام او یا په هر بل
دلیل واده نشي کړای. دوی چې د ځوانۍ په کړکېچ او د جنسي
ځواک د سرغړونې په پړاو کې دي، څه لږ خو نه دي او دا حالت

يې نالیدی ګڼلای نشو؛ ځکه د همدې مور و پلار اولاده او د همدې ټولنې له وګړیو څنې دي.
د تېر مطلب په پامنیوي، اوس دا پوښتنه اوڅاربږي، چې د ښځو مصلحت او ګټه په څه کې ده؟ بې بندوبارۍ او مطلق ازادۍ یا ستر کول او د څه محدودیت زغمل؟
سم ځواب پوهېدو ته، لازم دي دوه فرضي ټولنې وڅېړو او د هرې یوې ښوالی او بدوالی پرتله کړو.
۱- په دې ټولنه کې، ښځې د جامو اغوستو او ناستې پاستې له پلوه، د نارینه و په څېر پوره ازادي لري. د خپلې طبیعي لېوالتیا د مړولو لپاره په ځانښوونې او ښکلا، ځان سینګاروي، څه بربنډه، په رنګارنګ ښکلو جامو له کوره وځي او په کوڅه، بازار، واټ، دفتر، پلورنځي، پوهنتون، ښوونځیو، روغتون او غونډو کې په پوره ازادۍ له پردیو نارینه و سره ناسته پاسته او خبرې اترې کوي. په نیم بربنډ بدن او نازونخرو د پردیو نارینه و زړونه وړي او چېرې چې ځي، یوه قافله زړونه له ځان سره وړي. که مېړه نلري په مطلقه ازادۍ تر پخې شپې په سینماګانو، کابارو، د نڅا په غونډو، پارکونو او پر واټونو په چکر تیروي او که مېړه ولري؛ نو یا ورسره یا یوازې، د ازادۍ په پلمه هر ځای ته ځي.

په دغسې ټولنه کې، هلکان او نجوني په ناسته پاسته، ملګرتیا او ان جنسي اړیکو کې ازاد دي او نارینه هم له پردیو ښځو سره په ناسته پاسته کې ازاد دي او هر ډول ساتیری ته یې مخه پرانستې وي؛ خو په دغسې تولنې کې چې د ښځو او نارینه و دا حال وي؛ نو دا ډول ازادۍ لاندې پایلې لري:

د کورنیو د سپېڅلي بنسټ لړزېدل، له کور او کورنۍ سره د ښځې او نارینه بې غوري، یو پر بل د ښځې او مېړه بدګوماني او د پولیس په څېر یو د بل څارل، شخړې او کورنۍ لانجې، د حرمونو او کوڅه ډبو ماشومانو ډېرښت، د اروايي رنځوریو زیاتوالی، ځان وژنه، جنایت او وژنې ډېرېږي، د نامړوښو ښځو نجونو او بې ښځو هلکانو شمېر ډېرېږي، د واده د عمر ځنډېدل، هلکان او نجونې کورني جوړښت ته بې غورېږي، ځوانان ډول ډول اخلاقي مفاسدو او جنسي بې لاریو ته ورماتېږي، د طلاق او بېلتون شمېر زیاتېږي، د هغو نارینه و او ښځو شمېر زیاتېږي چې یوازې ژوند تېروي.

ایا دغسې ټولنې، د ښځو، نارینه و او ځوانانو پر ګټه دي؟ که اومه احساسات یوې څنډې ته کړئ او ښه غور وکړئ، په یقین ځواب به مو منفي وي.

۲- په دې ټولنه کې، ښځې د ژوند په ډګر کې فعال حضور لري د شونتیاوو او انډول په رعایتولو سره یې، بوختیاوې منلي او دندې ترسره کوي. په ښوونځیو، لېسو، پوهنتونونو، څېړنیزو مرکزونو، روغتونونو، زېږنتونونو، درملتونو، لابراتوارونو، د قانون جوړونې په غونډو، وزارتونو او نورو مهمو او مناسبو ځوکیو کې، د نارینه و په څېر فعاله ونډه لري او بې له لاسونو او مخ پوره ستر کوي، په ټولنه او کار ځای کې ځان نه سنګاروي، ساده او په ستر کې، له کوره وځي او ځان سینګارول یې یوازې خپل مېړه ته ورځانګړې کوي.

دا محدودیت یې په خپله خوښه او ښندنې منلي، چې د ټولنې چاپېریال یې د فساد او بې لارېتوب له لاملونو، پاک وي او دا چلن د هغو ځوانانو او نارینه و د حالاتو د رعایتولو په پار کوي، چې د واده وس نلري، دوی ستر کوي، چې هسې نه د پردیو نارینه و سترګې پرې ولګي او له خپلو مړونو سرزړې شي او په نیوکو او پلمو، د کورنۍ میناک مرکز، د شخړو او لانجو پر ډګر واوړي.

دا محدودیت مني، چې زلمیان او پېغلې – چې د همدې مېرمنو اولاده ده- له فساد او جنسي بې لارېتوبونو او د اعصابو له خرابۍ

او غوسې خوندي پاتې شي او په مناسبه موقع کې او د شونتياوو په چمتو کېدو سره، واده وکړي او کورنۍ جوړه کړي.
هو، دا محدوديت مني، چې د کورنيو بنسټ – چې په خپله هم له همدوی څخه ده- له پياوړي کولو سره مرسته کړې وي او د طلاق د شمېر، يوازې ژوند، کوځه ډبو او پرېشانه کوشنيانو شمېر يې راټيټ کړی وي.
په دې ټولنه کې، کورنۍ ميناکې او د مېړه او ښځې اړيکې نسبتا ښه او اختلافات ډېر لږ دي. په ځوانانو کې په نسبي ډول اخلاقي مفاسد او جنسي بې لارېتوبونه لږ دي. ځوانان له واده او کورنۍ جوړولو سره مينوال وي. د طلاق شمېرنه او دومره ډېر مجرد نارينه او ښځې پکې نه وي، کوځه ډب او بې پالندوينې کوشنيان پکې ډېر لږ وي.
په دې ډول ټولنه کې، مور و پلار د خپلو ځوانانو په باب ډېر ډاډمن وي، چې پر اخلاقي مفاسدو او جنسي بې لارېتوبونو به اخته نشي.
ايا په دغسې يوې ټولنې کې وسېدل، د ښځو پر گټه ده که په ړومبۍ ټولنه کې؟
هو انديال انسان دويمنۍ ټولنه تر ړومبۍ غوره او روغه بولي.

اسلام هم په دويمه ټولنه کې ژوند غوره بولي؛ نوځکه يې د ستر حکم کړی او له ښځو يې غوښتي چې رعايت يې کړي او خپلې گانې او ښکلا له پرديو نارينه پټ کړي.
(۱) نور (۲۴- ۳۱ آيت)

رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم ښځې منع کړي، چې بې له خپلو مړونو دې نورو ته ځان نه سينگاروي:
«څوک چې بې له خپل مېړه بل ته ځان سينگار کړي؛ نو وړ ده چې الله تعالى يې د دوزخ په اور وسوځوي[1]»
امام محمد باقر رحمة الله عليه وايي: «چې ښځه له کوره وځي؛ نو نه ښايي ځان خوشبويه کړي[2]»
« ښځې ته لازم نه دي له نامحرم نارينه سره روغبړ وکړي؛ خو د جامو تر شا[3]».
اسلام د ټولنې د چاپېريال پاکونې ته يوازې د مېرمنو لپاره حجاب تشريع کړی نه دی؛ بلکې نارينه و ته يې هم سپارښتنه کړې، چې سترگې به نه څروي او د نامحرمو ښځو له ليدو به سترگې پټوي.

---

[1] وسايل ۲۰/ ۲۱۲مخ.
[2] وسايل ۲/ ۲۱۲ مخ.
[3] وسايل ۲/ ۲۲۲مخ.

قرآن کريم وايي: نور (۲۴- ۳۰ آيت

امام صادق رحمة الله عليه ويلي: «نامحرم ته کتل، د شيطان له لوري يو زهرجن غشی دی او ډېر ځل يو وار کتل اوږد حسرت راولاړوي[1]»

« نامحرم ته ورکتل، د شيطان له لوري، يو زهرجن غشی دی، چې څوک يې د الله تعالی لپاره پرېږدي، د امن او ايمان خوند به وڅکي[2]»

«په کتو پسې کتل، په زړه کې شهوت پالي او د خاوند په فتنه اچولو کې يې کفايت کوي.[3]»

« چې د چا سترگې پر کو مې نامحرمې ولگېدې؛ نو سترگې دې اسمان ته واړوي يا دې يې پټې کړي، الله تعالی به په دې چلن په بدل کې، په جنت کې حورالعين ورکړي[4]»

---

[1] وسائل ۲۰/ ۱۹۱ مخ.

[2] وسايل۲۰/ ۱۹۲ مخ.

[3] وسايل ۲۰/ ۱۹۲مخ.

[4] وسايل ۲۰/ ۱۹۳مخ.

حضرت علي كرم الله وجهه ويلي: «نارينه دې له پردۍ ښځې سره خلوت نه كوي، چې په دې حال كې شيطان يې درېمګړی دی[1].»

موسى بن جعفر يې له پلرونو، له رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم روايتوي: « څوک چې پر الله تعالى او قيامت ايمان لري، پر هغه خلوتځي كې دې د شپې نه ويده كيږي، چې د نامحرمې ښځې د ساه ايستل اوري[2]»

رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم ويلي: «څوک چې له نامحرمې ښځې سره روغبړ وكړي، په قيامت كې يې لاس تړلی دوزخ ته ورغورځوي[3]»

« څوک چې له هغې ښځې سره ټوكې وكړي، چې مالک يې نه دی، الله تعالى به يې په قيامت كې د هرې كلمې په بدل كې زركلن بندي كړي[4]»

---

[1] مستدرک الوسائل ۱۴/ ۲۶۵مخ.

[2] وسايل ۲۰/ ۱۵۸ مخ.

[3] وسايل ۲۰/ ۱۹۸مخ.

[4] وسايل۲۰/ ۱۹۸ مخ.